# د نجونو خاطري




ليکوال: صابر چوهدري
ژباړه: وصي ابهام

واتساپ: 0779815770

# د نجونو خاطرې


لیکوال: صابر چوهدري

ژباړن: وصي ابهام

واتساپ: 0779815770

## د کتاب ځانګړنې

کتاب نوم: د نجونو خاطرې

لیکوال: صابر چوهدري

ژباړن: وصي ابهام

د ژباړې چارې: اوستا د ژباړې مرکز

کمپوز او متن ډیزاین: وصي ابهام

د پښتي ډیزاین: طیب سکون

چاپ کال: ۱۴۰۰ هجري لمریز

چاپ شمېر: ۱۱۰۰ ټوکه

چاپ وار: لومړی

خپرندوی: شهباز خپرندویه ټولنه ـ جلال اباد

د چاپ حقوق له شهباز خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.

د ترلاسه کولو پتې:

عتیق الله نیازی د کتاب او قرطاسي پلورنځی،د لوگر ولایت مرکز. کابل پکتیا عمومي سرک د شاروالی مارکیټ، ۰۷۷۲۲۳۳۴۹۴

جدیدید مکتبه رشیدیه: جاده مېوند سر چوک مارکیټ مرحوم حاجي حی‌ین گل

کابل : اړیکو شمېرې ، ۰۷۷۵۶۸۱۶۰۶

پښتو اکیډیمي بک شاپ، پېښور یونیورستی:۰۳۱۲۰۰۹٤۹٤۰

زیب ارټ پبلیشرزمحله جنگي پېښور فون: ۲۱۹۱۰۲

فقیر بک ایجنسي، قصه خوانی پېښور۰۳٤٦٩٧٤٥٨٦٣:

روغانیوال خپرندویه ټولنه؛ اسحاقزی مارکیټ، لاندیني پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان. اړیکشمېرې: ۰۷۸۷۸۳۰۳۰۲ - ۰۷۷۲۹۹۴۰۴۰

شهباز خپرندویه ټولنه، د بزازی څلور لارې اسحاقزی مارکیټ دوهم بلاک دوهم پوړ لومړی دوکان

۰۷۹۷۹۲۰۰۰۸/۰۷۷۶۹۲۰۰۰۸/۰۷۸۷۸۸۶۸۱۶

واتساپ: 0779815770

بسم الله الرحمن الرحيم

واتساپ: 0779815770

## د نجونو خاطرې څه وايي؟؟

په نړۍ کې د ځان وژونکو هلکانو شمېر، د ځان وژونکو نجونو په پرتله ډېر دی. که وګورو، نو په ټوله نړۍ کې د ماتو شویو (ډیپرېس) نجونو شمېر بیا د هلکانو په پرتله ډېر دی.

د زړه ماتبدل که د ځان وژنې تر ټولو لوی علت دی، نو ولې ډیپرېس هلکان خپل ځان وژني او نجونې ژوندی پاتې کېږي. دا د یو ارواپوه په حیث وایم چې نجونې ځان په ظاهرې توګه ژوندی ساتي؛ خو دننه ځان وژني.

ډېر شمېر نجونې، نه یوازې زما کتابونه لولي او خوښوي یې؛ بلکې زما په خبره پوهېږي او مني یې هم. همدا علت دی ډېری نجونې چې په داخلي (اندرون) ډول مړې وي، د ژوند په لټه زما خواته راځي. ځینې خپله او ځینې بیا کوم خواخوږی راولي؛ خو د ژوند پلټونکې ډېر نجونې شته چې ماته نه شي را رسېدلی، نو د دې لپاره زه د خپلو لیکنو په واسطه هغوی ته د رسېدو کوښښ کوم، تر څو هغوی په داخلي توګه ژوندی پاتې شي.

صابر چوهدري

واټساپ: 0779815770

**په یاد ولرئ!!**

په ژوند کې اړیکه وي...

په اړیکه کې ژوند نه وي.

ډېر خلک په ناپوهي سره اړیکه خپل ژوند ګڼي

د اړیکې په ختمېدو، خپله ختمېږي

خو، یوه خبره ده؛

په ژوند کې مینه وي؛

په مینه کې ژوند نه وي.

په ژوند کې پېښه وي؛

په پېښه کې ژوند نه وي.

په ژوند کې درد وي؛

په درد کې ژوند نه وي؛

د دې هر څه په پای ته رسېدو ...

ژوند پای ته نه رسېږي.

واتساپ: 0779815770

# د لیکلو خیال پلو

ما غوښتل ولیکم خو!

چې زړښت ته راورسېدم، زما هیله وه. نه هیله نه وه، خوب و. نه خوب هم نه و. د هیلې او خوب الفاظو یوځای هم زما د غوښتنې اظهار ونه کړ. هغه څه شی دي؟ چې ته کومه هیله وپالې، اوبه درکوي. په سترګو د خوب لیدو پر ځای د چا په خوبونو سترګې ږدې. په یو کوچني کینوس لوی انځور جوړ وي. چېرته چې دې زړه وغوښتل، کور دې جوړ کړ. چېرته دې چې زړه په دیوالونو نقشې رسم کړې. څومره چې دې زړه و، کړکۍ دې همغومره لویې جوړې کړې او دروازه دې خلاصه پرېښوده کوم ځای کې چې دې خوښه وه غرونه دې جوړ کړل. کوم ځای چې دې زړه و، ونې. کوم ځای چې دې زړه و، د غرونو او ونو شاته دې نیم ښکار او نیم پټ لمر رسم کړ. لکه، څنګه چې دې خیال وي، په هغې کې د خپلې خوښې رنګونه او روښنایي کاروئ.

چېرته چې لیکل زما خیال و هلته، چېرته او کله؟ لیکل وکړم. دا هم زما په خیال کې و. ما درته وویل چې کله زړښت ته ورسېدم، بیا به یې لیکم. کله چې د وخت تېرولو لپاره زما سره هیڅ نه وي، ترې دې چې مینه هم نه وي.

د کړکۍ خواته ته، قلم او کاغذ په لاس، په تاویدونکې چوکۍ د قهوې څښلو پر مهال. د کړکۍ نه بهر د کتلو په حال کې. خپل د لرګي او تیږو څخه جوړ کور کې چې په غرونو کې جوړ دی، کېنم او ولیکم. هغه کور چې د کوم جهیل په غاړه وي. د داسې جهیل په غاړه چې د غرونو سره لګېدلی وي، چې بهر هیلی ګرځي. یو ٦ دقیقه ودرېږئ! تاسې نه پوهېږئ چې زه هیلی خوښوم!؟ نه!؟

ښه د دې مطلب خو دا دی چې تاسې زما په اړه هيڅ معلومات نه لرئ. هيلي ته خواړه ورکول ماته د خپلو خوړو نه هم ډېر خوند راکوي؛ خو ما بيا د زړښت نه مخکې ليکل پيل کړل. زما خيال و چې لفظونه د زخم جوړېدو او د ژوند بدلېدو توان لري؛ خو د ليکلو نه وروسته تاسې زما خيال په يقين بدل کړ. ما محسوس کړه چې شکر دی ما د ليکلو لپاره بوډاتوب ته صبر ونه کړ. په دې احساس کې دومره توان دی چې زه اوس د ليکلو لپاره د چاپېريال محتاج نه يم. ماته د لرګي کور، جهيل او د غرونو اړتيا پاتې نه شوه. که الوتکه وي يا بس، ټيکسي وي يا ريل ګاډی... ماته چې اوس هر چېرته فرصت پيدا شي، ليکل کوم، حتی د اختر په ورځو کې هم.

څومره چې تاسې زما ليکل خوښوئ، له هغې ډېر ليکل خوښوم. لومړی ما په زړښت کې ايکل کول غوښتل، اوس زه تر زړښت پورې نه، د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې ليکل کول غواړم. زه به همداسې ليکل کوم او تاسې ما لولئ.

واټساپ: 0779815770

# لړلیک


۱.. د نجونو په وړاندې ........................ ۱
۲.. منینه نجلۍ ........................ ۲
۳.. ترلې نجلۍ ........................ ۴
٤.. د مینې نشه کوونکې نجونې ........................ ۶
۵.. ناسم ریل ګاډي کې ناستې نجونې ........................ ۷
٦.. نښتې یا ښکېلې نجونې ........................ ۹
۷.. د مینې په نوم زهر ښېونکې نجونې ........................ ۱۱
۸.. پیتزا خوړونکې نجونې ........................ ۱۲
۹.. مخکې والي کونکي نجونې ........................ ۱۴
۱۰.حسن پرسته نجلۍ ........................ ۱۶
۱۱.جوړېدونکې (تعامل کونکې) نجونې ........................ ۱۷
۱۲.واریدونکې نجونې ........................ ۲۰
۱۳.ماتې شوې نجونې ........................ ۲۱
١٤.په تمه شوې انجونې ........................ ۲۴
۱۵.پام غلطونکې انجونې ........................ ۲۵
۱٦.انتظار کوونکې انجونې ........................ ۲۷
۱۷.د لسم ټولګي زده کوونکې ........................ ۲۹
۱۸.مرستندویه انجلۍ ........................ ۳۱
۱۹.آزاد خیاله انجلۍ ........................ ۳۳
۲۰.هوښیاره انجلۍ ........................ ۳۵
۲۱.ایسکریم ولا نجلۍ ........................ ۳۸
۲۲.برباده نجلۍ ........................ ۳۹
۲۳.پلاک شوې نجلۍ ........................ ۴۱
۲٤.د بیلتون نمانځونکې نجلۍ ........................ ۴۲

۲۵.وېره شتمنه نجلی ........................ ۴۳
۲۶.هلکان مه ګورئ! ........................ ۴۴
۲۷.بې ادبه نجلی ........................ ۴۵
۲۸.جذباتي نجلی ........................ ۴۶
۲۹.زهرجنه اړیکه جوړونکې نجونې ........................ ۴۷
۳۰.لوټ شوې نجونې ........................ ۵۰
۳۱.دویم نمبر نجونې ........................ ۵۳
۳۲.ژړېدونکې نجلی ........................ ۵۴
۳۳.شرمېدونکې نجونې ........................ ۵۶
۳۴.واده شوې نجونې ........................ ۵۷
۳۵.غولونکې نجونې ........................ ۵۹
۳۶.کوژدن سره خبرې کونکې نجلی ........................ ۶۰
۳۷.د کوژدې مسایل ........................ ۶۱
۳۸.هلکان چېرته پیدا کېږي! ........................ ۶۳
۳۹.بې شرمه نجونې ........................ ۶۳
۴۰.په خوبونو مئینه نجلی ........................ ۶۴
۴۱.په ټلیفون غږېدونکې نجلی ........................ ۶۵
۴۲.له نجونو نفرت ........................ ۶۸
۴۳.پیسه ورکونکې نجونې ........................ ۶۹
۴۴.ښایسته نجلی سره واده کول ........................ ۷۰
۴۵.د نجونو عزت ........................ ۷۱
۴۶.د ناسمو هلکانو نښې ........................ ۷۴
۴۷.د زهرجنو هلکانو نښې ........................ ۷۶
۴۸.ایا هغه درسره رښتونې مینه لري! ........................ ۷۷
۴۹.محتاجه نجلی ........................ ۷۸
۵۰.جذباتي واده کونکې نجونې ........................ ۸۰
۵۱. هلک او نجلی ملګرتیا ........................ ۸۲

۵۲. مخلصه نجلۍ ........................ ۸۲
۵۳. لیونۍ نجلۍ ........................ ۸۳
۵٤. ډرامې لیدونکې نجلۍ ........................ ۸۳
۵۵. د هلکانو زړه ........................ ۸۴
۵٦. بدل اخیستونکې نجلۍ ........................ ۸۵
۵۷. کمزورې نجلۍ ........................ ۸۵
۵۸. د نجونو ښېرا ........................ ۸۶
۵۹. په شکل (څېرې) غولېدونکې نجونې ........................ ۸۶
٦٠. غریبې نجونې ........................ ۸۷
٦١. د نجونو ساتنه ........................ ۸۸
٦٢. د مینې ټاپه لګونکې نجونې ........................ ۸۹
٦٣. یو طرفه مینه کې ښکېله نجلۍ ........................ ۸۹
٦٤. نورو ته ورور ویونکې نجونې ........................ ۹۱
٦٥. په پټه نکاح کونکې نجونې ........................ ۹۲
٦٦. دویم ځلې غولېدونکې نجونې ........................ ۹۴
٦۷. غولېدلې نجونې ........................ ۹٦
٦۸. په نشه مئینې نجونې ........................ ۹۸
٦۹. د خېلواکې ټولنې نجلۍ ........................ ۹۹
۷٠. د نجونو لالچ ........................ ۱٠٠
۷۱. د مینې په ازموینه کې ښکېلې نجونې ........................ ۱٠۲
۷۲. د آیفون والا نجلۍ ........................ ۱٠۷
۷۳. د پلازې والا نجلۍ ........................ ۱۱٠
۷٤. خواګمنه نجلۍ ........................ ۱۱۵
۷۵. د نجونو تشناب ........................ ۱۲٠

# د نجونو په وړاندې

یو ځل زه د سمینار لپاره د نجونو کالج ته لاړم، نو د سمینار نه وروسته د کالج مدیرې سره د چای څښلو پر مهال خبرې د اړیکو، میني او واده په اړه پیل شوې. په دې وخت کې د مدیر سره ناستې پروفیسرې په ټیټ غږ د هغې په غوږ کې وویل چې نجونې ولاړې دي، د خبرو موضوع بدله کړه. دلته به زه تاسې ته دا خبره هم وکړم، کومې نجونې چې هلته ولاړې وې کوچنۍ نه، بلکې د همدې کالج زده کونکې او زما کوربنې هم وې چې د سمینار لپاره یې راغوښتی وم.

د کالج مدیرې په انګلیسي ادبیاتو کې دکتورا درلوده او ډېره کمال لرونکې ښځه وه. د هغې لهجه او خبرې ډېرې په زړه پورې او منطقي وې. هغې د پروفیسرې خبرو ته اهمیت ورنکړ او خبرې یې وغځولې. خبرې روانې وې چې په همدې وخت کې د کالج د ګاز د بیل نه اداکولو په خاطر د ګاز قطع کولو لپاره د محکمې نه خلک راغل. له همدې امله مې له مدیرې نه اجازه وغوښته او لاړم او خبرې مو نیمګړې پاتې شوې؛ خو د همدغو لږو خبرو نه مې ډېر څه زده کړل. د همدې نیمګړو خبرو جلال او قدرت اوس هم زما په اندرون کې موجود دی.

زه ډېر بوخت یم. د دې مصروف ژوند یوه ستونزه دا هم ده چې د یو کس د لیدنې نه وروسته هم چې کله وخت پیدا کړم؛ نو د هغو ټولو خلکو خواته ځم چې ماته ډېر ګران دي.

وړاندې له دې چې د فکرونو سمندر ما په خپله ولکه کې واخلي، خپلې اصلي خبرې ته راځم. کومه چې مې د کالج مدیرې وکړه چې نجونې بنایي دا فکر وکړي چې موږ ولې داسې کوو چې ډېرې خبرې د نجونو نه پټې ساتو، په ځانګړې توګه د میني او واده خبرې. په داسې حال کې چې په دې خبرو نجونو ته پوهېدل همدومره ضرور دي، لکه څومره چې په نورو خبرو پوهېدل ورته ضرور دي.

په کور کې پلار یا ورور خو په دې موضوع بیخي بحث نه کوي. تر ټولو د خفګان خبره دا ده چې مېندې هم د خپلو لوڼو په مخ کې د میني او واده له

خبرو څخه ډارېږي. مېندې دا فکر کوي چې دا خبرې به په لونو بده اغېزه کوي.

د يو اروابوه په حيث زه پوهېږم چې داسې بيخي نه ده؛ نجونو ته خبرې نه. له هغوى د خبرو پټول بده اغېزه کوي. زما په اند مور باید په کورونو کې په عام ژوند کې او په ژوند کې پېښېدونکې ټولې ممنوعه خبرې، که دواده وي يا د مينې، په ښکاره ډول بيان کړو، ترڅو نجونې د مطلبي هلکانو په دام کې گېرې نه شي.

## مئينه نجلۍ

يو هلک راته زنګ وکړ او ويې ويل: محترمه!

يوه نجلۍ له څو کلونو په ما باندې مئينه وه، بې حده مينه يې راسره کوله. څه به مې چې ويل، هغې به کول. که به ترې لرې هم بېل شوم، نا ارامه او خفه به شوه. کله کله به د بوختيا له امله ورسره نشوم غږېدلی، کله به مې چې ورسره خبرې وکړې، زما د اواز په ليدو به په ژړا شوه او زما د غږ په اورېدو به يې شکر ويستو. زما د پرېښودو فکر به هم ويروله، کله به مې چې ورته وويل پرېږدم دې، لړزيده به او زارۍ به يې کولو چې د خدای خاطر وکړه، ما مه پرېږده. لنډه دا چې داسې مينه يې راسره کوله چې ما يې فکر هم نه کولو. زياتره وخت به مې ورته ويل چې ليونۍ يې؛ خو څو مياشتې وړاندې زه هغې له هرې خوا نه بلاک کړم. زه ډاډه وم چې هغه هيچرته نشي تلی، څکه کله بې هم ماسره داسې نه و کړي، ما خپل ځان ته تسلي وکړه چې نجونې همداسې کوي، کله بلاک، کله بېرته انبلاک. سړی خو هيچرته هم نه ځي، هغه به چېرته لاړه شي. هغه زما په مينه کې دومره غرقه ده چې که هغه وغواړي هم ما نه شي پرېښودی. ما يوه ورځ انتظار وکړ، دوه، درې،... ترې دې چې څو ورځې تېرې شوې؛ خو هغه بېرته رانغله، نو زما ساه بنده شوه چې په هغې څه شوي دي. کله چې ما د هغې له نږدې ملګرې سره اړيکه ټينګه کړه او هغې نه په ژړا شوم چې سمه خبره وکړه، څه چل شوی دی؟ راته يې وويل چې هغې ته پرېښې يې.

زه د هغې د خبرې په اورېدو سره حیران شوم چې په هغې کې دومره توان...دومره همت...دومره حوصله له کوم ځای راغله چې زه یې پرېښودم کله نه چې یوه شوی یم چې زه هغې پرېښی یم نو څرنګه حالت چې د هغې ژ هماغسې د لېونو غوندې حالت کې زه هم وم .ناست به وم ژړل به مې او دا سوچ به مې کولو چې اوس د هغې سره زما خبرې نه کېږي د خوراک نه پرېوتم کار کولو ته مې وس نه کېږي. د هغې پخواني پیغامونه بار بار لولم.د هغې پخواني عکسونو ته په کتو د سکون پیدا کولو هڅه کوم.په دې سوچ کولو لېونی شوم چې دې کې دومره توان او طاقت له کوم ځای راغی.هغه نجلۍ چې یوه دقیقه زما نه بغېر نه شوه اوسېدی اوس د دومره میاشتو راهیسې زما نه بغېر اوسي .څو ورځې مخکې ما د هغې د نېږدې ملګرې په مخکې خپل لاس مې پرې کړو او ورته مې وویل که ته راته دا ونه وایې چې په هغې کې دومره طاقت له کوم ځای نه شو چې زه یې پرېښودم نو خپل ځان وژنم.

زما د لاس نه د رواني وینې په لېدو سره هغه ودرېده او راته یې وویل چې هغې د صابر چودري نه د سیشن (جلا کېدنې مشوره) اخیستې.د سیشن اخیستو نه بعد یوه شوم چې هغه زړه وره شوې.ته خو لا څه چې هر څوک پرېښودی شي.ددې تولو خبرو کولو نه وروسته هغه هلک وپوښتل چې محترمه ایا دې نجلۍ تانه سیشن (جلا کېدو مشوره ) اخیستې ؟

ما ورته وویل له مانه زرګونه نجونې سیشن اخلي. زه دا خبره څنګه کولای شم چې هغې له ما سیشن اخیستی یا نه.زه خو څه د سیشن اخیستو والا نجونو نومونه یا معلومات نه ساتم. فرض کړه که د چا معلومات ما سره وي بیا هم چاته یې ورکوم نه ځکه داسې کړنه زما د مسلک خلاف ده.ددې لپاره تا د داسې پوښتنې په ځای داسې پوښتنه وکړه چې په هغې سره زه ستا مرسته وکړم.

په دې خبرې سره هغه وویل محترمه زه ستا په مخامخ په قران لاس ایښودلو او قسم کولو ته تیار یم چې زه ددې نجلۍ په حق کې مخلص یم ،مینه ورسره کوم او غواړم واده ورسره وکړم.پوهېږم چې تا د هغې خبرو په اورېدو د هغې اندرون زما په خلاف له زهرو ډک کړی.زه ستا په وړاندې اعتراف کوم بې له شکه ما د هغې قدر نه کوو ،قصداً به مې تنګوله او تکلیف به مې ورکوو. له بد یا ېې به مې وېروله. د پرېښودو ګوانښونو په کولو به مې کنټرول کوله.

خو ، محترمه له ما غلطي شوې زه له هغې او تا څخه بښنه غواړم. ته د هغې له اندرون ځېل اچولي زهر وباسه چې هغه بېرته راشي.
ما دې هلک ته وویل چې زما خبره په غور واوره زه نجلی نه یم چې په قران لاس ایښودونکې هلکان مې دهوکه کړي. زه مخلص یم زه تا سره مینه کوم. زه غواړم تا سره واده وکړم دا ډول خبرې یواځې د نجونو د ذهني بندولو لپاره په کارېږي ، زما لپاره نه، څکه نه چې زه ستا مینه نه منم او څکه بې نه منم چې زه خبرې نه، عمل منم. د چا سره مینه کول یا نه کول له خبرو نه، له عمل نه معلومېږي. په خوله ددې خبرې کول چې زه مخلص یم څه فایده حال دا چې ستا ټول حرکات د منافقانو غوندې دي. که ته د هغې سره واده کوې نو دا خو دومره غټه خبره نه ده. د کوچنیانو چې په بازار کې کوم د لوبو شیان خوښ شي ، نو د اخیستو ضد یې شروع کړي، کېدای شي د اخیستو وروسته یې کور کې په خپلو لاسونو مات کړي لکه څنګه چې ته زهر وایې دا هماغه طاقت دی چې زه یې په افتخار سره خلکو کې اچوم تر څو هغوی د ظلم برداشت کولو په ځای له هغې خلاصون ومومي. زما زهر ژوند نه اخلي، ژوند ورکوي. ته داسې وکړه چې نجلی ته وخت ورکړه. که ته مخلص شوې، نو هغه به بېرته راشي او که نه نو زما زهر به د هغې ټول ژوند په سکون کړي.

# تړلې نجلی

څرنګه چې مخکې یوې نجلی راته وویل په تېرو پنځو کلونو کې مې دا لومړی اختر وو چې په خوښی سره مې ولمانځه که نه هر کال به د اختر ورځ زما لپاره له عذاب نه کمه نه وه. نه به مې سهار پاڅېدو ته زړه کېده، نه تیارېدو ته او نه هم چېرته تګ او نه چا سره کېناستو ته. څکه له کلونو راهیسې د اختر ورځ د زړه له درد سره تېروم؛ خو دې اختر کې سهار پخپله خوښه پڅلنځې ته لاړم، پخلی مې وکړ، ځان مې تیار کړ او له ټولو سره مې ولیدل. دا هر څه خپله وشول، ما نه دي کړي. کله چې زما د ترونو لورګانې ټولې مور کره راغلې، نو زه به کې تر ټولو خوشاله ښکارېدم. تر دې چې یوې د تره لور مې وستایلم، ویل یې، لکه چې په ژوند کې دې پسرلی راغلی. ته پوهېږې چې نه.ونې د یو بل صفت نه کوي او بیا په تېره د تره لورګانې. دا هر څه ستا په

برکت وشول، که نه ما فکر هم نه وو کړی چې زه به ژوند کې مخکې تلی شم. فکر مې کولو زما ژوند ساکن دی او تر هغې به وي تر څو هغه هلک بیرته رانشي، مګر تا زما فکر بدل کړ.

ما ته ښه یاد دي، کله چې مې په لومړي ځل درسره خبرې کړې وې. په خبرو کې درته په ژړا شوې وم چې ښاغلیه ته څنګه له ما خپله هیله اخلې؟ زما سره بې له هیلې او طمعې بل څه نشته. تا راته ویلي و چې څو کاله کېږي زه اړیکې مطالعه کوم زما په اند په نړۍ کې تر ټولو ښایسته شی طمع ده او تر ټولو بد شی دروغجنه طمع ده.

تا زه وپوهولم چې وچ شویو ګلانو ته په دې طمع اوبه مه ورکوه چې بېرته به راشنه شي. راته دې وویل چې طمع پرېږده. د بیلګې په ډول که یو څوک مړ شي او ټول خلک یې د خښولو په ځای په دې طمع کښېني چې راژوندی به شي، نو دوی به همداسې ناست وي هېڅکله به راژوندی نه شي. ژوند کې په دې خبره پوهېدل ډېر ضروري دي چې اړیکه مړه ده او که ژوندی. مړو رابطو سره دروغجنې طمع یو ځای کولو ته طمع او هیله نه وایي. طمع دا ده چې انسان خپل ژوند کې نوښت پیدا کړي. هغه ورځ مې ډېر ژړلي وو دومره چې بالښت مې په اوښکو لوند شو چې دا ښاغلی څومره ظالم دی چې له ما یې خپله هیله واخیسته، بیا څو میاشتې وروسته مې په زړه کې نوې هیلې پیدا شوې، پوهه شوم چې ښاغلی نه، بلکه زه ظالمه وم چې په دروغجنې طمعې پورې مې ځان تړلو او په خپل ځان مې ظلم کوو.

بیا مې تا سره دویم ځل اړیکه ونیوله، نو تا زما نویو هیلو ته اوبه ورکړې او هر څه دې دوامداره وساتل، تر دې چې زه خزان وهلې نجلۍ بیرته ژوندی شوم، خوښي مې په برخه شوې، لکه څنګه چې مې مخکې درته وویل د دغه هلک له تلو نه وروسته مې لومړی اختر و چې له زړه نه په کې خوښه وم.

ما ددې خوشحاله نجلۍ ټولې خبرې په غور واورېدې ومې ویل: مننه له ستاینې نه دې؛ خو زه هېڅ هم نه یم، ځکه زه نه غواړم مخته لاړ شم. کوم شي چې تاته خوښي درکړې، دې ته ارواپوهنېزه مرسته وایې. دا هغه مرسته ده چې باطني ډول مړ انسان ژوندی کوي، ته خو بیا په دروغجنې طمعې پورې تړلې وې.

# د مينې نشه کوونکې نجونې

نشه خرځوونکي ډېر چالاک وي. خلک په نشو راوستلو، يعنې خپل نشه يي موادو خرڅولو لپاره زياتې طريقې کاروي. لومړی دا چې انسان پسې شي او تر هغې ورپسې شي، تر څو ترې نشه واخلي او د نشې کولو او اخېستلو سره عادي شي، نو بيا د غمونو ،تکليفونو او دردونو نه لرې د داسې لارې مسافر شي چې هر څه غم نه ډېر لرې وي او چېرته چې انسانان په خپل واک کې نه وي.

بيخي په همدې ډول کله چې کوم هلک په کومه نجلۍ پسې شي، ورته وايې مينه درسره لرم. نجلۍ انکار کوي، هلک د نشه خرڅوونکي په شان نجلۍ پسې وي. هغې ته د مفتې مينې بېلګه وړاندې کوي. په هر ځل انکار سره نجلۍ د هلک په خبرو تېر وځي او هغه خپل خواخوږی ګڼي. کله چې له هلک سره نجلۍ خبرې شروع کوي، نو دې وخت کې نشه خپل اثر ښايي. نجلۍ ته ناڅاپي ټوله نړۍ ښکاري. خفګان يې کمېږي. تکليف يې لرې کېږي. شپه ورځ په اړيکه کې وي. هلک د نجلۍ له غمونو خبرېږي. غمجنې خبرې يې اوري، يعنې هلک نجلۍ ته د مينې د نشې مفته دوا ورکوي.

نجلۍ خوشالېږي چې دا څومره ښه هلک دی، زما خبرې اوري. لارښوونې او مشورې راکوي؛ خو افسوس دا غولونکی وضعيت ډېر وخت دوام نشي کولی. کله چې هم هلک پوه شي چې نجلۍ يې د مينې سره عادي شوې، نو د نشه خرڅونکو په شان خپل اصلي شکل څرګندوي. هماغه هلک چې څو ورځې مخکې يې نجلۍ ته خپله زنګ واهه د بوختيا په پلمه ځان ورکوي.

د نشې خرڅونکي يوازې يوه موخه ده، يعنې د پيسو لپاره هر څه کوي؛ خو هلکان، د نجونو د محبت په نشې اخته کولو زياتې موخې وي چې په هغې کې دوه ډېر مهم يې د نجلۍ بدن او پيسې دي. د اروا پوه په توګه زرګونه د محبت په نشه اخته نجونې ماته راځي. کله چې هغوی ماته دا وايي چې هغه هلک چې مخکې به يې د مينې نشه کوونکې دوا راکوله اوس يې راباندې بنده کړې، نو زه هغوی ته وايم چې د دوا بندول حتما څه موخه لري، نو زياتې نجونې وايي چې هغه هلک مانه د جنسي-اړيکې غوښتنه کوي. زما د سر غړونې (انکار) له امله يې راباندې د مينې نشه بنده کړې. ډېرو نجونو دا هم

ویل چې له مور نه د پیسو غوښتنه کوي. ځینې هلکان د نشه پلورونکو په ډول مستقیما پیسې غواړي؛ خو ځینې بیا مجبوري بهانه کوي، ترڅو نجونې پیسې ورکړي. د مینې د نشې ښکار شوې نجونې، هلکانو ته خپل وجود او پیسې ورکوي؛ خو ستونزه دا ده چې هلکان هره ورځ خپلې غوښتنې زیاتوي. ځینې ښايي چې مینه د انسان په ذهن کې د نشې غوندې اغېز کوي، نو د چا له مینې نه د خلاصون لپاره باید د معتادی څخه د خلاصون طریقه وکارول شي. علت یې دا دی چې کله تاسې نشه، یعنې یو څوک پرېږدئ؛ نو تاسې د هغې اغېزو ته په ذهني ډول اماده شئ. د نشې پرېښودو سره به ستاسې وجود نارامه شي. نشې ته به مو ډېر زړه کېږي، یعنې د هغې/هغه سره به مو خبرو ته زړه کېږي. ستاسې وجود به ټوک ټوک شي. فکر به کوئ چې د نشې نه بغېر به مړه شئ، قهر به درځي او سخت ګنګسیت به لرئ؛ خو په داسې حالت کې خپل ځان قابو کړئ او نشه مه کوئ یعنې د هغې سره بیا اړیکه مه نیسئ. دغه دا اغېزې لنډ مهاله وي. نن یا سبا له دې ستونزې خلاصېږئ؛ خو د هر ډول نشې، که د یو خراب انسان د محبت نشه هم وي، تکلیف یې دایمي وي او انسان ټول عمر ورسره کړېږي.

## ناسم ریل ګاډي کې ناستې نجونې

د اروایوه په حیث داسې ډېرې نجونې ماته راځي چې د مینې په نوم بې موخې، بې منزله او تکلیف ورکوونکې اړیکه کې ښکېلې دي.

هغوی پوهېږي چې دا اړیکه د دوی په ګټه نه ده او د تکلیف نه پرته بل هېڅ شی ترې نه شي ترلاسه کولی؛ خو د دې سره سره ددې اړیکې نه د ځان نه خلاصون حېرانونکې خبره کوي او وایې چې زه دا ړیکه د څو میاشتو یا کلونو راهیسې پالم. دې اړیکې ته مې دومره وخت ورکړی او مصرف کړی دی، نو زه ددې په پرېښودو چېرته او څنګه لاړه شم.

زه هغوی پوهوم او ورته وایم فرض کړه ته په غلط ریل ګاډي کې ناسته یې او چېرته ځې. څو ساعته وروسته پوهېږې چې زه چېرته تلم هلته دا ریل ګاډی نه ځي یعنې تېروتنه دې کړې. کله چې پوهه شې چې په غلط ریل ګاډي کې ناسته یې نو څه به کوې؟

لومړی: فکر کوې چې څه خو ډېر سفر مې کړی چېرته چې ریل ګاډې ځي زه به هم هلته لاړه شم.
دوهم: ته ډرایور ته زاری کوې او ژاړې چې مهرباني وکړه لاره بدله کړه او ما خپل ځای ته ورسوه.
دریم: ته خپله تېروتنه منې چې هو تېروتنه زما ده او په تېروتنې سره غلط ټرین کې ناسته وم. غلط ټرین نه سمدستي ښکته کېږې، هڅه کوې په بل ریل ګاډي کې وخېژې، تر څو خپل ځای ته لاړه شې.
همدا ډول تل باید په اړیکه کې دقت وکړئ چې ستاسو اړیکه هماغسې روانه ده څه ډول چې تاسي یې غواړئ. مثلاً، نجلی د یو هلک سره د واده لپاره اړیکه جوړوي او هلک یواځې ملګرتیا او د نجلی اړیکه خوښوي. د هلک موخه د لنډ مهاله خوند نه پرته بل څه نه دي یا هم هلک د ملګرتیا، مینې او واده په نوم نجلی په ناسم ریل ګاډي کې کېنوي، نو ددې اسانه مطلب دا دی چې نجلی دهوکه ورکوونکې او ناسم ریل ګاډي کې ناسته ده.
اوس دې نجلی ته په کار دي چې ریل ګاډي ته د زاریو په ځای چې د الله ج خاطر وکړه ما هلته بوځه چېرته چې زه ځم، باید بل اورګاډي ته وخېژي. داسې ریل ګاډی چې دا هلته ورسوي، چېرته چې یې زړه غواړي. دا به هم درته ووایم چې ځینې نجونې دومره ساده وي چې ددې تریخ حقیقت په ځای چې په ناسم ریل ګاډي کې ناسته ده برعکس دعاګانې، وظیفې او لمونځونه کوي چې کېدای شي ریل ګاډی د دوی د دعاګانو په برکت راتاو شي او چېرته چې ځي هلته یې ورسوي.
زه په خواشیني سره دا وایم چې نجونې په ژوند کې ډېر څه زده کوي؛ خو د ناسم ریل ګاډي نه ښکته کېدل نه زده کوي. ددې تاوان دا دی چې خپل ټول ژوند نه یوازې خرابوي، بلکې خپل ژوند په داسې زهرو لړي چې ټولې خوښی یې زهرجنې کړي.
نوټ: ځینې نجونې وایې چې په ریل ګاډي او انسان کې توپیر موجود دی. د ریل ګاډي سره د انسان جزبات او هیلې نه وي تړلې؛ خو انسان سره اړیکه جزباتي وي. د اروا پوهنې په نظر اړیکه که هرڅومره جزباتي او د زړه له تله

وي ؛ خو که انسان وغواړي د خرابې اړیکې نه ځان خلاص کړي کولی یې شي.

## ښتې یا ښکېلې نجونې

تاسې د مینې او ښکېلېدو په توپیر پوهېږئ، که نه ؟
مخکې ورځو کې یوه نجلۍ ماته راغله، په ژړا یې وویل چې ښاغلیه زه د یو هلک سره ډېره مینه کوم. لومړی زما سره ډېر ښه وو، د مینې اظهار یې کولو. ویل به یې ستا نه بغیر اوسېدی نشم. زیاته پاملرنه یې کوله. هر وخت به راسره اړیکه کې وو ؛ خو اوس مې پروا نه ساتي، زما د پیغام ځواب نه راکوي، زنګ مې نه اوچتوي. که زړه یې وو ځواب راکوي او که نه وي وایې بوخت یم، حال دا چې هېڅ بوخت نه وي، ماته یې معلومات شته. ښاغلیه زه ورسره مینه لرم کومه داسې لاره راوښایه چې بېرته سم شي. تر لاسه یې کړم. نجلۍ به هر ځل په ډېر معصومیت سره ویل چې مینه ورسره لرم ښاغلیه! مینه ورسره لرم!
ما د اړیکې په اړه د معلوماتو لپاره وپوښتل چې دې هلک سره دې څه ډول اړیکه جوړه شوه؟
د ارواپوه په حیث زما نظر د اړیکې بنسټ، د اړیکې د مودې یا وخت نه معلومېږي. په ځواب کې نجلۍ وویل چې اړیکه جوړول همدې هلک پیل کړه. زه خو ددې اړیکې لپاره بېخي تیاره نه وم، بلکې غوښتل مې هم نه چې اړیکه وپالم. همدې هلک هر وخت مسیجونه او زنګونه کول. ما خو ځل وپوهوه چې زه دا ډول اړیکه نه غواړم ؛ خو هغه ما پسې شو تر دې چې ومې منله.
په کرار کرار، په خوړو خوړو خبرو مې زړه نه کېوت، مینه مې ورسره پیدا شوه څه ډول چې زما لپاره له ځانه هم تېر و، زه هم تېره وم. ما بیا وپوښتل چې ایا دې هلک سره دې بله کومه اړیکه هم درلوده ؟
په ځواب کې یې وویل ښاغلیه لومړی خو مې نه منله ؛ خو کرار کرار یې راباندې ومنله او موږ هر څه وکړل، تر دې وخته نه پوهېدم چې دې ډول کړنې ته مینه نه وایي.

نجلۍ مې پوښتنه وکړه: څه ته چې ته مينه وايې، دې ته هلکان په خپله ژبه د نجلۍ د اړيکې رامنځته کولو لپاره د نجونو ښکېلول وايي. زه به درته دا هم ووايم، دا چې زياتره نجونې، د نورو نجونو سره اوسي، نو ځکه د هلکانو ژبه يې زده نه وي. د هلکانو په ژبه پوهېدل نجونو ته ډېر ضروروي دي. زياتره هلکان د نجونو د وجود لاسته راوړلو لپاره د مينې جال استعمالوي. ما يو ځل د څېړنې لپاره له زياتره هلکانو وپوښتل: تاسي د جنسي-اړيکې د رامنځته کېدو لپاره د مينې نوم ولې بدناموئ؟

د ټولو همدا يو ځواب وو چې ښاغليه! د جنسي اړيکې جوړولو لپاره د مينې د نوم نه بغېر نجونې بدن ته لاس نه پرېږدي. يوه نجلۍ که څومره نېکه او ښه وي؛ خو د مينې په لالچ کې غورځېدی شي.

ما دا نجلۍ پوښتنه وکړه چې ته دې هلک په ډېرې چالاکۍ ښکېله کړې يې. ته له ده سره مينه نه لرې، ته ښکېله (راګېره) شوې يې. لکه څه ډول چې کب په کونډه کې ونښلي او پرقېږي، ته هم پرقېږې او بيا دې دا ساده توب هم وګوره چې دې پرقبدو ته د مينې نوم ورکوې. خپل ځان ته دروغ مه وايه چې زه له هغه سره مينه لرم. د دې پر ځای دا ووايه چې زه ښکېله شوې يم. څومره چې ژر وي، ځان له دې کونډې راخلاص کړه. هغه چې تاته کومه دهوکه درکوله دريې کړه؛ خو ته اوس په دې ويلو چې زه ورسره مينه لرم او ګران دی راته، خپل ځان ته دهوکه مه ورکوه. خبرې مې اورېدې کړې چې ته خو د ماهي نه هم ډېره ساده يې، ځکه ماهي د مفت خوراک نه وروسته په کونډه کې په ګېرېدو پوه شي چې دهوکه شوم، نو د خپلې بقا او خوښۍ لپاره د کونډې نه د خلاصون لپاره پرقېږي او ژوند ته د بېرته راګرځېدو لپاره هڅه کوي. هغه خپلې دهوکې ته د مينې نوم نه ورکوي چې زه شين يم. کب نېونکی زما او زه د کب نېونکي يم. که کب نېونکي سره يو ځای شوم ژوندی پاتې کېدی شم که نه ژوندي پاتې کېدل مې سخت دي. زه به د کب نېونکي نه پرته مړ شم. هغه د ماهي انتظار او يا مخکې تللو لپاره د استخارې لمونځ نه کوي. چا سره بحث نه کوي. خپل ژوند په دروغجنې طمعې پورې نه تړي چې کېدی شي کب نېونکی يوه ورځ زما شي.

په باد ولړه! ماهي نبونه، د ماهي نبونکي دنده ده. هر یو د ماهي نښې کېدای، خکه دغه هلک هم ستا نښې کېدای. د ماهي نبونکي د جعلي مینې پر ځای، له دې مینې د خلاصون هڅه وکړه. «زه د هغه سره مینه لرم، زه د هغه سره مینه لرم» ددې خبرې د هېرولو لپاره «زه وغولېدم» تکرار کړه چې لا شعور دې د دې دروغجنې مینې نه په خلاصون کې درسره مرسته وکړي.

## د مینې په نوم زهر ځښونکې نجونې

هر وخت او هر چېرته دې خپل ګرېوان کې وګورئ او له ځان نه پوښتنه وکړئ، نن سبا څنګه احساس لرم؟

په ژوند کې مې زهر زیات دي او که خوښي؟

سمه ده تاسې د خلکو لپاره همدا یو خواب یاد کړی که څوک درنه وپوښتي چې څنګه یې؟ خواب ورکوئ چې بیخي ښه یم؛ خو دا اتومات خواب یواځې د خلکو لپاره دی. د خپل ځان د پوښتنې وروسته فکر وکړئ او ځان ته خواب ورکړئ چې رښتیا هم بیخي ښه یې؟

نن سبا خو خپل اندرون خالي نه احساسوې یا کېدای شي مات...یا ناهیلی... یا ښایي نن سهار د زړه له داسې درد سره پاځېدلی یې چې ځانته یې ویل یا ښودل ستونزمن وي. داسې درد چې د کومې خطرناکې ناروغۍ په څېر دې له داخل نه خوري. کېدای شي نن سبا د داسې فکرونو څخه د تېښتې هڅه کوې چې ستاسې لپاره د خفګان دروازې خلاصوي. څومره چې هم له دغه فکرونو نه خپل ذهن اړووې همدومره زیات دا فکرونه درته پیدا کېږي. هغه کار چې کوم وخت تاسې ته خوښي درکوله اوس مو زړه نه کېږي چې ترسره یې کړئ. اندېښمن، خفه او نارامه یئ. دا ټولې نښې ددې پوښتنې خواب دی چې تاسې یې د خپل ځان نه کول هېروئ چې نن سبا زه څه ډول احساس کوم؟

کله چې تاسې په اړیکه کې دا ډول احساس وکړئ؛ نو د دې موخه دا ده چې دغه اړیکه له زهرو پرته بل هیڅ نه ده. انسان ته یوه ډېره ښه ډالۍ ورکول شوې او هغه دا ده چې یو انسان، بل انسان ښه درک کولی شي. اروا پوهان دې ته مینه وایي. د ټولې نړۍ ښایست په دې ډالۍ کې نغښتی دی.

خو. دا چې ستا اړیکه په تېروتنې او یو ناسم کس سره جوړه شوې ده. د مینې په نوم دې د زهرو پیاله نیولې ده. څکه دغه ډالۍ دې کس ناسمه استعمال کړه. د دې پر ځای چې ښه دې درک کړي، ته یې کندې ته وغورځولې.
په یاد دې وي چې څوک درسره ډېره مینه کوي، ذهني شکنجه نه درکوي، تېروتنې دې نه نیسي، تا سره د جنګ کولو لپاره پلمې نه لټوي، له تا نه داسې تقاضا نه کوي چې ته یې پوره نه کړای شې. نا ارامه کوي دې نه... له دې ټولو ور هاخوا درسره په اړیکه کې اوسېږي او ورکېږي.

## پیتزا خوړونکې نجونې

د غولونکو دوه لویې نښې کومې دي؟
زموږ په پوهنتون کې یوه مشره نجلۍ چې کوژده شوې ده، یو ځل یې په کانتین کې خبرې کولې او ویل یې: د دې اونۍ په وروستیو کې زما خواښې زموږ کره راغله، ما پخلنځي کې پیتزا جوړوله. مور مې هغه په کوټه کې کېنوله. دې وپوښتل لور مې نه ښکاري، چېرته ده؟ مور مې ورته وویل: هغه په پخلنځي کې پیتزا جوړوي، ته کېنه اوس راځي.
زما د مور د خبرې په ځواب کې مې خواښې وویل: توبه توبه، خورې! ته زما په لور کار کوې، ما خو دا د کور د کار لپاره دلته نه ده پرېښې، یوازې ستا په خبره مې پرېښې چې پوهنتون خلاص کړي. که مې وس وشو، همدا نن یې کور ته ولم. دوی همدا خبرې کولې چې زه کوټې ته راننوتم، خواښې مې زما په لیدو راپاڅېده، زما تندی او لاسونه یې ښکل کړل او ویې ویل: لورې! په دې لاسونو دې پیتزا جوړوله!؟ خبره اوسه که بیا دې په پخلنځي کې قدم کېښود، زه تا د پخلنځي کارونو ته نه بیایم، د اینګور په صفت دې کور ته بیایم. ته پوهېږې چې زه په لوښو کار نه کوم.
په دې خبرو سره نجلۍ وویل چې خواښې مې دومره مینه راسره لري چې زما په خپل بخت هم یقین نه شته. ټولې نجونې د دې خبرو په اورېدو حېرانې شوې او ورته یې وویل: ته څومره بختوره یې! چې داسې خواښې دې په نصیب شوې ده. کاش موږ ټولو ته ستا د خواښې په شان خواښې نصیب شي.
زه غلې ناست وم، د دوی خبرې مې اورېدې. یوې نجلۍ وویل: ته ولې نه

غربېږې؟ ته هم څه ووایه! ومې ویل: ما بې خبرې واورېدې. خدای دې خبر کړي. لږ فکر وکړئ، دا زه نه، ارواپوهنه وایي، کوم خلک چې لوبې. لوبې خبرې کوي، زیاتره غولونکي وي.
د فکر په لفظ ټولې نجونې خاموشه شوې او خبره یې بدله کړه. ما هم نور څه ونه ویل. څکه پوهېدم چې د فکر لفظ د نجونو خیال خرابوي. څکه کله چې نجونې خیال پلو غږوي، فکر خو لرې پرېده، کومې بلې خبرې په اړه هم فکر نه کوي. په ډېرې خواشینۍ سره زه تاسې ته دا خبره کوم. موږ لا په همدې پوهنتون کې و دا نجلۍ له پوهنتونه فارغه او واده شوه. د واده یې لا څو ورځې نه وې شوې چې د همدې نجلۍ خوابنې ورسره په دې خاطر جنګ کړی و چې ته د پخلنځي کار ولې نه کوې؟
د نجلۍ په وینا چې ماته د پخلنځي په کار کې هیڅ ستونزه نه وه، ستونزه دا وه چې دومره لوی لوی خوبونه یې راباندې لیدل، نو خپل کور ته په راوستو یې داسې چلند څنګه راسره کولو. حال دا چې خپلې دوه لونې یې په پخلنځي کې هیڅ کار نه کوي. خبره همدلته ختمه نه شوه، بلکې تر دې ورسېده چې خپل زوی یې وهڅاوه چې نجلۍ ته یې طلاق ورکړ. یو ځل زه د خپل یو ملګري په ډرینګ روم کې ناست وم، د هغوی څوک خپلوان راغلل. یو څو د هغوی کور ته څوک خپلوان راغلل او بل زما هم هلته ډېر وخت شوی و، نو څکه مې د ملګري مور ته وویل چې ترورې زه ځم، هغې وویل چې نه زویه! ته لږ کېنه بیا به لاړ شې، څکه زما د تره لورګانې زما لیدو ته راغلي او غواړم تا هم ورو وپېژنم.
خپلوان بې چې کله ډراینګ روم ته راغلل ویې پوښتل: دا څوک دی؟ زما د ملګري مور ورته زه ورو وپېژندم او ورته یې وویل چې دا مې داسې دی لکه څوی. خپلوانو یې د راتلو علت څرګند چې د خپلوی لپاره راغلي یو. د دې ښځې د خبرو په اورېدو پوه شوم چې ترور ماته ولې د کېناستو وویل!؟ زما د ملګري یوه خور وه، دوی د هغې په رشتې پسې راغلي وو. د ښځې د خبرو په اورېدو مې د ملګري ترور ورته وویل چې زه د نجلۍ پلار سره مشوره کوم، بیا به څواب درکړم. د ترور د خبرې په اورېدو سره ښځه پاڅېده او د هغې په

پښو پربوته. د هغې نوم يې واخست او ويې ويل: د خدای خاطر وکړه چې انکار رانه ونه کړې. زه په ډېره هيله ستاسي کور ته راغلې يم.
د ملګرې مور مې ډېره پاک نيته ښځه وه. د خپلې تره لور په دې کار ووېرېده. راپورته يې کړه او ورته يې وويل: ما مه خجالته کوه. زه به همدا نن د هغې له پلار سره خبرې وکړم او تاته به خواب درکړم. کله چې ښځه لاړه. نو تـرور پـه پوښتونکي نظر ماته راوکتل. ما ورته وويل. تروري! لږ په فکر سره. ترورو مې چې دا خبره واورېده. خبره يې بدله کړه او نور ما هم څه ونه ويل. ماته معلومه وه چې د فکر خبره د ښځو خيال خرابوي؛ نو څکه کله چې ښځې کوم خيال پلو وهي. د بل هيڅ شي په اړه فکر نه کوي.
څو مياشتې وروسته يې د خپلې ترې لور خبره ومنله او لور يې ورکړه. هماغه ښځه چې د رشتې لپاره مې د ملګرې د مور پښو ته پربوتې وه. څو مياشتې يې د هغه لور په خپل کور کې ونه ساتله او پـه بـې بنسـته عيبونـو يـې خپـل زوی وهڅاوه او پرې طلاقه يې کړه.
د اروا پوه په حيث زما موخه دا ده چې زما په دې خبرې (په لږ فکر سره) نجلی او د ملګرې مور نه وه پوهه شوې. ښايي تاسې پرې پـوه شـئ چې اروا پوهنـه وايي: کوم کس چې لوېږي. لوېږي خبرې کوي او له حد نـه ډېـر وغړېـد. بـاور پرې مه کوئ؛ څکه لوېږي خبرې او له حده ډېر غړېدل د غولونکو نښې دي.

## مخکې والي کونکي نجونې

د مينې په اظهار کولو کې د نجلۍ مخکې والی
په تېرو ورځو کې يوې نجلۍ پوښتنه وکړه چې ښاغليه! په ما باندې يـو هلـک ډېر ښه لګېدو. ما ورسره څو ځلې عمومي خبرې وکړې؛ خو هغه په دې خبره پوه نه شو چې هغه زما خوښ دی. ستا په نظر دغه هلک ته د مينې پـه اظهـار کې بايد زه مخکې شم؟ په طبيعي ډول زه په روايتي او رواجي خـبرو بـاور نـه کوم چې تل دې هلک، نجلۍ ته د مينې په اظهار کې مخکې والی وکړي. آيا ښځه سړي ته په وړانديز کولو کې مخکې والی نه شي کولی؟
ما خواب ورکـړ: نـن سـبا معلومـه شـوې چې نجـونې د اړيکـو پـه اړه زيـات معلومات نه لري. نو څکه فکر کوي چې هلک ته پـه وړانـديز يـا د مينـې پـه

اظهار کې مخکې والی یا لوړېتوب کوم تاوان نه لري. حال دا چې د ښځې په دې ډول مخکې والي سره د هغې عزت کمېږي. په ځانګړې ډول په نرواکه ټولنه کې. په یاد ولره! کومه ښځه چې سړي سره د مینې په اظهار کې مخکې والی کوي. هغه خپل ژوند په خپلو لاسونو د اوښکو، اسویلو او غم نه ډکوي. د مینې په اظهار کې د ښځې مخکې والی، په شرق او غرب دواړو کې د ابتداء نه نشته. په غرب کې سړی ښځې ته په یوه ګونډه کیني او د مینې وړاندیز ورته کوي او په شرق (زموږ په ټولنه) کې هلک د جرګې په راوستلو سره نجلی غواړي. کله تا لیدلي چې کوم واده کې نجلی جرګه وړې وي او هلک یې راوستی وي؟

ولې نن سبا نجونې د مینې په اظهار کې مخکې والی کوي؟

د یو ارواپوه په حیث ما فکر کړی دی چې زموږ نجونې په بیړه عادت شوي دي. ځکه هلک ته وخت نه ورکوي او خپله د مینې په اظهار کې مخکې والی کوي، حال دا چې په اړیکه کې بیړه ښه پایله نه لري.

که چېرته کوم هلک دریاندې ښه ولګېد، نو هغه ته د مستقیما ویلو پر ځای یو دوه ځل له کوم کار پرته د هغه د احوال په اخیستلو کې بیړه وکړئ. که هلک لږ هم هوښیار وي، نو سمدستي پوهېږي چې ستاسو خوښ دی. که چېرته هلک ستاسو په دې حرکت پوه نه شو، نو په سیمه ایزه ژبه کې داسې هلک ته ساده وایي. د ساده سره د اړیکو جوړولو غوښتنه پرېږئ. په یاد ولرئ چې ژوند د هوښیار هلک سره تېرېږي؛ خو د ساده سره نه.

یادونه: د دې لیکنې نه وروسته چا پوښتنه کړې چې خدیجې (رض) محمد (ص) ته د نکاح پیغام کې مخکې والی کړی دی. په دې اړه ته څه وایې؟

ځواب: پیغمبر (ص) ته د نکاح د وړاندیزه پر مهال د حضرت خدیجې (رض) عمر څلوېښت کاله وو. هغه پخه ښځه وه، کاروبار یې کولو او هوښیاره وه او دا خبره باید هېره نه کړو چې کاروبارې ښځه ډېره هوښیاره او چالاکه وي، په داسې حال کې چې د حضرت محمد (ص) عمر ۲۵ کاله او خام وو. که کومه ښځه په داسې حالت کې وي، نو د هغې لپاره مخکې والي کې کوم نقص نشته، دا لیکنه مې د نجونو لپاره ده، نه د کومې هوښیارې او کاروبارې ښځې لپاره.

# حسن پرسته نجلی

یوه نجلی ما پېژنده. واده یې وو؛ خو د چا سره یې چې واده کېدو، د هغې په اړه یې موږ ته هیڅ هم نه ویل، ویل یې دا به ډېره جالبه وي چې د واده په ورخ پوه شې.
د واده په ورځ پوه شو چې د هغې خاوند موډل دی. واقعاً دا ډېره جالبه وه. تاسې پوهېږئ چې ماډل ښکلی وي او هغه هم ښکلی وو. اوږد قد، ښه اندام... شاؤ چې شو، نور هم ښایسته ښکارېدو. کله چې موږ د ناوې کوټې ته د مبارکۍ لپاره ورغلو، وامې ورېدل چې ناوې نجونو ته ویل: ما تل دعا کوله چې خاوند مې ښکلی وي، الله زما واورېده. ټولو نجونو د ناوې خبرې په غور اورېدې. شرمېدونکې نجونې غلې ولاړې وې؛ خو زړورو نجونو ورته ویل: زموږ لپاره هم دعا کوه چې زما خاوند هم ستا د خاوند په شان ښکلی وي. ومې لیدل چې ټولې نجونې، د ناوې په بخت رخه او کینه کوي.
د واده نه څو میاشتې وروسته، د هماغې نجلی زنګ راغی او ویل یې چې، زه تاسره لیدل غواړم. کله چې زما خواته راغله، زه یې په دې خبرو بیخي حېران کړم چې غواړي د خپل خاوند نه طلاق واخلي، د هغه خاوند نه چې نه یوازې ښکلی دی، بلکې د ټولو دعاو ثمره یې ده چې په هغې پـه زرګونـه نجونې نـه یوازې ځانونه وژني، بلکې دعا کوي چې که دا نه وي، حد اقل د دې په شان یې یو هلک په نصیب شي.
هغې راته وویل: کله چې مې د دې موډل سره اړیکه ټینګه شوه، خوشحاله شوم. په خپل بخت مې یقین نه راتلو چې څه مې غوښتل، هماغه مې په نصیب کېږي؛ خو د واده نه وروسته پوهه شوم چې یوازې ظاهري ښکلا بسنه نه کوي: اندروني (داخلي) ښایست هم مهم دی. هغې وویل چې خاوند یې بیخي پاملرنه ورته نه کوي، پروا یې نه ساتي او بیخي پـه ځان مئین دی. هر وخت خپل ځان ته ولاړ وي. د نجونو غوندې د خپل ځان خیال ساتي. دوه ساعته په تشناب کې ځوله وینځي. ټول ماښام په جیم کې تېروي. زما لپاره هیڅ وخت نه لري او شتون او نشتون مې ورته هیڅ ارزښت نه لري.
د دې ترخنګ له بې شمېره نجونو سره اړیکې لري. زما په مخ کې لـه هغـوی سره خبرې کوي چې منع کوم یې راته وایي چې دا نجونې د کاروبار دي، کـه

ورسره اړیکه ونه لرم کار راته نه پیداکېږي. دوی سره اړیکه ساتل زما مجبوریت دی.

ما هغه پوهه کړه چې دومره ژر دې فیصله نه کوي. کومه ورځ دې د ځپل خاوند سره زما خواته راشي، دواړو سره به خبرې وکړم او مرسته به درسره وکړم. هغه لاړه، ډېر وخت تېر شو او د بوختیا له امله بیا ځلي زما خواته رانغله.

تېرو ورځو کې مې ورسره په یوه موقع کې لیدنه وشوه، راته یې وویل چې درې کاله یې د واده د دوام لپاره هڅه وکړه؛ خو ونه شوه او څو میاشتې وړاندې یې له ډېر فکر وروسته طلاق واخیست. دا یې هم وویل چې د طلاق اخیستو نه څو میاشتې وروسته پوهه شوه چې له موډل سره درې کاله ژوند تېرول یې تر ټولو بدترین کلونه وو. ځکه چې هغه شخص د ظاهري ښایست درلودلو سره په اندرون کې زښت بدرنګه وو.

تاسې ته د دې پېښې له ویلو زما موخه دا ده، هغه نجونې چې سریالونه او فلمونه ګوري، یوازې د ظاهري ښایست دعاګانې کوي چې د هغوی خاوند ظاهري ښکلی وي، د هغوی نه مې غوښتنه دا ده چې د ظاهري ښایست په ځای دې په خپلو دعاوو کې، اندروني ښایست وغواړي، ځکه یو څوک په کتو کې هر رقم وي، ژوند ورسره تېرېږي؛ خو که څوک د داخل نه بدرنګه وو، د هغه سره ژوند تېرول ستونزمن دي.

## جوړېدونکې (تعامل کونکې) نجونې

یوې نجلۍ له ما څخه د ژور خفګان (ډیپریش) درملنه کړې وه او په بشپړ ډول ښه شوې وه. کله چې د ژور خفګان ریلیپس (Relapse) بېرته هغې ته وشو، نو هغې بیا زنګ راوکړ او ویې ویل چې ښاغلیه زه بیا په ژور خفګان اخته شوې یم. ما ترې وپوښتل: څه شوي چې بیا پرې اخته شو ې؟ - ـال دا چې د درملنې څو میاشتې وروسته یې ډېر ارام ژوند تېرولو.

زما د پوښتنې په ځواب کې هغې وویل: ښاغلیه! ما د خپل پخواني ملګرې سره بیا اړیکه ټینګه کړې ده، د دویم ځلي اړیکې وروسته هلک ډېر ښه وو؛ خو څه وخت وروسته یې بیا راسره هماغه لوبې شروع کړې چې مخکې یې کولې. د همدې حرکتونو له امله په ژور خفګان اخته شوم. ځکه اوس هم د

ده همدې حرکتونو بیا ځلې په ژور خفګان اخته کړم. ما ورته وویل د لیدنې پر وخت خو مو پر فیصله وکړه چې ته به نه یوازې دا هلک په بشپړ ډول پرېږدې، بلکې د هغه سره به هیڅ ډول اړیکه هم نه ساتې. نجلی لږه خاموشه شوه او بیا یې وویل: زه په خپله خبره ښه ولاړه وم، زما یوې ملګرې راته وویل چې ګوره اړیکه ختمول هوښیارتوب نه وي. هغه غټ سړی نه دی. تاسره مینه کوي. د خپلې ملګرې په وینا مې بیا د هلک سره اړیکه ټینګه کړه. په همدې وخت کې زما ملګرې هم ما سره ولاړه ده. کله چې ما هغې ته وویل چې غواړم یو ځل د استاد سره خبرې وکړم، راته یې وویل زما په مخ کې یې ورسره وکړه، زه به یې هم واورم. ما ته نجلی دا خبره کوله چې د خبرو په منځ کې هغې نجلی ترې موبایل واخیست او ترخه لهجه یې وویل: ارواپوه صیب! آیا ته د خلکو پخلا کوونکی یې که بېلوونکې؟ د دوه زړونو بېلولو څه ډول عقلمندي ده؟ ما په ډېرې حوصلې د دې نجلی خبرې واورېدې، ومې ویل: معلومېږي چې ته زما او زما له کار سره بلده نه یې، ځکه داسې خبرې کوې. که ته لږه هم زما او زما کار سره بلده وای، داسې خبرې دې نه کولې. زه یو درد پېژندونکی انسان یم او د ماتو زړونو رغول زما د ژوند موخه ده. زما نه زیات څوک د اړیکو جوړونکی کېدای شي!؟ زه لا څه چې ټول اروا پوهان د اړیکو جوړونکي دي؛ خو ستا او ستا په شان خلکو فکر یوازې جوړولو او ماتولو پورې محدودی دی، په داسې حال کې چې اروا پوهان پوهېږي چې څوک د چا سره باید پخلا شي او څوک د چا له ضرره وساتي شي. کوم څه چې ته پخلا کېدل ګڼې، په اصل کې تبا کېدل دي. د یو اروا پوه په حیث زما خواته داسې بې شمېره خلک راځي چې خپل ملګری یې د خپل ساده توب او ناپوهۍ له امله، د پخلا کېدو په نوم ټول ژوند تباه کوي.

تا چې کومه خبره خپلې ملګرې ته کړې چې هغه بد هلک نه دی، هیڅ شک نشته چې هغه به بد نه وي؛ خو ستا ملګرې یې د ژور خفګان ښکار کړې. مګر د دې باوجود هم زه هغه ته بد نه وایم. ما یوازې ستا ملګرې ته د دغه هلک نه د ځان ساتلو ویلي وو، بیخي همداسې لکه څنګه چې بوره بده نه وي؛ خو د شکرې ناروغ ته بده ثابتېدلی شي. ما په ډېر فکر او ذمه واری سره

له دې هلک نه ډېره کول ليکلي وو. په ياد دې وي چې ځينې خلک بد نه وي، يوازې زموږ لپاره بد وي، موږ بايد د هغوی څخه ډډه وکړو.
د اروپوهنې مطابق انسان ته يوازې د مينې اړتيا نه وي، بلکې هغه ته د دوامداره مينې اړتيا وي. که يو څوک تاته څو ورځې مينه درکړي او څو ورځې دې وړی پرېږدي، نو داسې کس تاسره مينه نه کوي، بلکې په تا تشدد کوي. خپلې ملګرې ته ستا دا خبره چې هغه هلک تا سره مينه لري، سمه به وي؛ خو هلک ستا ملګرې سره دوامداره مينه نه کوي چې له همدې امله دا د ژور خفګان ښکار کېږي.
کوم شی چې ته يې ځای کېدل ګڼې، په حقيقت کې دې ته په کنده کې غورځول وايي. هغه هلک، هلک نه دی، د ژور خفګان کنده ده. کله چې ستا ملګرې په لومړي ځل زما خواته راغلی وو، دا د هغه هلک د مينې په نوم د ژور خفګان ښکار شوې وه، د هغې ژور خفګان دومره شديد وو چې په عام ډول ما سره په څو ليدنو کې خلک له ژور خفګان نه ښه کېږي؛ خو دا څو څو ځلې راغله. دا دې په ياد وي چې د ژور خفګان يوازې درملنه کول نه وي، په علت پوهېدل هم په کار دي چې دا ژور خفګان له څه نه پيدا شوی دی چې مريض له بيا ځلې اخته کېدو وژغورل شي. ستا د دوست د ژور خفګان علت دغه هلک وو، ځکه مې ورته له دغه هلک نه د لرې اوسېدو مشوره ورکړه. زه په افسوس سره وايم چې ستا غوندې دوستان، خپل ملګرې په ډيپريشن اخته کوي او ښه کولی يې نه شي. هغوی ته د روغتيا لپاره زما غوندې اروايوهانو ته تګ ضرور دی.
يادونه: Relapse په دې مانا دی چې کوم کس د يوې ناروغۍ نه د ښه کېدو نه وروسته، بيا ځلې د همدې ناروغۍ ښکار شي.

# ډاریدونکې نجونې

څو ورځې وړاندې راسره یوې نجلۍ اړیکه ټینګه کړه او ویې ویل چې ښاغلیه له ډېر وخت نه مې غوښتل چې اړیکه درسره ونیسم؛ خو بیا به د اړیکې نیولو نه ویرېدم، فکر مې کولو چې تاسره به اړیکه ونیسم او خپله ستونزه به درته ووایم، نو ته به همدا وایې چې کوم هلک سره ستا د احساساتو پروا نشته او تکلیف درکوي، نو د دې تکلیف تېرولو پر ځای دا هلک پرېږده، که څه هم زه دا هلک پرېښودل نه غواړم. ښکاري چې یوه نه یوه ورځ به زما مینه پرې اغېز کوي او سم به شي.

ما د دې نجلۍ دا خبره واورېده او ورته مې وویل: تا خپله همداسې فکر کړی چې د دې هلک د پرېښودو به درته ووایم. حال دا چې زه هرې نجلۍ ته د هلک پرېښودو مشوره نه ورکوم. په یاد دې وي چې د هرې درد لرونکې اړیکې نه د خلاصون دوه مهمې لارې دي. یوه دا چې کومه اړیکه تکلیف درکوي، په شعوري توګه ترې د ځان ساتلو هڅه وکړې، ځکه د څه پرېښودو لپاره یو خاص توان ته اړتیا ده چې دا لاره د ځواکمنو او توان لرونکو خلکو لپاره ده. زه منم چې د چا پرېښودل اسانه نه وي، له تکلیفه ډک کار دی؛ خو په یاد دې وي چې د چا پرېښودو تکلیف که هر څومره ډېر وي؛ خو لنډ مهالی وي. په داسې حال کې چې د تکلیف ورکونکې اړیکې درد تل وي. ارواپوهان یوازې ځواکمنو خلکو ته د یو چا نه د لرې کېدو سپارښتنه کوي. دویمه لاره یا طریقه د کمزورو خلکو لپاره ده او هغه دا ده چې کله د انسان بې عزتي وکړې، سترې کېږي، نو شخص په لاشعوري توګه د بې عزتي ورکونکي کس څخه د بېلیدو پرېکړه کوي، ځکه په هر کس کې د بې عزتۍ یو حد شتون لري او کله چې دا د ((بس دی، زه نوره بده رویه نشم زغملی)) مقام ته ورسېږي، په همدې مقام کې د شخص زړه د مقابل لوري څخه مړېږي چې په لاشعوري توګه خپل ځان د تکلیف ورکونکې اړیکې نه بېلوي.

دا ډېره له تکلیفه ډکه لاره ده؛ خو زیاتره خلک په لاشعوري ډول دا کار کوي. د انساني ارواپوهنې مطابق یو کس د ډېر وخت لپاره په غم کې نه شي اوسیدی، که په وخت له تکلیف نه ځان خلاص نه کړي، وروسته ځان په لاشعوري ډول له تکلیف نه اوباسي. موږ که هر څومره اذیت پسند و اوسو هم

زموږ داخلي میکانیزم موږ نه پرېږي چې په تکلیف کې و اوسو. که چېرته دې په خپله مینه دومره باور وي، ولې ترې وېرېږې!؟ تکلیف وزغمه، که په یوه خبره ځپېږه درکړي، بله خبره ورته وکړه. که د پیغامونو او زنګونو ځواب نه درکوي، بیا هم ورته زنګونه او پیغامونه کوه. که د کوم ناسم کار درته ووایي، انکار ترې مه کوه. هر امر یې منه. سهار، غرمه، ماښام، بلکې څومره چې کېدای شي، پښې یې وینځه. په کوم کس چې ستا د مینې، زاریو، اوښکو، آهونو او ښښنو اغېز نه پرېوځي، دا چلند به پرې کوم اغېز وکړي؟ د یو ارواپوه په حیث په ثبوت سره دا خبره کوم چې د دې بې عزتۍ نه وروسته که ستا چلند په دې هلک اغېز وکړي یا نه؛ خو ستا لاشعور به راویښ شي او د تش په نوم مینې له اړیکې به رابهر شې.

## ماتې شوې نجونې

یوه نجلۍ مې خواته راغله او راته یې وویل: یو هلک سره مې له اووه کالو زیاته د مینې اړیکه وه. هلک چې څنګه ویل، هماغسې مې کول. زموږ تر منځ تر نن پورې کومه شخړه نه ده شوې او ما ورته د شخړې فرصت نه دی ورکړی. هغه به چې څنګه ویل، ما هماغسې کول. زما پلار ډېر ښه سړی دی. زه یې کله هم د کومې خبرې نه منع کړې نه یم؛ خو دغه هلک به زه د ډېرو داسې کارونو منع کولو چې زما خوښي به پکې وه. هغه غوښتل چې پرده وکړم، د ده په خاطر مې پرده کول شروع کړل. حال دا چې زما ورسره دومره لیوالتیا هم نه وه. که به چېرته تلم، له ده به مې پوښتل، یعنې تر ننه مې هیڅ کار د ده له اجازې پرته نه دی کړی.

اووه کاله وروسته کله چې هلک د دومره شو چې زموږ کور ته رشته راولېږي؛ نو په ډېر مشکل یې خپله مور د رشتې لپاره راضي کړه، هغه په ډېر ښه شکل زموږ کور ته راغله؛ خو د تګ نه وروسته غلې شوه او هیڅ اړیکه یې راسره ونه نیوله. ما له هلک نه ډېر وپوښتل چې مور دې څه وویل؛ خو هغه هم څه نه ویل.

څو ورځې وروسته راته هلک زنګ وکړ چې کله مې مور کور ته راغله وېې ویل چې نجلۍ ماته ژبوره ښکاره شوه. زه په هیڅ صورت هلته ستا رشته نه

کوم. د دوی لپاره ما هېر کړه. د دې پیغام نه وروسته هلک خپله شمېره بدله کړه او زه یې له هر طرف نه بلاک کړم. زه ډېره خفه یم چې ولې یې داسې وکړل؟ د دې هلک سره د اړیکې څومره هڅه مې چې کوله؛ خو هلک له ما سره هیڅ اړیکه ونه نیوله. د دې خبرې څو میاشتې تېرې شوې. نه پوهېږم څه وکړم؟؟

ما په زور له دې هلک سره واده کول نه غوښتل، که چېرته ده پرېښودم، نو داسې ناڅاپه به یې نه پرېښودم. ده خو د خپلې مور په وینا ما سره اووه کاله اړیکه نه وه ساتلې، نو بیا یې د هغې په وینا زه څنګه پرېښودم؟ که د واده لپاره د مور پرېکړه دومره مهمه وه، نو بیا یې ولې زما د ژوند اووه کاله برباد کړل؟ د ده مور ته چې په موږ کې کومه نیمګړتیا ښکاره نه شوه، نو عجیبه خبره یې وکړه چې نجلۍ ماته ژبوره ښکاره شوه. تاسې خپله فکر وکړئ چې که زه ژبوره وای، اووه کاله مې د یو هلک سره ضایع کول؟

ما دې نجلۍ ته وویل چې د خدای شکر اداء کړه چې ده د خپلې مور په وینا ته اوس پرېښودې. فکر وکړه، که له واده وروسته یې د مور په وینا پرېښې وې بیا به دې څه کول؟ د یو چا د پرېښودو لپاره یوه لاره وي. د داسې بې حسه شخص لپاره تکلیف تېرول، خفګان یا ژړا څه مانا چې د اړیکې پرېښودو تمیز نه لري. انسانیت هم یو څه وي. د یو چا د پرېښودو لاره دا ده چې لومړی باید هغه په ذهني ډول دې ته تیار کړې، ګنې په ناڅاپي ډول پرېښودل یې لیونی کوي. څوک چې له چا سره لږه مینه هم لري، داسې ناڅاپه څوک نه پرېږدي.

له دې درد نه د خلاصون په موخه مې د سیشن (د بېلوالي مشوره) په دوران کې په دې نجلۍ د ویژیولایزیشن (د تصور تمرین) وکړ او هغه دا و چې نجلۍ ته مې وویل: سترګې پټې کړه او په تصور کې داسې یو فلم ولګوه چې له دې هلک سره دې واده شوی وي، بلکل هماغسې لکه څنګه چې دې تصور کړی دی. له واده وروسته د دې هلک مور، دې هلک ته وایي چې دا نجلۍ سمه نه ده، پرېږده. دا هلک د مور خبره پرخای کوي او سمدستي دې له لاسه نیسي او له کوره دې شړي، ته په کوڅه کې ژاړې، ښښنې غواړې او ورته وایې چې یو ځل مې خبره واوره؛ خو هغه هلک ستا د خبرې اورېدولو توان لاري نري. فکر وکړه چې څومره د دروازې په مخ کې په ژړا وردریدی

شي. بيا دې هم دا ضد وي چې نه ځې. شپه کېږي؛ خو هغه هلک ستا خبره نه اوري او په دې وخت کې يې مور دروازه خلاصوي او د طلاق پاڼه درکوي. اوس چې دې کور ته د داخلېدو شرعي حق ختم شو، ته د طلاق پاڼه په لاس خپل کور ته ځې. له دې فلم نه وروسته، نجلۍ راښه شوه او بيا مې پوهه کړه.
په ياد مو وي چې په نړۍ کې څو ډوله نارينه دي. چا سره چې اړيکه ټينګوې، هغه د واده وي، که د مينې، يوازې له قوي شخص سره دوام کوي. داسې قوي شخص چې د کورنۍ د غړو تر څنګ کور هم وچلوي. ډېرى خلک داسې وي چې څواک يې ښه معلومېږي؛ خو هغه يوازې د هغه د ساتنې لپاره وي او چې لږه ستونزه هم پرې راشي، بيا د ستونزې د حل پر ځاى په خپل څواک کې ورک وي او که څومره زارۍ ورته وکړې، بهر نه راوځي.
له داسې شخص سره هيڅ ډول اړيکه مخته نه ځي. تاسې په تېروتنې له داسې کس سره اړيکه ټينګه کړې او دا اړيکه يا اوس، يا له واده وروسته ختمېږي.
ښه شو چې دا اړيکه اوس ختمه شوه، که له واده وروسته ختمه شوې واى، څومره درد به يې درکړى وو!؟
د يو ارواپوه په حيث د بې شمېره ماتې شويو نجونو سره د مرکو او اړيکو په وخت دې دعا ته ورسېدم چې خدايه که د چا اړيکه هم ختموې، له جوړېدو وړاندې يې ختمه کړه. کومه اړيکه چې له واده وروسته ختمېږي، هغه دې له واده وړاندې ختمه شي، ترڅو انسان له پوره ماتېدو وژغورل شي.

واتساپ: 0779815770

# په تمه شوې انجونې

د یوه اروابوه په توګه ډېرې په تمه شوې انجونې لـه مـا سره اړیکـه نیسي-او پوښتنه کوي چې ښاغلیه! زه له یوه هلک سره مینه لرم؛ خو هغه وایي چې زه اوس له تاسره واده نشم کولی. زما لپاره یو څو کاله په تمه شه. هر یـو د واده نه کولو دلیل لري. ځینې هلکان انجونو ته وایي چې تر اوسه مې ژوند نـه دی جوړ. لومړی ژوند جوړوم. بیا به جرګه در ولېږم. ځینې وایي چې زما کـورنی بې نه مني. لومړی به هغوی رضا کړم بیا به جرګه در ولېږم. ځینې وایـي چې مور یا پلار یا د کورنی کوم غړی مې ناروغ دی. ځینې بیا وایي، چې کور کې ورته وایي چې لومړی کور جوړ کړي، بیا به ورته واده وکړي.
دا په تمه پاتې شوې انجونې له ما پوښتنه کوي چې زموږ کور ته پـه مـا پسې جرګې راځي او کورنی هم راباندې د واده فشار راوړي؛ خو زه حیرانه یم چې هغه هلک ته په تمه شم چې زه ورسره مینه لرم او که د کورنی ومنم، واده وکړم او خپل کور جوړ کړم، نه پوهېږم څه وکړم؟
زه دې په تمه شویو نجونو ته وایم چې په ټوله کې هغه هلکـان چې دهوکـه ورکوي، هغوی د اړیکې جوړولو وروسته د واده لپاره عذرونه کوي. کله وایي کورنی بې ورسره نه مني. له خپل قوم او قبیلې پرته خپلوي نه کوي، ژوند مې نه دی جوړ، واده ته نه یم چمتو؛ خو مخلص هلکان هم ورته ستونزې لرلـی شي. ښایي هغه هلک چې تاسې ورسره اړیکه لرئ، په رښتیا هم د واده لپـاره تیار نه وي خو دا ستاسو نه بلکې د هلک شخصي ستونزه ده. زه پـه دې انـد یم، هر هغه هلک چې په هر دلیل واده ته چمتو نه وي، که هـر څـومره مینـه ورسره لرئ، نو مه بې په تمه کېږئ او کور ته راغلې جرګې مه خوابوئ. که یو هلک درسره هر څومره مخلص وي؛ خو که په شپږ میاشتو کـې دننـه درسره واده نشي کولی، نو له بل چاسره ژوند جوړ کړئ.
زموږ په ټولنه کې د واده په وخت کـې انجونې لـه ټولـو ډېـرې د ارزښـت وړ دي. انجونې د هلکانو په پرتله لږ وخت لري، نو باید د مینې په نوم بې ضایع نکړي. څنګه چې مناسبه رشته وموندل شي. واده دې وکړي. هغه مینه چې څو کلونو کې ترلاسه کېږي یا هم د ترلاسه کولو رښتینې داد نلري. له هغې زر خلې غوره ده چې د یوې مناسبې رشتې په پیدا کېدو سره واده وشي. پـه یـاد

ولږئ چې هغه څوک چې تاسې د انتظار په دار ځړوي، هغه په هيڅ ډول ستاسو د مينې وړ ندي.

## پام غلطونکې انجونې

يوې نجلۍ راسره اړيکه ونيوله او پوښتنه يې وکړه چې تېر کال، کله چې په مينه کې ناکامه شوم، ژوند مې له اندېښنو ډک و. تل به مې د هغه هلک په اړه فکر کاوه، چې زه يې پرېښې وم. د فيسبوک پروفايل ته به يې تلم. عکسونه او پوستونه به مې لوستل. دا چې هغه څومره وخت پر وټساپ آنلاين وي. وروستي ځل کله آنلاين و. هر څه به مې يې څارل، ټول پام مې هغه ته و. زما دې حالت ته په کتو يو ملګرې مشوره راکړه، چې له بل هلک سره خبرې پيل کړه چې په دې سره به نه يوازې ستا پام په بله شي، بلکې زړه به دې هم خوشحاله وي. ملګرې راته وويل چې نن سبا د هلکانو څه کمی دی ټول فيسبوک له هلکانو ډک دی.

د ملګرې له مشورې وروسته مې پر فيسبوک له يوه هلک سره خبرې پيل کړې. مور دواړو د اړيکې له پيل څخه خبره صفا کړه. هلک له پيله راته په ښکاره ويلي و چې واده درسره نه کوم. يوازې ملګري يو او ملګري به اوسو. زه له ډېرو نجونو سره خبرې کوم؛ خو له چاسره واده نه کوم. ما هم کومه ستونزه نه درلوده، څکه چې زه د کومې اړيکې په لټه کې نه وم. يوازې پام مې غلطوه. ما هم ورته سپينه خبره وکړه چې زه اوس۴وس په مينه کې ناکامه شوې يم، سخته ځورېږم او يو ښه ملګري ته اړتيا لرم چې ما له دې درده راوباسي؛ زه هم له دوستۍ پرته بل څه نه غواړم.

دا نوی پام غلطونکی هلک ښه انسان و. زما خبرې يې په غور اوريدې. ما به هغه ته او هغه به ماته زړه تشوو. هر څه سم روان وو، حتی تر دې چې زه خانته حيرانه وم چې ايا زه هماغه نجلۍ يم، چې يو وخت يې له ډېر خپګانه ډوډۍ نه خوړه او خوب يې هم ورک و او په يو داسې چا پسې په منډو ده چې نه يوازې د هغې سپکاوی کوي بلکې په خورا بې دردۍ يې پرېښې هم ده. د دې نوي هلک خبرو زما زخم داسې ورغاوه، په ياد مې هم نه دي چې ما له کوم هلک سره اړيکه هم لرله.

خو، په خبرو-خبرو کې نه یمه پوهه شوې چې په پام غلطونکې هلک کله مئینه شوې یم، دومره شدیده مینه مې ورسره پیدا شوه، چې له خبرو پرته به بې اندیښمنه وم. زوړ هلک خو مې له زړه ووت؛ خو نوې هلک بې ځای ونیوه؛ خو کله چې نوی هلک په دې پوه شو چې زه ورسره مینه لرم، نو خوبونه یې ساړه کړل. زه چې اوس د خبرو عادت شوی یم، نو هغه نه یوازې راسره سمې خبرې نه کوي، بلکې هغه وخت خبرې کوي، کله چې یې زړه غواړي. که نه نو ترڅو ورځو پورې هلو هم نه کوي، هغه که هر څومره سوال، زاری ورته وکړم او وژاړم؛ خو بس نه یې مني.

زه نه پوهېږم چې دا هلک په زړه څنګه راننوت، حال دا چې له اوله مو خبره صفا کړې وه، چې موږ یوازې ملګري یو. له زوړ هلک د ځان په خلاصولو د نوي تر جادو لاندې څنګه راغلم؟ خو دا ځل د پخوا په پرتله د مینې زور ډېر دی. اوس د پخوا په پرتله ډېره اندیښمنه یم. له ډېر څوره په پخوانې درد شکر کوم، ځکه هغه خو لږ تر لږه د زغم وړ و؛ خو دا درد مې له زغم څخه بهر دی. زه نه پوهېږم چې د خبرو پر مهال زما په زړه کې د دې هلک لپاره احساسات او جذبه پیدا شوه، خو ولې د دې هلک په زړه کې زما لپاره احساسات یا جذبه نشته؟ تاسې د دې پوښتنې د ځواب ترڅنګ دا هم ووایئ چې زه څه وکړم؟

ما ځواب ورکړ چې د اروا پوهانو په اند، تر هغې چې د زړو اړیکو ماتولو درد کم نه شي، د نوې اړیکې جوړول ښه نه وي، ځکه هغه احساسات چې له زړو اړیکو د انسان دننه پاتې وي او د نوې اړیکې احساسات سره یوځای کېږي او نوې ستونزه راولاړوي. که څه هم تاسو د اړیکې له پیل څخه پوهېدئ چې د اړیکې موخه مو یوازې پام غلطول یا ساتېرې دی؛ خو لکه څنګه چې دې له وړاندې دا کار کړی و، نو ځکه خو د پام غلطولو چل نه در تلو.

د پام غلطولو لاره دا ده چې زړه هم له یو شخص سره نه خوشحالېږي. لکه څنګه چې تا یادونه وکړه چې هلک له تا پرته له نورو ډېرو نجونو سره هم خبرې کولې، نو ځکه د هغه په زړه کې تاته احساسات پیدا کېدل څه چې ستا شتون او نه شتون هم ورته هېڅ مانا نلري. که تاسې نه یاست له کوم بل چاسره به خبرې کوي؛ خو تا تېروتنه وکړه چې له یو شخص سره دې خبرې کولې.

اوس چې هغه له تاسره خبرې نه کوي، نو تاسې نا آرامه کېږئ. خير څه چې وشول، هغه خو وشول، په ژوند کې يو ځل شوې تېروتنه بيا مه کوئ. د دې پر ځای چې د يو هلک هېرولو لپاره لـه بـل سره خـبرې وکـړئ، د اروا پوهنې د اصولو په پام کې نيولو سره، هغه لارې چارې عملي کړئ چې ما يې لارښوونه کړې او د خپل ذهن په ځواک باور ولرئ. تاسې چې زړه هلک هېر کړ، نو نوی هم هېرولی شئ.

## انتظار کوونکې انجونې

څو ورځې وړاندې مې د يوې انجلۍ مينه تحليلوله چې و مې ويـل، زما دې خاورې په خوله شي؛ خو حقيقت دا دی چې هغه بېرته نـه راځـي. د دې پـر ځای چې انتظار يې وکړئ، خپل ژوند او ځان له درده وباسـه. هغـه غلـې وه؛ خو چوپتيا يې حيرانوونکې نه وه، ځکه چې زه د يوه اروا پوه په توګه د انسـان په روان ښه پوهېږم. زه پوهېږم چې هغه په داسې يو حالـت کـې ده اوريـدل غواړي. همدا چې انتظار وکړه، يوه ورځ به په ژړا او زاريو بېرته راشي، بخښنه به غواړي؛ خو زه له خپل مسـلک سره مخلـص يـم، هغـه څـه نـه وايـم چې اورېدونکی يې اورېدل غواړي، بلکـې هغـه څـه وايـم چـې رښـتيا وي. کـه د حقيقت ويلو له امله د يو څه وخت لپاره د چا بد هم راشم، بيا هم رښتيا وايم، زه پوهېږم حقيقت تريخ وي او ډېر يې اورېدل نه غـواړي، خـو زه څـه کـولی شم، چاته د دروغو تسلي نشم ورکولی.

هغې له لږې چوپتيا وروسته وويل ښاغليه! ما دا ستونزه د کالج ځينـو ملګـرو سره هم شريکه کړه. يو ملګرې راته د يوه قاري صيب شـميره راکـړه او ويـې ويل چې زما د تره زوی هم دا ډول ستونزه درلوده؛ خو د قاري صاحب په ورښودل شوې وظيفې يا ذکر سره بېرته راستون شو او هرڅه سـم شـول. تـه هـم ورسره خبرې وکړه. کله چې کور ته راغلم، قاري صاحب ته مې زنګ ورواهه. هغه ډېر ښه او نېک سړی دی، زما خبره يې پـه غـور سره واوريـده او د يـوې مياشتې لپاره يې ذکر يا وظيفه راکړه و يې ويـل، چـې هغـه او کـورنی بـه يـې ستاسو کور ته په جرګه راشي، ان شاالله هرڅه به سم شي. زه د يـوې مياشـتې وظيفه له څو کلونو راهيسې کوم؛ خو هغه رانغی چې کله هم له قاري صاحب

سره په دې اړه خبرې کوم. هغه وايي، چې دا ټول د الله کارونه دي، هر څه د انسان په خير وي، بېړه مه کوه، صبر وکړه، يوه ورځ به په خپله راشي؛ خو زما زړه ډېر نارامه دی، فکر مې وکړ چې راشه تاسو سره خبرې وکړم؛ خو تاسو وايئ چې انتظار مه کوه. قاري صاحب وايي صبر وکړه. د قاري صاحب په اړه به بيا ووايم، هغه هم ستا په څېر ډېر ښه سړی دی؛ خو زه په دوو کې راګېره يم، څه وکړم؟

ما ورته وويل: زه په دې کې هيڅ شک نلرم چې قاري صاحب يو ښه او نيک انسان دی. هغه ريښتيا وايي او وظيفې هم کار کوي؛ خو ښايي هغه داسې بيرته راشي کله چې ستاسو په ويښتو کې سپين لګېدلي وي، نه به پنځوس کلنه يې، بيا به د قاري صاحب او وظيفې ګټې ريښتيا ثابتيږي؛ خو هغه وخت به ډېر ناوخته وي. انديښنه مه کوه، د هغه چا په تمه پاتې کېدل چې ښايي ډېر ناوخته راشي، ډېر ښې رشتې هم له لاسه وځي. د دې ستونزې حل دا دی چې انتظار نه موده وټاکې، که بياهم رانغی، نو خپل ژوند جوړ کړئ؛ خو د مهربانۍ له مخې په ياد ولرئ چې بايد د انتظار موده معلومه شي، که نه نو ټول عمر به د يو چا په انتظار تېر کړئ او که د انتظار نه کولو خبره نه منئ، نو بلـه حل لاره يې داده چې قاري صاحب بدل کړئ او داسې قاري صيب ولټوئ چې نه يوازې په تمه مو نه ساتي بلکې د انتظار موده هم دروښايي، د چا وظيفه چې د هر څومره مياشتو وي، په هماغه وخت کې دې کار تمام کړي.

واتساپ: 0779815770

# د لسم ټولګي زده کوونکې

دا د هغې انجلۍ کیسه ده، چې په کم عمر کې یې د مینې درد لېدلی....
څو ورځې وړاندې یو وروړ خپله وړه خور له ځان سره راوسته او راته یې وویل ښاغلیه! ستاسو د لیکنو لوستلو په سبب تر ډېره حده د یو انسان په احساساتو پوهېږم. زما خور په لسم ټولګي کې زده کړې کوي، مخکې به یې خندل او خوشاله به وه؛ خو اوس له ډېرې مودې راهیسې غلې ده. پخوا به یې له خلکو سره لېده کاته خوښول؛ خو اوس یوازېتوب خوښوي او څو ځلي مې لېدلې چې په پټه یې ژړل.
د مور او پلار په ګډون موږ ټول خویندې او وروڼه تر ډېره حده د یو بل له رازونو خبر یو؛ خو له دې هر څه سربېره بیا هم خپل غم له مور، پلار او خویندو سره نه شریکوي. زه نه غواړم چې دا یوازې له غم سره د مبارزې په کولو ځان ته زیان ورسوي، نو ځکه مې نن تاسو ته راوسته، تاسې یې د زړه حالت معلوم کړئ او غم یې لېرې کړئ.
له دې خبرو وروسته د انجلۍ وروړ بهر ووت. کله چې هغه بهر ووت، نو له انجلۍ مې د غم یا درد لامل وپوښته، هغې راته وویل: زه له خپل یو ټولګیوال سره مینه لرم، هغه غواړي چې پر ما داسې خبرې ومني چې زه یې منلی نشم، کله چې د هغه خبره ونه منم، نو خبرې راسره نه کوي او د سزا په توګه له نورو انجونو سره خبرې کوي چې دا حالت ما سخته ځوروي د رضا کولو لپاره یې چې هر څومره زارۍ وکړم، نه یې مني او تر هغې چې خپله یې زړه ونه غواړي له ما سره خبرې هم نه کوي.
ما له انجلۍ وپوښتل، ایا هغه هلک له تا سره مینه لري؟ انجلۍ وویل، هو کله چې ورسره خبرې کوم، نو همدا خبره کوي هغه له ما سره مینه لري او ماته هم داسې ښکاري چې هغه راسره مینه لري. ما ورته وویل لکه څنګه چې تاسو وویل، ماته هم داسې ښکاري، نو تاسو باید (ښکارېدل) پرېږدئ. هسې خو نړۍ هم ګرده ښکاري؛ خو ګرده نه ده. له همدې امله کارپوهان د واقعیت په پرتله حقیقت ته اهمیت ورکوي او لکه څنګه چې تاسو وویل چې هغه وایي، نو دا (ویل) هم پرېږدئ، ځکه هلکان ډېر څه وایي؛ خو مینه یوازې یوه کلمه نه ده بلکې د عمل نوم دی او د دې هلک عمل دا دی چې نه یوازې تاته درد

او خور درکوي او ژړوي دې، بلکې د نورو انجونو پر لوري هم ګوري او په مینه بل چا ته کتل کفر ګڼل کېږي.
ایا کله دې فکر کړی چې د مینې منزل څه شی دی؟ کله چې مې له انجلی دا پوښتنه وکړه، نو غلې یې را وکتل. ما ورته وویل، که څوک منزل مومي یا نه؛ خو د مینې د ټولو اړیکو منزل واده دی. اوس به دا هم درته ووایم چې واده څه شی دی؟ واده د دوو مینانو د تل لپاره د یوځای اوسېدو نوم دی.
ګوره، تاسې دواړه اوس په لسم ټولګي کې یئ. دا چې هلک د واده منزل ته ورسېږي، دا به لس کاله وخت ونیسي او هغه هم که تاسو سره واده وکړي، څکه هیڅ تضمین نشته چې هلک به لس کاله وروسته له تاسره واده وکړي، څکه چې د هلکانو لومړیتوبونه ثابت نه وي او د وخت په تېرېدو سره یې خوښې بدلېږي او د پام وړ بله خبره دا ده چې که تاسو پنځه یا لس کاله وروسته کوم ځای ته د سفر اراده لرئ، نو د هغې لپاره به نن ورځ خپل بېک تیاروئ او د انتظار په ډار به ځان ځوروئ؟ لس کاله ډېر وخت دی، په دومره موده؛ خو نړی په بل مخ هم اوښتلی شي.
په هر حال هغه څوک چې پرته د واده له ژمنې تاسره داسې چلند کوي، نو له ژمنې وروسته به څه کوي. ته به تر واده پورې همداسې خپه او اندېښمنه یې او ژاړې به!؟ که داسې وي نو دا خو ستا ټول شخصیت له منځه وړي. د ارواپوهنې له نظره، که یو څوک تر اوږدې مودې پورې خپه او اندېښمن وي، هغوی خوښ یا خوشحاله اوسېدل هېروي. د مینې په نوم د دې هلک له حلقې راووځه او خپل ژوند په سم ډول تېر کړه. انجلی وپوښتل: ښه له مینې به تېر شو خو ایا زه د دې هلک ملګرې کېدلی شم؟ ما ورته وویل: نه، هیڅکله هم نه، څکه د چا لپاره چې د مینې احساس پیدا شي، ملګرتیا ورسره نشي ټینګېدای. څوک چې له عاشق سره ملګرتیا کوي، خپل ځان غولوي. دوی له یوه دلدل څخه راوتلي او په بل کې بندیږي. انجلی وپوښتل، :نو بیا د دې هر څه ګټه څه ده؟ ما ورته وویل د خپل ژوند لومړیتوبونه وټاکه او د لومړیتوبونو سره سم ژوند وکړه. که په دې عمر کې ستاسو په ژوند کې زده کړه لومړیتوب نه وي، نو دا یوه لویه تاواني سودا ده. د دې پر ځای چې خپل وخت به کوم هلک ضایع کړې، خپلو زده کړو ته پام وکړه .د دې ګټه دا ده

چې دا مو ټول شخصیت ښه کوي او دې ته به اړ نه یې چې د چا پام خانته راواړوې.

## مرستندویه انجلۍ

څو ورځې وړاندې یوه انجلۍ راغله. هغې د خپلې ستونزې د بیان پرمهال یې وویل: زه له یو هلک سره ډېره مینه لرم؛ خو هغه را سره واده نه کوي. په داسې حال کې چې زه یې هر ملاتړ هم کوم؛ خو هغه له ډېرو کلونو راهیسې عذرونه کوي. کله وایي چې پلار مې ښه نه دی، له همدې امله نشم ورته ویلی، کله وایي نن مې د مور طبیعت ډېر خراب دی، که دا خبره وکړم، نو ښایي شور جوړ شي او خبره به د جوړېدو پرځای خرابه شي. له څو کلونو راهیسې یې د همدې بهانو په سبب زه د انتظار په دار ځړولې یم. ښه پوهېږم چې دا یوازې بهانې دي، کنه نو څوک چې یو کار کوي، نو په هر ستونزمن وخت کې یې کولی شي؛ خو کله چې ورته وایم که واده راسره نشې کولی، نو ما پرېږده؛ خو هغه وایي چې هېڅکله دې نشم پرېښودلای. ما سره هیڅکله د پرېښودو خبرې مه کوه او همدا خبره یې زما ډېره خوښېږي. د هغه همدا یوازینی ځانګړه چې ما نه پرېږدي؛ خو همدا خبره مې خوروي هم، چې نه مې پرېږدي او نه مې خپلوي. زه په دې هیله یم چې ښایي یوه ورځ به یې زړه وخوږېږي چې دا نجلۍ زما لپاره دومره څه کوي او ما سره واده وکړي.

ارواپوهان د دې لپاره چې پر یوه شخص یا اړیکه پوه شي، د هغې په اړه یو شمېر پوښتنې کوي، نو پوښتنه مې ترې وکړه، تا د خپلې اړیکې د کیسې بیانولو پرمهال یوه جمله وویله چې زه یې هر ډول ملاتړ کوم، د دې مطلب څه دی؟ هغې ځواب راکړ: زه دنده لرم او هغه هم کار کوي؛ خو کله چې پیسو ته اړتیا ولري، نو زه ورسره مرسته کوم. یوازې د اړتیا له مخې نه، بلکې ډېری وختونه رانه پیسې اخلي، که پیسې ور نکړم او غوښتنه یې ونه منم، نو ضد کوي. ډېر وخت ورته شیان اخلم او هغه همېشه راتلو چې مانه دا یا دا واخله.

زه له واده وړاندې ټول هغه کارونه ورسره کوم چې له واده وروسته کېږي. په لومړیو کې مې نه منله؛ خو په دې رضا کړم چې واده درسره کوم، نو دې کې څه ستونزه ده، که نه یې نه منې نو له نورو انجونو سره به یې وکړم چې بیا څه

ونه وايې. زه وویریدم او نه مې غوښتل چې هغه له بل چا سره ووينې. نو هر څه ته چمتو شوم.
ما انجلۍ ته ووېل، يوه دقيقه، ته لږ ودرېږه او حرکت وکړه. هغه حيرانه شوه او پوښتنه يې وکړه چې ولې، څه وشول؟ ما ورته ووېل: حتى معلولې انجونې هم دا ډول کارونه نه کوي؛ خو بيا هم غواړم وګورم چې تاسو څه کمې لرئ. ته څه کمې لرې چې د پيسو، ډالیو او بدن په ورکولو اړيکه ساتې. د هغه هلك ذهني حالت به څه ډول وي چې له يوې نجلۍ څخه پيسې اخلي او خوري يې؟ په ياد ولره، له يو داسې چا سره چې د فلج شوي ذهنيت لرونکي وي، ټول ژوند د مينې يا واده په نوم نشي تېربدلی.
دا ډول عاشق به سبا ستا د اولادونو څه ډول پلار کېږي؟ هغه پلار چې د مور په پيسو يې ژوند کوي. د ماشومانو د ذهني ودې لپاره بوازې د پلار شتون اړين نه دی، بلکې پلار بايد د پلرونو په شان کار هم وکړي. زه تاسو ته مشوره درکوم، دا چې تاسې له چا سره واده کول غواړئ، دا خو ډېره لېرې خبره ده، حتى که هغه له تاسو سره واده کول غواړي، نو هيڅکله يې مه کوئ. له سترګو مو د احساساتو لينزونه لېرې کړئ. مينه خو له حيواناتو سره هم مينه کېږي، نو اوس به يو انسان له څاروي سره واده کوي؟
پاتې شوه دا خبره، تاسو وايئ چې هغه ستا له ټينګار پرته هم تا نه پرېږدي، نو دا خو د خوشحالۍ خبره نه شوه، ځکه هغه نه له تاسره واده کوي او نه دې پرېږدي. هغه به چېرته داسې انجلۍ پيدا کړي چې پيسې، ډالۍ او بدن ورکوي او په بدل کې يې غولوي. هغه پوهېږي چې ستا په څېر احمق يا کم عقل خلك ژر نه موندل کېږي. يوه بله خبره هم بايد په پام کې ونيسې. له هغه هلك سره چې واده کوي، نو هغه کارونه چې له واده وروسته کېږي، تر واده وړاندې يې مه کوئ؛ فرض کړئ هغه هلکان چې له واده وروسته کارونه له واده وړاندې کوي، نو فکر وکړئ هغه هلك چې د اړيکې په قدر نه پوهېږي، نو له سره له واده وروسته به يې د اړيکې معيار څه وي؟

# آزاد خیاله انجلۍ

یو ځل یو هلک او نجلۍ چې یو له بل سره یې ډېره مینه درلوده؛ خو ډېر وخت به یې په خپلو کې جنجال او خپګان وو. د دې لپاره زما ځنګ ته راغلل ترڅو پوه شو که واده وکړي، آیا واده به یې بریالی وي؟ انجلۍ د جنجال لامل راته بیان کړ او و یې ویل، چې هلک ډېر تنګ نظره دی. په داسې حال کې چې زه آزاد فکره انجلۍ یم. دا غواړي زه پرده وکړم او ځان پټ وساتم؛ خو آزاد خیاله روزل شوې یم، زما مور او پلار ډېر ښه دي، هغوی هېڅکله زما مخه نه ده نیولې. څه ډول جامې مې چې خوښې وي، اغوندم یې، څه مې چې زړه غواړي، کوم یې او هر ځای ته په خپله خوښه ځم، نو کله چې دا زما مخه نیسي، سخته نا آرامه کېږم. زما ذهن په مخنیوي عادت نه دی، نو ځکه خو د دومره مینې سربېره بیاهم زموږ ترمنځ جنجال وي. نجلۍ راته وویل چې زموږ کورته د یو آزاد خیاله هلک جرګه راغلې ده. اوس پرېکړه نشم کولی چې له چا سره واده وکړم؟ هغه سره چې زما همفکره دی او که له هغه سره چې زه ورسره مینه لرم؟

مخکې له دې چې زه څه ووایم. هلک وویل: ښاغلیه! دا راته ووایه چې له خپلې راتلونکې مېرمنې څخه دې د پردې کولو غوښتنه ګناه ده؟ ما هلک ته وویل: زه تاسې هلکانو ته حیران یم، کله چې ته په دې نجلۍ مئین شوې، ایا هغه وخت یې حجاب کړی و؟ د پردې کولو غوښتنه هیڅ ګناه نلري؛ خو هغه نجلۍ چې ته پرې مئین شوې، هغه بې حجابه وه. که پرده درته ډېره مهمه وه، نو هېڅکله به دې هم بې حجابه انجلۍ نه وه خوښه کړې. دا چې بې حجابه انجلۍ دې خوښه کړه اوس یې حجاب کولو ته اړ کول څه ډول مینه ده؟ مینه خو په هر حالت کې د یو چا د منلو یا قبلولو نوم دی.

تاسې دواړه ډېر مختلف نظرونه لرئ، نو فکر نه کوم چې تاسو دواړه باید واده وکړئ. په عام ډول کله چې څوک ما ته راځي، پوهېږم چې هغوی د خپلې خوښې مشورې غواړي؛ خو زه ورته پر حقیقت ولاړې مشورې ورکوم. حقیقت تریخ او دردونکی وي، نو پر دواړو زما خبره بده ولګېده؛ خو نجلۍ چې حقیقت یې خوښاوه، نو د بد احساس سره-سره یې بیا هم زما خبره زړه ته وغورځېده.

بیا دواړه لاړل. نجلی له هغه هلک سره واده وکړ چې همفکره یې و او خپل منین یې پرېښود. کله چې انجلی له واده څو کاله وروسته راغله، ډېره خوشحاله وه. هغې نیلي رنګه جینس او طلایي شرټ اغوستی و. هغې راته وویل چې د واده لپاره یې سمه پرېکړه کړې او د هماغه یوې پرېکړې له امله یې ژوند له خوښیو ډک دی.

څه موده وروسته هغه تنګ نظره هلک هم له په ناڅاپي ډول له خپلې مېرمنې سره زما لیدو ته راغی. ما ولیدل چې مېرمن یې حجاب اغوستی و. هلک راته وویل چې په امریکا کې اوسېږي او سره له دې چې په امریکا کې اوسېږي، مېرمن یې حجاب اغوندي دواړه ډېر خوشحاله دي.

په ذهني توګه غلامه انجلی

یوې نجلی راسره اړیکه ونیوله او پوښتنه یې وکړه چې ښاغلیه! زه له یو هلک سره مینه لرم. هغه تل له ما سره د اړیکې پاللو او د واد کولو ژمنې کړي؛ خو اوس چې د واده وخت دی وایي چې زما کورنی به هېڅکله تا د اینګور په توګه ونه مني، ځکه خو نشم کولی چې له تا سره واده وکړم؛ خو زه له تاسره مینه لرم، که واده زما د وس خبره نه ده، څه وشول اړیکه خو درسره پاللی شم.

نو غواړم خپل پاتې ژوند له واده پرته درسره تېر کړم او ته به هم ما نه پرېږدې. له واده پرته یوځای ژوند کول زما له عقله بهر دي، نو ځکه مې ورته سپینه خبره وکړه چې که واده نشي کولی، نو هېڅ ډول اړیکه راسره مه ساته، پرې مې ږده؛ خو زما له بار-بار ویلو سربېره هم هغه هغه ما نه پرېږدي او وایي نشم کولی تا پرېږدم، زه خو د هغه په پوهولو نوره ستړې شوې یم، څه وکړم؟

ما ځواب ورکړ: زما په اند هغه نجلی چې له هلک څخه د پرېښودو غوښتنه کوي، ښایي په دې نه وي خبر چې سړی، ښځه نه، بلکې تل ښځې دویم نمبر یا خراب سړي پرېږدي. آیا داسې کوم دویم نمبر سړی دې لیدلی چې هغه دې ښځه پرېښې وي؟ په یاد ولره چې دویم نمبر سړی ښایي د یوې ښځې له ژوند څخه د څو ورځو، میاشتو یا حتی کلونو لپاره ورک شي؛ خو د تل لپاره هغه ښځه نشي پرېښودی، ځکه چې هغه په خپل ژوند کې هره ښځه که ښځه کولی شي یا نه؛ خو د ملګرتیا، مینې یا محبت په نوم یې د خپل حرم

برخه ګرځوي، ترڅو خپل حرم پرې آباد وساتي. (حرم هغه ځای ته وايي، چې پاچاهانو به پکې د خپلې خوښې ښځې له نکاح پرته ساتلې).
هغه هلک سمه خبره کوي چې هغه تاسو نشي پرېښودی، ځکه دا پرېکړه باید نه وکړې چې له واده پرته د هغه په حرم کې ژوند کول غواړې یا نه. د هغه د پوهولو پر ځای ځان پوهه کړه. کله چې هغه درته په خپله خوله وايي چې زه تاسره واده نشم کولی، نو څه شی پاتې شو؟ له هغه سره هیڅ اړیکه مه ساته. هرڅومره ژر چې شوني وي د هغه حرم پرېږده، ځکه یوازې په ذهني توګه غلامې نجونې له واده پرته د چا په حرم کې ژوند کول خوښوي.

## هوښیاره انجلۍ

زما بریتانوي همکارې ماته له رارسیدو سره سم وویل: تېره ورځ یوه حیرانوونکې پېښه وشوه، ما ډېر بد او د حیرانتیا احساس وکړ. ما وپوښتل: څه پېښ شوي و؟ زه چې د مرینا په کومه ودانۍ کې اوسېږم، هلته یو امنیتي ساتونکی دی، ډېر ښکلی دی، په تګ راتګ کې سلام اچوي. زه ډېره خوشحاله شوم چې ډېر ښه اخلاق لري، څو ورځې وړاندې ما لږ کیک جوړ کړ او کله چې هغه راياد شو، نو هماغه کیک مې ور وړو، هغه ډېر خوشحاله شو، د هغه نوم یونو دی. هغه ساتونکی دی. ښه اخلاق لري، ځکه خو مې کیک ور وړو؛ خو خدای خبر چې هغه ترې څه مطلب واخیست.
تیر ماښام یې دروازه راوټکوله، ما چې دروازه پرانیسته، نو هغه راته مخته ولاړ وا و یې ویل دننه درشم. ما عجیب احساس وکړ. زه یوازې ژوند کوم او په دې د کوم پردي شخص رادننه کېدل نه خوښوم؛ خو هغه لږ خپه ښکارېده، لکه څو شپو چې نه وي وېده شوی. ما له ځانه سره وویل چې سړی خو دومره ریاکار کېږي هم نه، خدای خبر چې دا کم بخت به څه ستونزه لري او خبرې اوریدو کې یې څه ګناه ده؟ هغه دننه راغی او په صوفه کېناست. ډېر وخت غلی و، ما هم په حیرانتیا ور کتل، اخر مې زړه غټ او ومې وپوښته، هر څه خو سم دي؟ خپه ښکارئ.
له یوه څه فکر کولو وروسته یې وویل: یوازې تاسې نه، بلکې زه هم درسره مینه لرم؛ خو دوکه نشم درکولی، ځکه خو وایم چې ما واده کړی دی او دوه

ماشومان هم لرم. هغه په موبایل کې د خپلې کورنۍ عکس راوښود او و یې ویل، که د دې حقیقت په پوهیدو سره، بیاهم غواړې له ماسره اړیکه ولرې، نو زه هیڅ اعتراض نلرم. زه مخلص یم او له څو ورځو راهیسې د شپې هیڅ خوب نه لرم او په دې سوچ کې یم د یوه واده شوي او دوو ماشومانو د پلار په توګه تاسې ته د خپلې مینې اظهار څنګه وکړم. زه تر ډېره په هیڅ نه پوهیدم او په حیرانتیا مې ورته وکتل چې دا څه وايي. بیا چې لږ پوهه شوم. نو غوسه راغله او ورته مې وویل: په هوښ خو يې کنه!؟ دا څه وايې!؟ ما د انسانیت له مخې د موسکا ځواب په موسکا درکړ او که د کیک خبره شي. هغه مې خپله جوړه کړې او له زړه خوږې مې درکړ.
هغه زما د غوسې هیڅ پراو ونه کړ او په بشپړ ډاډ سره يې وویل: دا ستا حق دی او غوسه هم کولی شې؛ خو ما دا مناسب نه ګڼله چې تاته دهوکه درکړم. اوس چې ماته هر ډول سزا راکوې، زه ورته چمتو یم؛ خو نه غواړم چې ستا مینه له لاسه ورکړم. ما ورته وویل: اووف خدایه! دا پر تاسو څه وشول، د څه شي مینه؟ تاسې لېوني شوي یاست؟ د پوهیدو هڅه وکړئ، غلط پوه شوي یاست، که وفا کول غواړئ، نو له هغه چا سره يې وکړئ چې تاسو ورسره واده کړی او دوه ماشومان زیږولي دي، زما سره وفا کول به تاسو ته هیڅ ګټه ونه کړي. په غوسه مې ورته وویل: یوازې مې پرېږدئ، همدا اوس له دې ځایه ووځه. کله چې هغه ووت، نو په دې فکر کې شوم، چې یو کس د یوې کورنۍ په درلودلو سره څنګه دومره نا هیلی کېدلی شي چې د یو چا لږه خواخوږي هم مینه ګڼي؟ زما دوه ورځې دعا او سلام او دی وایي دهوکه نشي راکولی، د هغه د ښځې او ماشومانو به څه حال وي؟ چې له کلونو راهیسې ورسره ژوند کوي، هغوی ته د دهوکې په ورکولو څنګه له ماسره اړیکه جوړوي؟ غولونکیه! زه دومره پرېوتې هم نه یم چې له یوه واده شوي سړي سره اړیکه جوړه کړم. بس له ځان سره مې وویل چې سبا به له تاسره په آرامو دماغو په دې ټولو خبرو ځان پوه کړم.
ما په خندا ځواب ورکړ: دې ته کلتوري توپیر ویل کیږي. له همدې امله اروپوهنه وايي چې د انسان د درک کولو لپاره د هغه په کلتور پوهیدل ډېر اړین وي. که نه نو په سمه توګه به يې ونه پېژنې. په پاکستان کې ښځې له

نارینه وو سره خبرې نه کوي. کله چې یوه ښځه له یوه سړي سره خبرې کوي، نو هغه فکر کوي چې مینه ورسره لري؛ خو ستاسو په اروپا کې وګوره ( هغې زما خبره پرې کړه، ټوله اروپا زما نه ده).

ما په موسکا خپلې خبرې ته داسې دوام ورکړ لکه هغې چې هیڅ نه وي ویلي. ګوره! لکه څنګه په اروپا کې یوه ښځه درول کېږي او مرسته ترې غوښتل کېږي، دا ډول کړنې په ساده هېوادونو کې نشي-کیدی. هلته، که تاسې په سړک یوه ښځه دروئ او خبرې ورسره کوئ، نو ښايي غلط مطلب ترې هم واخیستل شي، څکه نارینه او ښځې سره ډېرې خبرې نه کوي، نو که ښځه د یو سړي په وړاندې لږ نرمښت وښايي، نو سړی پرې مئینېږي او یوازې په ساده هیوادونو کې نه، بلکې په ټوله نړۍ به دې نه وي لیدلي چې ناهیلي خلک یوازې د یو چا په تش لیدلو هم مئینږي، خبرې کول لېرې خبره ده. یو طرفه مینه کول چې پوهېږې هم نه چې مقابل اړخ دې قاتل دی، مجرم دی... که ژور خپګان نه دی نو څه شی دی؟ زه خو یو ناڅاپه د مینې استاد شوم او دلته یو بله خبره خورا مهمه ده. په تنګ نظره هېوادونو کې سپین پوستکي یا ښکلي خلک ډېر بد ګڼل کېږي، هغوی دا فکر کوی دوی هیڅ اصل یا معیار نلري، دوی له هر چا سره اړیکه جوړوي. هغه په حیرانتیا وپوښتل، دا دې په کوم کتاب کې لوستي؟ ما ځواب ورکړ، د ژوند په کتاب کې، نو مور دواړه وخندل.

# ایسکریم ولا نجلی

ایا ته خوښه یې؟ د ارواپوه په حیث خوښي ماته اهمیت لري. زه ډېر خلک گورم چې په جسمي ډول روغ نه وي؛ خو ډېر خوښ وي او ډېر خلک گورم چې په جسمي ډول روغ وي؛ خو ناخوښ وي.

په عام ډول چې کله دوه کسان سره مخامخ کېږي، نو له یو بل پوښتي چې څنگه یې؟ یا څه حال دی؟ څو کاله وړاندې ما یو پوښتنه زده کړه چې باید له خانه یې هم وپوښتو چې ایا زه خوښ یم؟ د ځان په شمول له نورو هم دا پوښتنه کوم چې ډېر جذباتي ځوابونه راته پکې پیدا کېږي. دلته یې دوه بېلگې درسره شریکې کړم.

څو ورځې مخکې زه د خپلې خوښې ایسکریم خانې روبینز ته لاړم، هلته مې له ایسکریم راوړونکې نجلی وپوښتل چې ته خوشحاله یې؟ هغې د معمول په څېر ځواب راکړ چې هو ښه یم. ما یې د پام راگرځولو لپاره خپله پوښتنه بیا تکرار کړه. هغې ایسکریم کېښود، په حیرانی یې راوکتل او راته یې وویل: څه؟ ما درېیم ځل خپله پوښتنه تکرار کړه. هغې راته وویل: څه گټه لري چې زه خوشحاله یم که خفه؟ ما ځواب ورکړ: هو ولې نه، په ژوند کې خوښ اوسېدل ډېر اهمیت لري. هغې وویل: تر اوسه هیچا له ما څخه دا پوښتنه نه ده کړې، حتی ما له خپل ځان نه هم دا پوښتنه نه ده کړې او دې سره خفه شوه.

څو ورځې وړاندې د یو پښتون نانوایي ته د ډوډی اخیستو لپاره ورغلم او ورته مې وویل چې خان صیب! ته خوشحاله یې؟ هغه وویل لږ صبر. بیا یې له تنور څخه ډوډی راوویسته چې ونه سوځي. ماته یې مخ کړ او ویې ویل: اوس وایه څه دې ویل؟

ما بیا پوښتنه وکړه: ته خوشحاله یې؟ هغه په دې پوښتنې سره په کټ کټ وخندل او له ځان سره یې پوښتنه تکرار کړه، ایا زه خوښ یم؟ ایا زه خوښ یم؟ بیا یې وویل: کاش چې دا پوښتنه مخکې را رسېدلې وای.

اوس له خپله خانه وپوښتئ چې ایا زه خوښ یم او که مو ځواب پیدا نه کړ، نو د ځان خوشحالولو لپاره عملي اقدام وکړئ.

# برباده نجلۍ

يوه نجلۍ، په ټولنيزه ژبه له کوره تښتيدلې او په رواني ژبه له کوره خفه لاهور ته راغله. هلته يې ماته ټيليفون وکړ او راته يې وويل چې ته بناغلی صابر يې؟
ما ورته وويل چې هو. له دې سره په ژړا شوه او چې ښه يې زړه سپک شو، بيا يې راته وويل چې زما ژوند ته د راتللو لپاره دې ډېر ناوخته کړ، زه برباده شوم.
ما ورته وويل: بربادېدل هيڅ نه دي. کمزورې نجونې ژر غورځي؛ خو د دې مطلب دا نه دی چې هغه ختمه شوه. کله چې دوی له غورځېدو وروسته بيا راپورته کيږي او له سره ځان جوړوي، نو له پخوا ډېر ځواکمنې کيږي او ژر نه غورځي. هغې راته وويل چې زه له تا سره ليدل غواړم. ما ورته وويل چې زه يوه اونۍ په لاهور کې يم، ته زما له منيجر سره وخت وټاکه او راشه.
څو ورځې وروسته هغه نجلۍ زما مخې ته کېناسته، تر ډېره يې هيڅ نه ويل او ژړل يې. د هغې په سينه کې ډېر خبرې وې چې يو ټيشو پيپر يې د اوښکو بوج نشو اوچتولی او بيا، بيا يې نوی ټيشو پيپر غوښتلو، له اتم ټيشو پيپر اخيستو وروسته يې خپلې اوښکې پاکې کړې او راته يې وويل: ستا په خبرو کې اغيز دی، زه ستا هره خبره منم؛ خو خبر دی له لاهوره د بېرته تلو راته مه وايه. هر څه چې وايې. (ما پاس يوه خبره وکړه چې زه د مشورې په دوران کې ټيشو پيپر هم شمارم او ليکم يې. له دې سره يې د درد شدت راته معلومېږي چې يو څوک په لومړي ځل مرستې غوښتلو سره اته ټيشو پيپر استعمالوي او په دويم ځل مرستې سره هيڅ ټيشو پيپر ته اړتيا نه لري).
ما ورته وويل: په لاهور کې لکونه خلک اوسيږي، زه ولې تاته د بېرته تلو ووايم. هغه ارامه شوه او راته يې وويل چې په رښتيا راته د بېرته تللو نه وايې؟
ما ورته وويل: چېرته چې ته خوشحاله يې، زه ولې له هغه ځايه د بېرته تلو درته ووايم، زه ستا خوشحالي نشم درنه اخيستی؛ خو يوه خبره راته وکړه، په هغه ځای کې څه و چې ته ترې راغلې او بېرته نه ورځې؟ هغه په ژړا شوه او په ژړا کې يې راته وويل: هلته تياره ده. کوچنی پارک دی. تنګ ذهنه خلک دي. دهوکه ورکوي. د نورو له خوښيو سره لوبې کوي.
ما ترې وپوښتل: په لاهور کې څه دي چې تاته ښه ښکاري؟ هغې وويل: د پرمختګ موقع شته. خلک يې تنګ ذهنه نه دي. دا خلک په دومره توجو زما

خبرې اورې چې هلته که ټول ښار راټول کړې هم زما خبرې يې په دومره توجو نه اورېدې. هغوی داسې ګڼي چې نجونې هيڅ هيلې او خوبونه نه لري. هيڅ نه شي کولی.
ما په مسکا ورته ووېل: زه له تا فيس اخلم چې خبرې دې اورم. (زه کوښښ کوم چې مرسته غوښتونکي له حقيقت څخه لرې پاتې نه شي).
نجلې ووېل: فيس کومه مسله نه ده؛ خو چې څوک خو دې خبره واوري، هلته د فيس اخيستلو سره هم څوک ستا خبره نه اوري. هيڅوک د چا زخم نه ويني. پيسې واخله او له خپل زخمي روح سره وردېږه او ژاړه.
ما ترې وپوښتل چې د خان په اړه پوهېږې؟ هغې خواب راکړ چې نه. ما ورته ووېل: ته يوه سيده او ساده نجلۍ يې او لاهور د چالاکو خلکو ځای دی. دلته له کار کولو وړاندې په خپل ځان کار وکړه، ګنې خلک به دې د خوبونو دا رنګينه نړۍ پايمال کړي.
په لومړۍ مشورتي ناسته کې مو څه خبرې وکړې. څه حل لارې مې ورروښودې او لاړه.
څه وخت وروسته يې راته زنګ وکړ او مخکې له دې چې څه ووايي، ما ورته په خندا ووېل: څنګه يې بربادې نجلۍ! هغې راته ووېل چې ښاغلیه ته له دومره خلکو سره ګورې، بيا دې هم زه په ياد يم.
ما ورته ووېل: زه په تا ليکنه کوم، زه هر څوک هېروم؛ خو پر چا چې ليکنه کوم، هغوی تر ډېره نه هېروم.
هغې راته ووېل: تا سره له خبرو وروسته زه بېرته کور ته راغلم. اوس پر ځان کار کوم چې په لاهور کې کار وکړم. مننه چې زه او زما خوبونه دې وژغورل.

# بلاک شوې نجلۍ

څو ورځې وړاندې یوې نجلۍ ټلیفون راوکړ او سخت یې وژړل. ما فکر وکړ چې ښایي څوک یې مړ شوی وي؛ خو کله چې هغې وویل چې ښاغلیه! هغه زه بلاک کړې یم، ما په حیرانۍ وپوښتل: د یو چا د بلاک کولو لپاره دومره خفه یې او ژاړې؟ د دومره ژړا اجازه خو درته د هغه په مړینه هم نه درکوم. څومره چې د هغه په بلاک کولو ژاړې. هغه خاموشه شوه او بیا یې زما د پوښتنې په ځواب کې چې تا هم کله څوک بلاک کړي دي، راته وویل: ولې نه. ما هم خلک بلاک کړي دي. ما ورته وویل: کوم کار چې تا له نورو سره کړی، اوس تا سره وشو، نو دې کې د ژړا څه خبره ده. هغه خاموشه شوه او ما ورته وویل چې ته پوهېږې یو څوک ولې بل کس بلاک کوي؟ د دې لپاره چې نه غواړي، د نورو له لاسه خفه او اندېښمن شي. په ټلیفون د یو چا د بلاک کولو موخه دا نه ده چې هغه ترې نفرت کوي، یایې مینه مړه شوې ده. په اصل کې هغه د خپل خفګان د لرې کولو لپاره دا کارکوي. په بلاک کولو یوازې اړیکه بلاک کېږي، له منځه نه ځي، ځکه د اړیکې ختمولو لپاره خواري کول ضرور دي او له خوارۍ پرته دا امکان نه لري.

نجلۍ وپوښتل: ښاغلیه! که تا څوک بلاک کړي، تاته به څنګه ښکاره شي؟ ما ورته وویل: ماته به ښه ښکاره شي. زه به ارام شم. بې غمه به شم، ځکه ما فکر کړی چې په موږ انسانانو کې دننه یو کوچنی فرعون شته چې موږ په پاللو، پاللو لوی کړی او هغه دا ډول خبرې بدې ګڼي. د همدې لپاره زه د خپل داخلي فرعون پوره خیال ساتم. کله چې هم ماته یو څه خراب ښکاره شي، نو زه له ځانه دا پوښتم چې ایا دا په رښتیا خراب دي، یا یوازې زما په داخل کې فرعون ته خراب ښکاري؟ خلکو سره د دې پوره اختیار شته چې هغه ما بلاک کوي او که نه، بلکې د خفګان پر ځای خپله دا وایم چې زه د چا د خفګان سبب ګرځم، هغه باید ما بلاک کړي. دې کار سره به یې هغه اندېښنه بلاک شي چې له ما ورته رسېږي.

# د بیلتون نمانځونکې نجلۍ

له پرېښودو وروسته څه کوئ؟

یوې نجلۍ راته وویل چې ښاغلیه! څه وخت مخکې زما اړیکه ختمه شوه.یو هلک زه پرېښودم. زه ډېره خفه شوم، ښه ډېر مې وژړل. کله مې ملګرې له دې خبر شول، راته یې وویل چې راځه بهر ته لاړ شو. لږه شوخي وکړو او د پرېښودو جنش جوړ کړو. موږ به له تا سره د میلمستیا د خوښۍ انځور واخلو او فیسبوک پروفایل ته به یې پورته کړو چې ښه وشول ته له هغه بې غمه شوې. کله چې هغه ستا د خوښۍ نه ډک تصویر وګوري زښت به خفه شي چې هغه ما پرېښوده او بیخي یې کیسه کې هم نه ده. د بیلتون د میلمستیا لپاره دې څه خیال دی؟

ما ځواب ورکړ چې د بیلتون میلمستیا یوازې په فلمونو کې ښه ښکاري. په حقیقي نړۍ کې دا شیان نه وي. که څوک درته ووایي یا نه او که هر څومره خوښ یې؛ خو له بیلتون وروسته زړه خامخا دردېږي. له بیلتون وروسته بل ته درد ورکول، له خپل تکلیف زیاتولو پرته بل هیڅ هم نه لري، ځکه د دې موخه دا دی چې هغه ګس ته پرېښې یې؛ خو ته اوس هم په ذهني ډول له هغه سره بنده یې او ځان ترې نشې خلاصولی. له دې میلمستیا وروسته موقتي خوند ترلاسه کړې؛ خو همیشنۍ ترې نشي ترلاسه کېدای. د یو ارواپو په حیث ماته موقتي خوښي هیڅ اهمیت نه لري. زه تل همیشنۍ خوښۍ ته ترجیح ورکوم. د دې سوچونو او کارونو پر ځای د خپل ځان په رغولو کار وکړه چې له داخل نه خوشحاله شې او بهرنۍ دروغجنه خوشحالي باندې ځان بوخته نه کړې. په یاد ولره چې له بیلتون وروسته خوښ ژوند ترلاسه کول او خوښ اوسېدل له مقابل لوري غوره بدل اخیستل دي.

ډېری خلک پوښتي چې له بیلتون وروسته باید څه وشي؟ د یو اروابوه په حیث ورته دا وایم چې له بیلتون وروسته باید غایب شئ، هیڅ خبر بهر ویستلو ته مه پرېږدئ. له بیلتون وروسته ته خوښ یې؛ خو دا خبره باید تر خپلې دایرې پور محدوده وي. دا باید له نورو سره شریکه نه شي، په ځانګړې ډول هغه چا سره چې ته یې پرېښې یې. ستا هیڅ خبر باید هغه ته ونه رسېږي

چې پرېښودونکی شخص ټول عمر په دې اذیت کې تېرکړي چې ما پرېښی شخص اوس په څه حالت کې دی.

## ډېره شتمنه نجلۍ

څو ورځې وړاندې یوه ډېره شتمنه نجلۍ زما خواته راغله، د هغې د شتمنۍ اندازه راته د هغې له عطرو، جامو، بوټونو او لاسي بکس څخه چې د یوې انګلیندي کمپنۍ براند و، معلوم شو. دا براند په ټول پاکستان کې نشته. له دې معلومېده چې هغه ټوله سودا په بهر کې کوي. له کوم لوړ قیمت لرونکي موټر نه چې راښکته شوه، د هغه دروازه د سپینې دریشي ولا یو ډریور خلاصه کړه. دا خبرې مې د دې لپاره درته وکړې چې یوه شئ دومره شتمنه او لوړ خیاله نجلۍ د یو بې کاره هلک په مینه کې ښکېله وه چې دې ته یې پرلپسې ذهني اذیت ورکولو.

ما فکر وکړ چې دا نجونې څومره عجیبې دي. تر ټولو لوړ قیمت جامې، عطر، بوټان او میکپ استعمالول او ځان ښایسته کول یې زده دي؛ خو د اړیکې په جوړولو نه پوهېږي چې پایله یې په بې کاره هلک خپل زړه بایلل وي. د یو اروابوه په حیث یې درته وایم چې هلک وي، که نجلۍ، یوه ورځ باید له ځان سره کیني او د خپلې مینې معیار معلوم کړي چې د کوم معیار کس سره باید اړیکه جوړه شي. دلته باید یوه خبره په یاد ولرئ چې د انسانانو معیار له شیانو نه، له هغې اړیکې معلومېږي چې له بل کس سره یې لري، ځکه خو له بې شمېره دولت او شتمنۍ سره هم فرعون په "خرابو کسانو کې شمېرل کېږي.

ښایي دا خبره مې تر تاسې ناوخته در رسېدلې وي او تاسې د یو فرعون صفته انسان په اړیکه کې د ښکېلېدو تېروتنه کړې وي. په دې کې هیڅ خبره نشته، انسان په هر وخت کې د غوره ژوند د ترلاسه کولو فیصله کولی شي. ژوند له ورانکارو او ناسمو خلکو سره د تېرولو پر ځای له دې اړیکې ځان وباسئ.

# هلکان مه ګورئ!

څو ورځې وړاندې زه په کنبال سړک روان وم. څه هلکان مې ولیدل چې ون ولنګ کوي. ما د یوه تر ټخنګ موټر ودرولو او تـرې مـې وپوښتل چې زه اروابوه یم او غواړم پوه شم چې تاسې ولې داسې کوئ؟ په دې کې څو د مرګ خطر دی، ولې خپل ځان په خطر کې اچوئ؟ یو هلک ځواب راکړ چې دا خوند راکوي. ما ورته وویل چې که خبره یوازې د خوند وي، نو خوند خو په ډېرو نورو شیانو کې هم شته. دې کار ته څه اړتیا ده!؟ په دې کې یو هلـک وویل چې کـه رښتیا درتـه ووایـم دا کـار د دې لپـاره کـوو چـې نجونې راتـه راګوري او دا کار ډېر خوند راکوي.

ټولو په دې خبره هو وکړل او ماته معلومه شوه چې دوی دا کار د خلکو د پـام راګرځولو لپاره کوي. دې کار ته په اروابوهنه کې د پاملرنې جلبولـو رویـه یـا ( attention seeking behaviour ) وایي. زه درته یوه خبره وکړم چې زمـوږ د ټولنې د هلکانو اروابوهنه یو څه مختلفه ده. دا له نجونـو پیلیږي او پـه نجونـو ختمیږي.

دا ول ولنګ کول، د خلکو لپـاره نـه، یـوازې د نجونـو د پـام راګرځولـو لپـاره کوي. حکومت په ډېرو روپیو په اخبارونو کـې د ول ولـنګ خـلاف اعلانونـه کوي. د دې مسلې حل دا دی چې له نجونو وغوښتل شي، کله چې په سـړک کوم هلکان ول ولنګ کوي نجونې باید ورته پام ونه کړي. کله چې هلکان پوه شي، نجونې ورته نه ګوري خپله دا کار پرېدي.

نوټ: دا لیکنه یوازې د هغه هلکانو لپاره ده چې د نجونو د پام راګرځولو لپـاره ول ولنګ کوي. ضرور نه ده چې هر هلک د پام راګرځولو لپاره داکار وکړي.

# بې ادبه نجلۍ

ترافيکي اشاره بنده شوه او له ما مخکې موټر ناڅاپي بريک ونيو، ما هم وروسته ناڅاپي بريک ونيو. بريک مې سخت ونيو؛ خو ښه و چې موټر مې له ټکر نه بچ شو. هغه موټر يوې ښځې چلولو. هغه د خپل شک لرې کولو لپاره له موټره راښکته شوه او ويې کتل چې موټر يې نه دی ټکر شوی، بيا زما خواته راغله. ښځه ډېره ښايسته او د لوړو زده کړو لرونکې معلومېده او لوړ قيمت کورتۍ يې اغوستې وه. يوه خبره بايد وکړم چې ځينې خلک تر هغې ښکلي او باسواده معلومېږي چې غږېدلي نه وي. دا ښځه هم همداسې وه. څنګه چې راغله خپل هر څه يې تر خاورو لاندې کړل او بې ادبي يې شروع کړه. ډېر څه يې وويل؛ خو هغه چې ماته ياد دي، دا وو چې ولې ړوند يې؟ په کومو سوچونو کې غرق يې؟ سړکونه د فکر لپاره نه، د موټر چلولو لپاره دي، چې موټر نشې چلولی، نو ولې سړک ته راوځې؟ نورې يې هم ډېرې خبرې وکړې؛ خو زه د هغې د سلوک او رويې په فکر کې وم چې دا دومره تمثيل ولې کوي؟ حال دا چې زما موټر د هغې له موټر نه نوی او قيمتي و. کله چې يې په بدو ردو او چغو څه ونه شول، پام يې شو چې زه ولې غلی يم او څه نه وايم، نو يې راباندې سترګې را برګې کړې او راته يې وويل ګونګی يې؟ ولې خبرې نه کوې؟ ما په ډېر ارام سره ځواب ورکړ، موټر خو نه دی لګېدلی.

هغه چې زما همدې خبرو ته انتظار وه، په زوره يې وويل: که لګېدلی وای بيا!؟ ما ورته وويل: که لګېدلی وای، بيا به دې چغې او بې ادبي کوله، اوس دې حق نه جوړېږي. که ته په کور کې کومه اندېښنه او مسله لرې، نو په کور کې يې حل کړه، سړک د کور د اندېښنو او مسلو د حل کولو ځای نه دی. مخکې له دې چې هغه څه ووايي ترافيکي اشاره شنه شوه او شاته موټرو هارنونه شروع کړل، ښځې بد بد راوکتل او په موټر کې کېناسته.

له دې کيسې زما موخه دا ده چې زموږ زياتره جنګونه په همداسې خبرو وي لکه، که لګېدلی وای، که داسې شوې وای... لکه څنګه چې ډېرې ميرمنې له دې وېرې چې هسې نه خاوند يې بل واده وکړي، له خاوند سره په شخړو خپله اړيکه خرابوي، حال دا چې معلومات يې نه وي چې خاوند يې بل واده کوي او که نه.

همداسې ډېرې مېندې خپل ماشومان په دې وهي او رټي چې که ته په ازموینه کې ناکام شې بیا!؟ پلار ټول عمر له خپلو اولادونو سره په دې سخته رویه کوي چې هسې نه زما د نرم مزاج له امله دوی خراب نه شي.
ما سره په زرګونو داسې بېلګې شته چې خلک د نامعلومو پایلو له امله شخړې کوي. ښایي پایله بیخي داسې نه وي، لکه څنګه یې چې دی ویره لري.

# جذباتي نجلۍ

هغه اصلاً د یونان وه او د مشورې لپاره زما خواته راغلې وه. موږ دواړه په یوه کافي شاپ کې ناست و. ما ترې وپوښتل: د کومې مسلې له امله ما سره لیدل غواړې؟ هغې راته وویل: زه ډېره جذباتي یم او د دې لامل ښایي دا وي چې په ماکې د جنګیالیو وینه وي. زما ډېرې فیصلې جذباتي وي. زه په یونان کې ډېره خوشحاله وم، یوه ورځ خیال ته راغلل چې ژوند مې یو څه ایډونچر ته ضرورت لري. د همدې لپاره دې هېواد ته راغلم. ماته معلومه نه وه چې دلته به له دومره مسایلو سره مخ کېږم. ما دا اونۍ د بېرته تللو ټکټ کړی دی؛ خو زه اندېښمنه یم چې هسې نه دا هم زما جذباتي فیصله وي. زه د یو ارواپوه په لټه کې وم چې مرسته راسره وکړي، بیا راته چا ستاسې ادرس راکړ، نو ځکه مو خواته راغلم. ما چې د هغې ټول مسایل واورېدل، نو ورته مې وویل چې ستا د بېرته تلو فیصله جذباتي ده. که کېږي عمل پرې مه کوه، بیا مو یو څه خبرې وکړې او هغه لاړه: څو میاشتې وروسته یې ټلیفون راوکړ او مننه یې وکړه چې هغه ورځ مې ستا خبره ومنله او بېرته رانغلم. هغه رښتیا هم زما جذباتي فیصله وه.
له دې خبرو زما موخه دا وه چې زموږ ډېری خلک د خپلو جذباتي فیصلو له امله، د خپلو مسلو د حل.کولو پر ځای، هغه نوره هم لویوي.
ژوند کې چې کله هم کومه فیصله کوئ، نو یو ځل له ځانه ضرور وپوښتئ چې آیا دا خو به زما جذباتي فیصله نه وي!؟

# زهرجنه اړیکه جوړونکې نجونې

د یو ارواپوه په حیث ماته ډېر داسې خلک راځي چې د یو چا په زهرجنه اړیکه کې ښکېل وي. دا زهرجنه اړیکه د هغوی ژوند له زهرو ډکوي او تر دې چې جسمي، روحي او جذباتي روغتیا یې خرابوي؛ خو د حیرانتیا خبره دا ده چې په داسې اړیکه کې ښکېل کسان، نه له دې اړیکې نه وتی شي او نه ترې وتل غواړي.

ما په خپل ځان فکر وکړ او راته معلومه شوه چې زه هیڅ په داسې زهرجنه اړیکه کې نه یم ښکېل شوی، ځکه څومره چې ماته معلومه ده چې له یو چا سره زما اړیکه چې زهرجنه وي، ختموم یې ترڅو د دواړو ژوند وژغورل شي.

د همدې لپاره، لکه چې یو څوک د ملګرتیا یا واده په نوم په یوه زهرجنه اړیکه کې وګورم، نو زما په ذهن کې لومړی دا پوښتنه راپیدا کېږي چې هغه دا اړیکه ولې نه ختموي، ولې خپل ژوند له زهرو ډکوي؟

د دې پوښتنې ځواب ارواپوهنه راکوي چې مونږ په ژوند کې بې شمېره اړیکې جوړوو؛ خو هیڅوک زهرجنه اړیکه نه جوړوي. کله بیا له ډېر احتیاط وروسته اړیکه زهرجنه کېږي. کله کله سمه اړیکه زهرجنه کېږي. د زهرجنې اړیکې د ختمولو لپاره یو ځانګړي ځواک ته اړتیا ده چې هر چا سره نه وي؛ خو د یوې زهرجنې اړیکې د نه ختمولو څو لاملونه دي چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱) د خپلې سادګۍ له امله: ځکه، ډېرو ته معلومات نه وي چې په زهرجنه اړیکه کې ښکېل دی. دوی د سمې اړیکې په تعریف نه پوهېږي. دوی داسې ګڼي چې زهر د اړیکې یوه برخه ده. د بېلګې په ډول: ډېرو میرمنو ته داسې ښکاري چې د خاوند ښکنځلې، بدرد او... د واده یوه برخه ده. په واده کې دا وي. ډېرو مېنو خلکو ته داسې ښکاري چې په کوچنیو خبرو جنګ، بیا، بیا یو بل بلاک او انبلاک کول. د یو بل زنګ نه پورته کول، مسیج نه ځوابول، له خبرتیا پرته ورکېدل، پیسې لګول... د اړیکې برخه ده. په مینه کې دا راځي. ډېر خلک جذباتي وهل د فزیکي وهلو نه بد نه ګڼي.

۲) ځان ته د دروغجن داړ ورکولو له امله: د ظلم تعریف د هر شخص لپاره بېل وي. یوه میرمن د خپل خاوند له لور ووهل شي، بیا هم ځان ته تسلي

ورکوي چې بیا څه کېږي. خاوند یې وهي او بې عزتي یې کوي. یوه مېنه نجلۍ د خپل معشوق، بیا، بیا بلاک کولو سره ځان ته تسلي ورکوي. هلک د مینې په نوم په بوې.نجلۍ پیسې خرج کوي، بیا هم ځان ته تسلي ورکوي چې که زه پیسې ورنکړم، اړیکه مخ ته نه ځي.
۳) د کمترۍ د احساس له امله: زهرجنه اړیکه تاسې د احساس په کمترۍ اخته کوي. تاسې ته داسې ښکاري چې یوازې د همدې شخص قابل یئ. بل څوک به مې قبول نه کړي. دلته یوه خبره په یاد ولرئ چې دا ډول کسان په شعور توګه ستاسې دماغ زهرجن کوي چې تاسې د کمترۍ په احساس اخته شئ او له دې اړیکې د وتلو کوښښ ونه کړئ.
د بېلګې په ډول: هغه تاسې ته د کمترۍ احساس باندې د اخته کېدو لپاره داسې خبر کوي لکه، تا سره له ما پرته بل هیڅوک داسې ښه اړیکه نشي- پر مخ بیولی. بل هیڅوک دې ملګری کېدای نه شي. که زه دې پرېږدم ته به ډېره ذلیله شې. حالت به دې خراب شي، حتی ټول عمر به دې بل څوک قبوله نه کړي.
۴) د یوازیتوب د وېرې له امله: ډېر خلک له یوازیتوبه وېرېږي او زهرجن خلک دوی د همدې وېرې څخه ګټې اخلي او دوی په ذهني ډول په خپله اړیکه کې بند ساتي. ته به ټول عمر همداسې یوازې یې؟ ټول عمر یوازې ژوند تېرولی شې؟ چې عمر دې تېر شي، بیا به څه کوې؟ کله چې دې مور او پلار مړه شي، ورونه دې ودونه وکړي او خپل کور جوړ کړي، بیا به څه کوې؟
۵) د زهر جن شخص د دوه مخي توب له امله: په یاد مو وي چې زهرجن شخص دوه مخی وي. یعنې له یوه لوري خپل ظلم کوي او له بل لوري خپل رحم څرګندوي.
د بېلګې په ډول، زهرجن شخص چې یو څه خراب کار وکړي، بیا بښنه غواړي او وعده کوي چې بیا به داسې نه کړي. هغه بیا، بیا داسې کوي او بښنه غواړي. دا هم په یاد ولرئ چې زهرجن شخص کله، کله له یو خراب کار وروسته د ډالۍ په توګه یو څه ورکوي، لکه جامې، بوټان، امیل... ترڅو د ده له ظلم نه تنګ نه شي او خپله لاره بدله نه کړي.

اوس دا پوښتنه ده چې د رښتينې او دروغجنې ښښې تر منځ څه توپير دی؟ هغه چې په رښتيا ښښنه غواړي، ترسره کړی کار بيا هيڅ وخت نه تکراروي. او هغه چې ښښنه غوښتل يې دروغ وي، بيا، بيا دا کار ترسره کوي او ښښنه غواړي.
زهرجن شخص د خپل دوه مخي توب له امله مقابل لوزي ته نه ښکاري چې د ده اصلي څهره کومه يوه ده؟ ځکه د دې په ذهن کې د هغه دواړه څهرې او خبرې شتون لري.
په زهرجنه اړيکې کې ښکېل کس چې کله په غصه کې وي، د مقابل لوري ناوړه خبرې او کارونه يې ذهن ته راځي او د پرېښودو فيصله يې کوي؛ خو کله چې يې غوسه ارامه شي، بيا د هغه ښې خبرې او کارونه ورته ذهن ته راځي او خپله فيصله بدلوي.
٦) د ښښلو له امله: زهرجن شخص ښښنه د خپلې موخې لپاره کاروي. مظلوم چې کله په خپل زړه تېره کېږدي او په يوه قوي فيصلې سره هغه پرېږدي، نو زهرجن شخص خپلې ښښنې او وعدې سره را يوځای کړي او هغه دې ته اړباسي چې ويې وبښي. يوه خبره په ياد ولرئ چې د ښښنې مطلب دا نه دی چې تاسې بيا بې عقل شئ.
٧) د تولنې د ويرې له امله: مظلوم له ټولنې ډېر وېرېږي. فکر کوي چې که زهرجن شخص بې پرېږدي، خلک به څه وايي چې اړيکه يې ختمه شوه. لږ وخت هم سره يوځای پاتې نه شول. که دا خپله خرابه نه وای، اړيکه يې نه خرابېده. خدای پوهېږي چې دې هغه پرېښی، که هغه دا پرېښې ده. له همدې امله خدای، خدای يادوي او د پرېښودو څخه ويره او شرم محسوسوي.
٨) د دروغجنې هيلې له امله: دا خپل ځان ته د دروغو هيله ورکوي چې يوه ورځ به مقابل لوری سم شي.
٩) د ناسمې لوبې له امله: زهرجن شخص د مظلوم سره ډېره هوښياره مقابله او لوبه کوي. هغه د خپل ظلم ټوله ذمه واري په مظلوم ور اچوي چې ته داسې کوې، ځکه ماته غوسه راځي. که تا داسې نه وای کړي، ما داسې نه کول. مظلوم د خپل معصوميت له امله ظلم په خپل ځان منې او اړيکه پر مخ بيايي. ژوند ډېر قيمتي دی. يوازې يو ځل راځي د همدې لپاره يې له زهرجنو خلکو او اړيکو پاک وساتئ. د يو اراپوه په حيث له تاسې غواړم چې که تاسې بيا

ستاسې کوم نږدې ملګری، په داسې یوه اړیکه کې بند وي، د ویستلو لپاره یې په ذهني ډول تیار کړئ چې هغه له دې اړیکې په وتلو سمه فیصله وکړي، ځکه فیصله د غوره والي لومړی قدم دی.

## لوټ شوې نجونې

د مینې او سکس تر منځ توپیر پېژنئ؟

که یې نه پېژنئ، د یو اروارپوه په حیث یې زه درته توپیر ښایم. که څه هم په دې موضوع لیکل او غږېدل یوې ځانګړې حوصلې ته ضرورت لري. زه نن دا حوصله پیدا کوم او په دې موضوع درسره واضیح خبرې کوم. زه یوه خبره کوم، هغه دا چې له دې وړاندې مې په خپله کومه لیکنه یا خبرو کې د سکس لفظ نه دی کارولی، ځکه دا لفظ زموږ په ټولنه کې شرم دی او دا چې زه د خپلې ټولنې ډېر درناوی کوم، د همدې لپاره مې د دې لفظ له استعمال نه ډډه کړې؛ خو دا چې اوس زما خواته ډېر شمېر لوټ شوې نجونې راځي، زه دا لفظ استعمالوم چې تاسې پوه کوم. هیله لرم زما په خبرو پوه شئ.

په ازاده ټولنه کې چې یو هلک کله یوه ښایسته نجلۍ ویني، نو له هغې سره یې د سکس کولو لیوالتیا را پیدا کېږي او هلک له نجلۍ څخه په ښکاره ډول پوښتي چې زه له تاسره سکس کول غواړم. که د نجلۍ خوښه وي، هو ورته کوي او سکس کوي او که نه وي انکار ترې کوي چې دواړه یې بد نه ګڼي. نه بیا په نجلۍ پسې شله کېږي او نه ورته زاری او منتونه کوي، ځکه په ازاده ټولنه کې د نه موخه، نه وي. زه یوه خبره کوم چې په ازاده ټولنه کې په نجلۍ پسې شله کېدل او هغې ته زاری کول، د ذلیل کېدو او کوچنیوالي نښه ده. هلته هېڅ هلک، کومه نجلۍ نه ذلیلوي. دا چې دا خبرې سمې دي یا نه، په دې له فکر کولو وړاندې زموږ ټولنې ته راګرځو.

زموږ په ټولنه کې چې کله کوم هلک، یوه نجلۍ ویني او ښه ورته ښکاره شي، له هغې سره یې سکس ته لیوالتیا پیدا کېږي. که هغه په ښکاره ډول نجلۍ ته ووایي چې زه له تا سره سکس کول غواړم، نو په نجلۍ دا خبره بده لګېږي او ښایي ویې رټي. د همدې لپاره چې هلک د نجلۍ عزت ساتي، د هغه کور ته رشته لېږي او زموږ د ټولنې تر ټولو لویه ښېګڼه دا ده چې یوه نجلۍ له هلک

سره له کوم ټولنيز او مذهبي اجازې پرته اړيکه ساتل نه غواړي، ځکه يوازې زموږ مذهب نه، بلکې ټولنه هم د دې اجازه نه ورکوي.
خو، دا چې اوس زموږ ټولنه هم د ورانکارۍ په لوري روانه ده، نو په هر شخص کې د نجونو په وړاندې د منافقت نښې پيدا شوې دي. اوس چې کوم هلک يوه نجلۍ ووينې او ښه ورته ښکاره شي، د هغې کور ته د رشتې لېږلو يا په ښکاره ډول د سکس کولو پر ځای، هغې ته وايي چې زه له تا سره مينه لرم. يوه خبره په ياد ولرئ چې زه درسره مينه لرم، د نجونو د غولونې تر ټولو غوره جمله ده. ځينې هلکان بيا ورسره يوه بله جمله هم شاملو چې زه غواړم له تا سره واده وکړم. نجونې د دې جملو په اورېدو ليونۍ کېږي. حال دا چې زموږ په ټولنه کې د ازادو ټولنو په څېر د کورنۍ له اجازې پرته نه هلک واده کولی شي او نه نجلۍ. د همدې لپاره زموږ په ټولنه کې نجلۍ يا هلک ته د مينې وړانديز له غولونې پرته بل هيڅ نه دی.
د مينې په نوم د نجلۍ ليونتوب هغه وخت نور هم ډېرېږي چې هلک يې صفت وکړي. هغې ته زارۍ وکړي. په هغې پسې شي. له بده مرغه زموږ په ټولنه کې د نجلۍ صفت کول او په هغې پسې کېدل مينه ګڼل کېږي. کله چې نجلۍ په مينه کې اخري حد ته ورسېږي، نو هلک ورته د خپل مطلب (سکس) وړانديز کوي. کله چې د دوی ترمنځ سکس ترسره شي، خلک خپل مطلب پوره کړي، نو له نجلۍ څخه خپل پام واړوي. يا په اصطلاح اګنور يې کړي او يوازې هغه وخت يې خبره اوري چې نجلۍ ورسره سکس کولو ته چمتو وي.
د يو اروابوه په حيث زه په دې خبره زښت ردردېږم چې يو هلک د خپل جنسي خواهش د پوره کولو لپاره د نرۍ تر ټولو ښکلې او خواګمنه جذبه (مينه) استعمالوي. منافقو خلکو ته مينه د جسم حاصلولو جال وي. زما ازاده ټولنه نه خوښېږي؛ خو زه د هغوی دا يو کار خوښوم چې هلته د مينې په نوم نجونو ته دهوکه نه ورکول کېږي. هغوی خپل جنسي- خواهش ته د مينې جامې نه اغوندي.
ستاسې د لا ښه پوهېدنې لپاره دلته يوه کيسه راوړم. څو ورځې وړاندې يوه شپه پولس بجې د يو ملګري له کور نه خپل کور ته راتلم چې د موټر چلولو

پر وخت مې د سړک غاړې ته پام شو، ګورم چې یو هلک له یو دریم جنس (هیجړا) سره په موټر سایکل ناست دی او خبرې ورسره کوي. ما د سړک په بله غاړه موټر ودرولو او د هغوی په ننداره شوم. کتل مې چې هغه هلک تقریبا نیم ساعت، هغه هیجړا ته زاری کولې او کله چې یې هیجړا خبره ونه منله، نو هغه هلک په موټر سایکل کېناست او روان شو. د هغه له تلو سره مې موټر روان کړ او لږ مخکې مې د هلک خواته موټر ودرولو او د ادرس پوښتلو په بهانه مې ورسره خبرې شروع کړې. کله چې هلک راته ادرس راوښود، زه پوه شوم چې باسواده او ښایسته هلک دی. له ادرس اخیستو وروسته مې ورته وویل چې زه ارواپوه یم، ووایه چې څه کوې؟ هغه راته وویل چې زه د یو مشهور پوهنتون د ټولنیزو علومو زده کړیال یم. ما له هلک څخه وپوښتل چې که زه درڅخه یوه پوښتنه وکړم، بده خو یې نه ګڼې؟ کله چې یې اجازه راکړه، نو ما ترې وپوښتل: لږ مخکې مې ولیدې چې یو هیجړا ته دې زاری کولې، هغه څه کیسه وه؟ هغه هلک د پوښتنې په ځواب کې وخندل او ویې ویل، هغه د سکس کیسه وه. هغه هیجړا سکس ته نه راضي کېدو او ما غوښتل راضي یې کړم. ما ورته وویل چې ته له هیجړا سره سکس خوښوې؟ ویې ویل: هیجړا څوک خوښوي، بس مجبوري ده. ما ترې وپوښتل: څنګه مجبوري؟ هغه راته وویل: کله چې درته نجلۍ پیدا نه شي، نو څه کوې؟ د هغه هلک ځواب وې چې زه یې دومره لوېې لیکنې ته مجبور کړم.

زه تاسې ته دا خبره په ښکاره ډول کوم چې زما په نزد د هر چا عزت یو ډول دی، هغه که هلک وي، نجلۍ وي یا هیجړا. زه هر انسان د عزت وړ ګڼم، هغه که د هر جنس نه وي؛ خو د رومانس یا سکس لپاره جنس ډېر مهم دی. زموږ په ټولنه کې دریم جنس سره اړیکه جوړول نارمل نه دي. دلته دا خبره د فکر وړ ده چې هغه هلک د نجلۍ نه پیدا کېدو د مجبورۍ له امله غیر نارمل ټولنیزه رویه اختیار کړې وه.

له دې ټولو خبرو زما موخه دا وه چې زما خواته لسګونه نجونې، د هلکانو له لورې د غولبدنې وروسته راځي او وایي چې ښاغلیه! هغه هلک له ډېر وخت نه په ما پسې و. زاری یې راته کولې. له ما پرته نشوای اوسېدلی. ایا دا مینه نه ده؟ زما دا لیکنه د هغه لسګونه نجونو د پوښتنو ځواب ده چې یو هلک د

خپل مطلب یا سکس لپاره په عام سړک یو هیجړا ته زاري کوي. په هغه پسې کېږي. هغه ته په یوې نجلۍ پسې کېدل، هغې ته زاري کول او د هغې پښې نیول کومه ستونزمنه خبره ده!؟

په یاد ولرئ چې په یو چا پسې کېدل، زاري ورته کول، پښې نیول هیڅ وخت مینه نه شي ګڼل کېدای. مطلبي خلک د خپل مطلب لپاره تر هر غیر نارمل او ناسم حد پورې تلی شي.

## دویم نمبر نجونې

څه وخت مخکې یو هلک مې خواته راغی او یوه ډېره درناکه کیسه یې راته وکړه. ویې ویل چې زه د یو ملګري واده ته تللی وم. هلته مې یو هلک ولید چې ډېر چالاکه و. ټولو نجونو به ورته استاد ویلو. ماته هلک وویل که زما خبرې واورې، ته به هم رانه اغیزمن شې. دا هلک چې ټولو نجونو ورته استاد ویلو، د ناسمو (دویم نمبر) نجونو په پېژندلو کې ماهر و. په یو ځل کتو به یې نجلۍ پېژنده چې سمه ده که ناسمه. نجونو به ویل چې استاد حتی په هوا کې مرغه پېژني چې نر دی که ښځه؟ استاد د نجونو د غولونې څو کلنه تجربه درلوده.

استاد په واده کې نجونو ته کتل او ویل به یې څه ډول نجلۍ ده او څومره وخت کې ورسره اړیکه جوړېږي. په ټول واده کې به د نجونو په منځ کې تاویدو او د تلو پر وخت به ترې څو نجونو نمبرونه اخیستي و. استاد په نجونو کې دومره مشهور و چې له هر دعوت وړاندې به نجونو پوښتل چې استاد راځي او که نه، له هغه پرته ولاکه دا مراسم خوند وکړي.

هلک وویل چې ښاغلیه زما هم له استاد سره ملګرتیا شوه. یو ځل په یو واده کې استاد د نجونو تر منځ ناست و او یوې نجلۍ ته یې اشاره وکړه چې هغه د لنډ قد والا نجلۍ ګورئ، هغه بې له شکه دویم نمبر ده.

استاد وویل چې بې له شکه نه مې موخه دا ده چې نورې دویم نمبر نجونې یو څه شکل او صورت لري او ډېرو کارونو ته غاړه نه ږدي؛ خو دا ډول نجونې بیا کوم خاص معیار نه لري. دا ډول نجونې نه یوازې هر کار ته غاړه ږدي، بلکې که دې موډ سم و ورسره اوسه او که پریږده یې. دوی هسې هم نه خفه

کیږي او که خفه هم شي، سمدستي بې مني. د دې بو خاصه خانګړنه دا ده چې دوی د اړیکو له پرې کیدلو ویریږي.
هلک راته وویل چې استاد لا خپله خبره نه وه ختمه کړې چې له ګریوان نه مې ونیولو او دوه څپیړې مې ورکړې او ورته مې وویل چې بې غیرته هغه زما خور ده. نجونو چې زما خبره واوریده، ټولې خاموشه شوې او یوې او بلې خواته شوې. هلک راته وژړل او ویې ویل چې ښاغلیه! له هماغې ورځې مې توبه وکړه او اوس د نجونو داسې عزت کوم، لکه د خپلې خور.
د یو اروابوه په حیث وایم چې دا کیسه به دردناکه وي؛ خو حیرانونکې نه ده، ځکه زموږ په ټولنه کې د ښځو په اړه یو ډېر منافقانه معیار موجود دی. کومې ښځې چې له موږ سره د مور، خور، لور... اړیکه لري، هغه ټولې سمې او نورې ټولې ناسمې یا دویم نمبر دي.

## ژړیدونکې نجلۍ

ایا شهزادګۍ یوازې یو ځل ناوې کیږي؟
یو ځل یوه نجلۍ راغله او په زوره زوره یې ژړل. درد یې دومره زیات و چې خبرې ورسره نه کېدې. له خبرو وړاندې یې دومره وژړل چې زما په میز ایښې ټیشو پیپر ختم شول. له ژړا وروسته یې راته وویل چې څه موده وړاندې زما واده وشو. خاوند مې ډېر بل ډول سړی دی چې له ډېرو کوښښونو وروسته مې هم ونه پیژندلو. اخر مې ورته وویل چې د ځان په راپیژندلو کې راسره مرسته وکړه. هغه راته وویل چې زما پېژندل ستا کار دی، ته خو څه ماشومه نه یې. خپله زما د پیژندلو کوښښ وکړه.
په همدې کې خبره تر طلاقه راغله او زه یې طلاقه کړم. سمه ده چې ما هغه ونه پیژندلو؛ خو زه دومره هم کمعقله نه وم چې ټول عمر بې په پیژندلو کې تېر کړم. زه په ټولګي کې تر ټولو ذهینه نجلۍ وم. هر ځل لومړی نمبر راتلم. اوس دا فکر کوم چې دومره ذهینه نجلۍ ولې په واده کې ناکامه شوه؟
که هغه لږ وخت راکړی وای. په ما کې خامخا داسې څه وو چې ټول پوهنتون خوښولم. په کور کې په ټولو ګرانه وم او که لږ وخت یې راکړی وای په هغه به هم ګرانه شوې وای.

د وخت راکولو پر ځای یې طلاق راکړ اوس خپل ژوند څنګه تېر کړم. ته پوهېږې چې نجونې له طلاقه وروسته څه ډول وي؟ اوس مې د ځان وژنې خیال ذهن ته راځي، غواړم له دې داغ نه وروسته ځان ختم کړم.

ما په حیرانتیاوروکتل او ورته مې وویل: ته په کوم وخت کې اوسېږې. اوس څوک د طلاق خبره جدي نه اخلي. طلاق یوه پېښه ده چې له هر چا سره او هر وخت پېښیدلی شي. هیڅ واده کړې شخص د دې ګرنټي نه شي ورکولی چې مونږ به هیڅ نه بېلیږو. حالات هر ډول اړیکه کې تغیر رامنځ ته کوي. څه چې وشول، هغه وشول. داغ، درد دا د لویو خلکو خبرې نه دي. دا یوازې د پخوانیو او ساده خلکو خبرې دي. خلک هغه څه وایي چې په ذهن کې یې راځي؛ خو دا چې کومه خبره زړه ته کېږاسو او کومه خبره بابیزا وګڼو دا په موږ پورې اړه لري.

مړې یوازې هغه ته نه وایي چې له نړۍ یې سترګې پټې کړې وي، بلکې هغه کس هم مړ دی چې خپله نړۍ یې پرېښې وي. له طلاق وروسته هغه ستا لپاره مړ شوی دی. په یاد ولره چې له مړي سره باید مړه نه شو. ته رښتیا وایې، نړۍ دومره لویه ده چې هر وخت او هر چېرته یو څوک پیدا کولی شو. داسې یو څوک چې جذباتي نه وي. داسې یو څوک چې ځان غوښتونکی نه وي. داسې یو څوک چې د خپلو جذبو تر څنګ د نورو جذبې هم درک کړي. داسې یو څوک چې په اسانۍ دې درک کړي. داسې یو څوک چې د ځان پېژندنه کې درسره مرسته وکړي. ستا خلاف ناځایې فیصله ونه کړي او د درک لپاره وخت درکړي.

هغې په ژړا وویل: شهزادګۍ یو ځل ناوې کېږي. زه د بیا واده هیڅ فکر نه شم کولی.

ما ورته وویل: دا د ساده ځجونو د کتاب کیسې پرېږده او حقیقي نړۍ ته داخله شه. موږ هیڅ حق نه لرو چې ژوند ته د پای ټکی یا فول سټاپ کېږدو. دا موږ یو چې په ځان د برکت دروازې بندوو او خپل ژوند ودروو، ګنې برکت خو بهر ولاړ وي او د راننوتلو بهانه ګوري. د زخم ژوندي ساتلو پر ځای، هغه پرېږده چې جوړ شي. د ځان ختمولو پر ځای مخکې لاړه شه. کله چې زخم

جوړ شي ، انسان خپله د خوښې کوښښ کوي. دا خوښي ښای په دویم واده کې وي.
هغه مې تر ډېره پوهه کړه او لاړه. څه وخت وروسته یې دریم واده وکړ او بیا یې راته زنګ وکړ او په ژړا شوه. ما یې د اواز په اوریدو وخندل او ورته مې وویل: ژړندوکې بیا ولې ژاړې؟ هغې راته وویل: ښاغلیه زه له خوښۍ ژاړم. ما فکر هم نه کولو چې زما ژوند چې د ختمولو فکر مې یې کولو، داسې له خوښیو ډکه شي چې سمبالولی به یې نه شم. ماته داسې یو څوک پیدا شو چې نه یوازې خان یې را وپېژندلو، بلکې زه یې هم درک کړم.

## شرمېدونکې نجونې

یوې نجلی زاسره اړیکه ونیوله او ویې ویل: زما عمر اته ویشت کاله دی؛ خو زما والدین زما لپاره د رشتې کتل خو لرې خبره ده چې تر اوسه یې زما د واده خبرې هم نه دي کړي. زه غواړم واده وکړم؛ خو د نجلیتوب له امله تر اوسه هغوی ته په ښکاره دا خبره نه شم کولی چې زما واده وکړئ. هیڅ نه پوهېږم چې څه وکړم؟ ما ورته وویل چې د یو ارواپوه په توګه ستا حالت درک کړم.
په داسې حالت کې چې یو څوک، څه کول غواړي او کولی یې نه شي، نو ذهني خور ویني. ما فکر وکړ چې زموږ په ټولنه کې یوازې نجونې نه، ډېرې هلکان هم د دې مسلې ښکار دي. تر اوسه راسره ډېرو کسانو اړیکه نیولې او ویلي یې دي چې عمر یې له دېرشو کالونو اوړي او کورنه ګټه هم کوي؛ خو والدین یې د واده نوم لا نه اخلي. ډېر یې داسې شته چې مخامخ خپلو والدینو ته وایي چې زما واده وکړئ، مګر ډېر یې بیا نه شي ویلی او چې خبره د نجونو شي، نو زما په خیال زموږ په ټولنه کې که هغوی هر څومره زړورې شي، هم خپلو والدینو ته نه شي ویلی چې زما واده وکړئ.
د یو ارواپوه په حیث، زما په فکر د دې تر ټولو لوی لامل دا دی چې موږ واده یوازې د جنسي اړیکو پورې محدود کړی دی، څکه نو د واده په خبرو راته شرم راځي، ګنې زما په فکر نجونې وي که هلکان، نه یوازې له خپلو والدینو سره د واده په اړه خبرې کول غواړي، بلکې والدین یې هم غواړي ورسره وغږیږي؛ کله واده کوې؟ کوم ډول هلک یا نجلی سره یې کوې؟

ما فکر وکړ چې مونږ دوه ډوله والدین لرو، یو ډول یې ایکټیو یعنې متحرک چې مونږ ورته پوه والدین وایو او بل یې پیسو یعنې غیر متحرک چې مونږ ورته سیده او ساده والدین وایو. دلته زه یوه بله خبره هم کوم چې داسې والدین هم شته چې په شعوري توګه د خپلو اولادونو واده ځنډوي؛ خو په دې اړه به بل وخت په تفصیل سره بحث وکړم. لومړی ډول یعنې متحرک والدین د خپلو اولادونو خیال ساتي او کله چې د واده عمر ته ورسیږي، سمدستي په کور کې د واده خبرې را اخلي او مناسبې رشتې د لټولو کوښښ کوي. دوی له خپلو اولادونو غواړي چې له دوی سره د واده په اړه مشوره وکړي چې یوه بریالی او ښه رشته ورته وګوري، ځکه په بریالي واده کې، والدینو سره د اولاد مشوره او لاس ورکونه ډېر ضروري دي.

دویم ډول یعنې غیر متحرک والدین د خپل ساده توب له امله، د خپلو اولادونو په واده فکر نه کوي. هغوی دې ته پام نه وي چې زوی یا لور یې د واده عمر ته رسېدلي دي. په داسې حالت کې مې نجونو او هلکانو ته دا پیغام دی چې دوی خپله په دې اړه خبرې شروع کړي او هغوی په متحرکو والدینو بدل کړي او په کور کې د واده خبرو په کولو کې کوم شرم ونه کړي.

## واده شوې نجونې

څو ورځې وړاندې یوې نجلۍ خپله مشره خور زما خواته راوړه او ماته یې وویل چې محترمه! زما خور واده شوې او څو میاشتې وړاندې یې یو زوی هم پیدا شو. دا له هلکانو سره پټې خبرې کوي او په خبرو کې ورسره دومره ژوره ځي چې هر څه هېروي، حتی خپل ماشوم. دا بیخي د خپل ماشوم خیال نه ساتي. ما څو ځل پوهه کړې؛ خو دا یې نه مني. خیر دی دا یو څه پوهه کړئ.

ما د هغې نجلۍ له خور څخه وپوښتل چې ته ولې له هلکانو سره خبرې کوې؟

هغې وویل: ما له واده مخکې له هلکانو سره خبرې کوې، خو اوس داسې هیڅ نشته. ما هغې ته وویل چې ګوره زمونږ شاوخوا خلک ړانده نه دي چې په مونږ نه پوهیږي او نه مو ویني. زه ارواپوه یم. د دې لپاره اخوا دیخوا پوښتنې نه کوم. هلکانو سره خبرې کولو ولا سیده پوښتنې څخه زما موخه تاسره مرسته کول دي.

له دې خبرې وروسته نجلی وویل چې زما د واده درې کاله کېږي. زما خاوند ماته وخت نه راکوي: ماسره خبرې نه کوي. د دې لپاره زه له هلکانو سره خبرې کوم. له دې خواب سره مې ترې وپوښتل چې ته د چا په کور کې اوسېږې؟

ستا او د زوی لګښت څوك پوره کوي؟ ستا ټولې اړتیاوې څوك پوره کوي؟

نجلی وویل: زما خاوند. ما وویل: کومو هلکانو سره چې ته خبرې کوې، په هغو کې یو ته ووایه چې تا خپل کور ته یوسي او ستا ټولې اړتیاوې پوره کړي، د پټو خبرو پر ځای چې څومره خبرې کوې، هلته په کور کې به یې وکړو.

نجلی ځواب راکړ: هغوی خپله ذمه واري نه شي پوره کولی، زما به څه ذمه وکړي. ما ورته وویل: ګوره کومو هلکانو سره چې ته خبرې کوې، هغوی ټول اوزګار دي او اوزګارو خلکو سره د خبرو لپاره ډېر وخت وي. ستا خاوند کار کوي او څوك چې کار کوي؛ هغوی سره ډېر وخت نه وي. کېدای شي چې ستا خاوند د وخت په سم استعمال نه پوهېږي او د بوختیا له امله ټول وخت په کار کې تېروي او تا سره یې خبرو ته وخت ونه لري.

هغې نجلی وویل: زما خاوند هم نورو نجونو سره خبرې کوي. نورو نجونو سره د خبرو لپاره وخت لري؛ خو ما سره د خبرو وخت نه لري.

ما ورته وویل: دا خو په دې مانا نه د چې ستا خاوند ناسم کار کوي او ته هم باید ناسم کار شروع کړې. مېنه څه اوس ته خو د دې لپاره له نورو هلکانو سره خبرې کوې چې ستا خاوند له نورو نجونو سره خبرې کوي، مګر کله چې ستا واده نه و شوی او تا له هلکانو سره خبرې کولې، هغه وخت څه مسله وه؟ هغې نجلی په خاموشی ماته راوکتل.

ما ورته وویل: هغه نجونې چې له واده وړاندې د خپل خفګان د لرې کولو لپاره له هلکانو سره خبرې کوي، د هغوی عادت جوړېږي او دا عادت یې له واده وروسته هم نه ختمېږي، حال دا چې په دې عادت اخته خلك فکر کوې چې دا عادت یې ختم شوی دی. له دې بده دا چې په دې عادت اخته خلك د خپل خفګان، اندېښنو او نورو مسایلو د حل کولو پر ځای، نورو نه د هغوی په ویلو ځان ښه احساسوي.

اوس ته یوازې نجلی یا میرمن نه یې؛ یوه مور هم یې. د دې لپاره باید ته هغه کار وکړې چې یوې مور سره ښه ښکاري. د یوې رښتني پرته له نورو هلکانو سره خبرې کولو له یوې مور سره هم ښې نه ښکاري.

دا خبره مې یوازې نجونو ته نه، هلکانو ته هم کړې چې واده کړی یې که مجرد، د خپلو اندېښنو د حل مستقل کوښښ وکړئ. که مجرد وي، احتیاط وکړي او که متاهل وي، بیخي ډېر احتیاط وکړي. د مور او پلار له جوړېدو وروسته، له هر کار نه وړاندې د مورولي او پلارولي په اړه سوچ وکړي او هیڅ داسې کار ونه کړي چې له یوې مور او یو پلار سره نه ښایي، ځکه ناوړه والدین د خپل ځان تر څنګ خپلو اولادونو ته هم رواني زیان پېښوي.

## غولونکې نجونې

څو ورځې وړاندې یو هلک زما خوانه راغی او ما څخه یې وپوښتل چې ښاغلیه! دا نجونې ولې دومره غولونکې (دهوکه ورکونکې) وي؟ ما د ځواب ورکولو وړاندې ترې وپوښتل چې ته ما ته ویلی شې چې تاسره څه شوي چې دا پوښتنه کوې. هغه ما ته وویل: زه له یوې نجلی سره ډېره مینه کوم. دومره مینه چې له څو کلونو وروسته اوس هم زما زړه د هغې لپاره هماغسې درزېږي، لکه په لومړیو ورځو کې چې وو. زه د هغې په اړه بیخي رښتونی یم. ما هغې ته د واده د وړاندیز تر څنګ په کور کې له خپلو والدینو سره هم خبرې وکړې؛ خو هغې زه پرېښودم. بیا یې زما خوانه هم را ونه کتل چې زه په کوم حالت کې یم. ژوندی یم یا مړ. که هغه زما سره بوځای نه شوای تلی، نو ولې یې راسره د یو ځای کېدو خوبونه لیدل؟ په دې خبرې سره یې له سترګو اوښکې راتویې شوې. د اوښکو له پاکولو وروسته یې وویلل چې زه هر وخت دا فکر کوم چې ما سره یې ولې دهوکه وکړه؟ ولې یې پرېښودم؟ تل مې زړه له خفګانه او سترګې له اوښکو ډکې وي.

ما د هغه خبرې ښې په غور واورېدې او ترې ومې پوښتل چې رښتیا، رښتیا ووایه! له هغې نجلی وړاندې دې څانه دهوکه ورکړې وه؟ هغه راته وویل چې زه درته دروغ نه وایم. له هغې وړاندې مې یوې ته نه، بلکې ډېرو نجونو ته دهوکه ورکړې وه؛ خو زه له هغې نجلی سره بیخي رښتونی وم. ما نه هغې ته دهوکه ورکړې وه او نه مې د دهوکې ورکولو خیال درلود.

ما ورته وویل چې ته د نجلۍ او سړا تر منځ توپیر پېژنې؟

که یې نه پېژنې زه یې درپېژنم. کومې ته چې تـه خپلـه نجلـی وایـې، هغـه پـه حقیقت کې نجلۍ نه، سړا وه. تا سره هم دهوکه نه ده شوې. سړا ته د دهـوکې نوم مه ورکوه. تا نجونو ته دهوکه ورکوله، ځکه خو سړا درته د نجلۍ په شکل راغله. اوس چې ته څومره اوښکې تویې، دا هغه ګناوې دي چې د نجونـو لـه سترګو د اوښکو په تویولو سره دې کړې دي.

تا کله کومې نجلۍ ته له دهوکې ورکولو وروسته کـتلي او ورتـه دې ویـلي دي چې اوس دې څه حالت دی؟ زما له پرېښودو وروسته ته ژوندۍ یې که مړه؟

# کوژدن سره غږېدونکې نجلۍ

یوې نجلۍ وویل چې ښاغلیه! موږ وینو چې زموږ په ټولنه کې له کـوژدن سره خبرې کول عامې دي. په دې کې شـک نشـته چې لـه اسـلامي نظـره کـوژدن نامحرم دی او اسلام له نامحرم سره خبرې کولو اجازه نه ورکوي؛ خو بیا هـم د کور والا لکه، مور او خویندې، پلار او ورونه هم په دې باندې کـوم اعـتراض نه لري، بلکې دوی له کوژدې وروسته د خبرو اجازه هم ورکوي، ترڅو یو بـل سره وپېژني او له واده وروسته کومه مسله پیدا نه شي. د یو ارواپوه په حیث پـه دې اړه ستا څه رایه ده چې له کوژدن سره باید خبرې وشي؟

ما ځواب ورکړ: نجلۍ او هلک له واده وړانـدې د یـو بـل پېژنـدلو تصـور، نـه یوازې غیر اسلامي دی، بلکې شرقي هم نـه دی، دا مـوږ لـه غـرب څخـه زده کړې دی، ځکه اوس موږ هم نیمه غربیان یو. د دې لپاره موږ هلک یا نجلۍ ته په ټلیفون د خبرو کولو اجازه ورکو، ګنې غربیان خو له واده وړاندې د خپل همسفر د پېژندلو په سفر کې ډېر وړاندې ځي. زه هغـه والـدینو تـه وایـم چې اولاد ته له کوژدن سره د خبرو کولـو اجازه ورکـوي چې د خـبرو تـر ځنګ هغوی ته له یو بل سره د لیدلو اجازه هم ورکړئ چې له یو بل سره په ښـه ډول وپېژني، تر څو د غرب تقلید پوره شي.

دلته زه دا خبره هم کوم چې نن په غربي هیوادونو کې اسلامي علما هم له واده وړاندې کوژدن سره د خبرو او لیدلو اجازه ورکوي.

دلته اوس دا مهمه پوښتنه پیدا کېږي چې زموږ والدین اولاد ته له کوژدن سره د خبرو اجازه ورکوي، د لیدلو اجازه ولې نه ورکوي؟
د دې ځواب دا دی چې هسې نه هلک زموږ لور ته کوم جسمي زیان ورسوي، ځکه زموږ په ټولنه کې د نجلۍ جسم ته زیان رسېدل بدنامي جوړوي، د دې لپاره دوی وایي چې که نجلۍ له کوره هلک سره په ټیلیفون خبرې کوي، جسم یې محفوظ وي؛ خو په ټیلیفون خبرې یې چې روح ته کوم زیان رسوي، له هغوی هیڅوک نه خبرېږي، زموږ په ټولنه کې روح ته زیان رسېدل د بدنامۍ سبب نه ګرځي.
د اروپوه په حیث زه پوهېږم چې په مینه شوي واده (لو میرج) کې له واده وړاندې خبرې کېږي، هغه که له واده وروسته سره خبرې وکړي یا نه، کوم توپیر نه کوي. د والدینو په خوښه (اربنج میریج) واده کې بیا دا خبرې نه وي.
زه هغو ټولو نجونو چې په ټیلیفون له کوژدن سره خبرې کوي، غوښتنه کوم چې په ټیلیفون خبرې کولو سره یو څوک نه پېژندل کېږي او فرض کړئ چې تر یوه حده مو وپېژندلو هم دومره نه وي، څومره یې چې وړاندوینه کېږي چې دا څوک دی یا دا چې له دې شخص سره واده بریالی دی او که نه.

## د کوژدې مسایل

د یو اروپوه په حیث، ما فکر وکړ چې زموږ په ټولنه کې په کوژدې او د کوژدې اړوند مسایلو باندې څرګند بحث نه کېږي. له همدې امله موږ په دې اړه ډېر معلومات نه لرو. له ډېرو خلکو سره په دې مسلې د کار کولو وروسته مې د کوژدې اړوندې څو احتیاطي خبرې نوټ کړې دي چې د کوژدې اړوندې مسایلو حل درته اسانوي.
۱) له کوژدې وړاندې د کوژدې وخت تعین کړئ او له اوږدمهاله کوژدې ډډه وکړئ. په لومړۍ رشته کې دا خبره واضیح کړئ چې هلک وي، که نجلۍ د کوژدې وخت یې باید څومره وي، یعنې څومره وخت وروسته باید واده وشي. په یاد مو وي چې له کوژدې نه تر واده پورې درې میاشتې بسنه کوي. که چا ته دا وخت کم ښکاري، نو زیات نه زیات شپږ میاشتې بس دي. که څوک له دې ډېر وخت غواړي، کوژده مه کوئ او بله داسې رشته ولټوئ چې کوژدې ته ډېر وخت ورنکړي.

۲) موږ ګورو چې ډېرې خلک د نجلۍ طرف وي که د هلک، له کوژدې وروسته په بېلابېلو بهانو سره د واده نوم نه اخلي. که په تېروتنې سره مو داسې خلکو سره کوژدن شوې وي، پرېږدئ. داسې خلکو سره اړيکه مه جوړوئ
۳) د کوژدې لګښتونه او مسايل مختصر کړئ. سادګي د پوهو خلکو طريقه ده؛ خو په رواجي ډول دا چې کوژده دومره پخه رشته نه وي د واده په نسبت، نو بايد ډېر لګښت ونه کړو او کور له ميلمنو ډک نه کړو.
۴) کوژدې کې په قيمتي شيانو خبرې مه کوئ. ډېرې خلک د ځان غټې ښودلو لپاره، له کوژدې د واده ټريلر جوړوي. په هغې کې قيمتي ګانې اغوندي، حتی کرايه يې راوړي. داسې مه کوئ.
۵) له کوژدې وروسته کوژدن سره ليدنې او په ټليفون خبرې مه کوئ، په دې مو اړيکه خرابيږي.
نوټ: زياتره والدين، د خپلو اولادونو د زړه ښه کولو لپاره کوژده کوي. د اولاد د واده هيڅ اراده يې نه وي. هغوی غواړي چې اولاد يې د واده په نوم، تولنه ګټه وټه کور ته راوړي. داسې والدين يوازې د خپلو اولادونو ګټې ته سترګې نيولې وی. داسې والدين په شعوري توګه د خپلو اولاونو کوژدې وخت ځنډوي او بيا يې په يوه نيمګړتيا سره رشته ختموي. اولاد يې هم په دې اړه څه نه وايي، ځکه والدين يې داده کوي چې دا ښه خلک نه دي، زه بل ځای ستا کوژده کوم. ماته لسګونه داسې نجونې راغلي دي چې د کوژدې په ماتېدو خفه وې. د کوژدې اړوند لومړی احتياط له داسې خلکو د ځان ساتنې حل دی، ځکه داسې والدين د کوژدې ډېر وخت ته خوښ وي. دا دوی دام وي چې خپل اولادونه پکې ګېروي.

# هلکان چېرته پیدا کېږي؟

څو ورځې وړاندې یوې نجلۍ راته په ټلیفون وویل چې ښاغلیه! زه اندېښمنه یم. ما ورته وویل: د خپلې اندېښنې د لرې کولو لپاره څه کوې؟ زه داسې خلکو ته د حل لارې ښودلو وړاندې. لـه دوی پوښتم چې د خپلې مسلې د حل لپاره څه کوي.

زما د پوښتنې په ځواب کې هغې وویل چې زه هلکانو سره خبرې کوم. ما ترې وپوښتل چې له هلکانو سره په خبرو کولو دې اندېښنه لرې کېږي؟ هغې ځواب راکړ چې په موقت ډول لرې کېږي؛ خو تل لپاره نه. ما ترې وپوښتل چې دا هلکان چېرته پیدا کېږي؟ هغې ځواب راکړ چې فیسبوک نه. هغې سره له خبرو وروسته مې فکر وکړ چې په ټولنیزه میډیا، په ځانګړي ډول فیسبوک کې نه یوازې هلکان، بلکې ډېرې نجونې هم د خپلو اندېښنو د لرې کولو لپاره شتون لري. دا هغه خلک دي چې نه پوهېږي چې د اروا پوهنې مطابق دوه خفه یا اندېښمن کسان د یو بل اندېښنه نه شي لرې کولی.

په یاد مو وي چې که تاسې څومره په خوښه فیسبو کې ملګرتیا وکړئ، څومره خلکو سره خبرې وکړئ. فسبوک ستاسې اندېښنه نـه شي لرې کولی، بلکې نوې څېرنې دا ښايي چې دا ستاسې اندېښنه لا زیاتوي. د دې لپاره مې لـه تاسې غوښتنه ده چې که تاسې خفه یا اندېښمن یئ، له هلکانو او نجونو سره د خبرو پرځای په مستقل ډول خپل علاج وکړئ.

# بې شرمه نجونې

څو ورځې وړاندې راسره یوې نجلۍ اړیکه ونیوله او راته یې وویل چې زه لـه یو هلک سره ډېره مینه کوم او غواړم واده ورسره وکړم؛ خو هغه چې ماته به یې ویل ډېره مینه درسره لرم او هیڅ وخت بـه دې پرېنږدم، اوس راتـه راتـه وایې چې زه درسره واده نه شم کولی، ځکه اوس مې نه خوښېږې. اوس راسره سم غږېږي هم نه. هغه چې تل به یې راته ویل چې چېرتـه یې؟ څـه کوې؟ اوس راته وایي چې څه خپل کار کوه.

ما ترې وپوښتل چې اوس څه کوې؟ هغې راته وویل چې ما خپلې زده کړې بشپړې کړې او اوس په یوه لویه کمپنۍ کې منیجر یم. کله مې چې ترې د

هلك په اړه وپوښتل چې هغه څه کوي؟ څومره زده کړې لري؟ راته يې وويل چې دومره زده کړې نه لري او هيڅ نه کوي.
ما ترې وپوښتل چې داسې خلك خو څوك په دفتر کې ملازم هم نه نيسي او تا ورته د زړه په کور کې ځاى ورکړى دى. په نيمه کې زده کړې پرېښودونکي چې بل هيڅ کار نه شي کولى، نه تعليم لري او نه تربيه. داسې کس سره خو ليونى هم اړيکه نه جوړوي.
خپله فکر وکړه که والدينو درته داسې رشته کتلې واى، څنګه به درته ښکاره شوې واى؟ د واده د خوښۍ پر ځاى به غوسه وې چې مور او پلار راته څنګه داسې رشته کتلې ده. دا مور او پلار دي که دښمنان. که د مور او پلار د خوښۍ لپاره دې داسې هلك هم په خوله قبول کړى واى؛ خو زړه به دې هيڅ نه واى منلى. اوس ستا سادګي وګوره چې يو بې شرمه او بې قيمته هلك دې د خپل زړه مالك کړى دى.
ما هغه پوهه کړه چې ژوند په جذباتو نه تېرېږي. اوس هم ناوخته نه دى. د خپل عاشق لپاره يو معيار وټاکه. دا معيار دى چې بې قيمته خلك زړونو ته له کېوتو ژغوري، ځکه کله چې مونږ سره د خپل عاشق معيار نه وي، هرڅوك مو ژوند ته راځي او مينه ورسره پيدا کوو.

## په خوبونو مئينه نجلۍ

څه وخت مخکې يو پېرېدونکې راغې چې عمر يې پنځه ديرش کاله وو او تر اوسه يې واده نه و کړى. تعليم يې دومره نه و او په مالي لحاظ هم ډېر کمزورى و. قواره يې هم دومره ځانګړې نه وه. ما ترې پوښتنه وکړه چې ولې دې تر اوسه واده نه دى کړى؟ ده راته خواب راکړ چې زما کترينه کيف ډېره خوښه ده او زه د همداسې يوې نجلۍ په لټه يم. په کومه ورځ چې راته د کترينه کيف په څېر نجلۍ پيدا شوه، په هماغه ورځ واده کوم. ما ورته وکتل او په زړه کې مې وويل چې د کترينه کيف په څېر نجلۍ سره د واده لپاره د سلمان خان په څېر هلك هم ضرور دى کنه.
همداسې يوه ورځ يوه ښځه راغله چې د ژوند تر ټولو لويه غوښتنه يې نيمګړې پاتې وه. هغه غوښتنه دا وه چې له امير خان سره يې واده کول غوښتل؛ خو دا ناممکنه وه. يوه ورځ يې په ډېر افسوس سره راته وويل چې

استاده! انسان باید خوب ونه ګوري، ځکه که پوره نه شي، انسان تـه تکلیـف رسوي.
ما په حېرانتیا ورته وویل: ته نېکمرغه یې. څومره عـزت او مینـه چـې خاونـد درکوي، باور وکړه چې دومره مینه او عزت به امیرخـان نـه و درکـړی. هغـې آه وکړ او ویې ویل: عزت او مینه په خپل ځای؛ مګر امیر خان خو نه دی کنه.
یوازې دا نه دي. داسې ډېرې قضیې راته رغلي دي چې خلک پکې د ځمکې له ستوریو سره د اړیکې او واده کوښښ کوي. زما پـه فکـر چـې دا د واده تـر ټولو احمقانه فیصله ده.
که له دې خبرو وروسته بیا هم داسې هیله لرئ، نو زما یوه خبره واورئ چې زه په دنیاوي لحاظ د هغه/هغې سیال یم یا نه. که ته د هغې/هغه سیال نه یې، نو د خیال پلو پر ځای داسې څه وکړه،چې د هغه ځای او لیول ته ورسیږې، ځکـه کوم خلک چې خوبونه ګوري، په اصل کې همدا خیال پلو دی. په خیال پلـو کې انسان په عملي ډول هیڅ نه کوي، یوازې خیال کـړوي. تاسـې بایـد عمـل وکړئ.
د خیال پلو او خوب لیدلو تر منځ توپیر پېژنئ او که نه؟

## په ټلیفون غږیدونکې نجلۍ

یوې نجلۍ راته وویل چې څه وخت وړاندې یو هلـک راتـه وړانـدیز وکـړ او راته یې وویل چې ډېره مې خوښه یې. هغه هلک راتـه وویـل چـې درې کالـه وړاندې مې د کور تر څنګ مارکیټ کـې لیـدلې وې او لـه هماغـه وختـه مـې لټولې. هغه وویل چې شپه او ورځ مې دا دعا کوله چې پیدا دې کړم، اخر مې دعا قبوله شوه او پیدا مې کړې. بیا یې راته وویل چې تـه زمـا د دعـاو حاصـل یې، ګنې څوک چې یو ځل ورک کړې، بیا نه پیدا کیږي، هغه ما سره د مینـې او واده په اړه هم خبرې وکړې.
ما ته د هغه خبرې ډېرې ښې ښکاره شوې، حال دا چې ما پېژندلو هـم نـه، مـا بیا هم په هغه باندې باور وکړ او خبرې مې ورسره وکړې. هغه هم راسره ډېـرې خبرې کوې، ورځ به یې له ما سره په خبرو پیلوله او ختموله. هر وخت زنګ، مسیج. ټوله ورځ یې راسره اړیکه نیوله.

ورو ورو يې رارسه ناسمې خبرې شروع کړې، په لومړيو کې مې په مينه وپوهولو چې زه داسې نجلی نه يم؛ خو هغه چې پوه نه شو، نو ښکاره مې ترې انکار وکړ او ورته مې وويل چې زه داسې خبرې نه کوم. هغه ما سره په دې خبرو اړيکه پرېښوده او مسيج او ټليفون يې هم نه خوابول. څو ورځې وروسته مې ورته مسيج وکړ چې خير دی خبرې راسره وکړه. ما ته يې وويل چې که ته ناسمې خبرې کوې، خبرې درسره کوم، ګنې نه يې کوم. اوس فکر وکړه چې ما سره خبرې کوې او که نه؟

حتما، ما ورسره خبرې کول غوښتل؛ ناسمې خبرې نه. زه ستا خبرې اورم، د همدې خبرو په اورېدو راکې همت پيدا شو چې انسان بايد په هيڅ ناسمه اړيکه کې ونه اوسي. ناسمه اړيکه يو څه وخت خوند درکوي؛ خو د هغې نه ترلاسه شوی ذهني اذيت، انسان له داخل نه بربادوي او دا په داخل کې بربادي بيا وروسته د انسان په اړيکه کې خنډ پيدا کوي.

د همدې لپاره مې له ډېر فکر وروسته هغه پرېښود؛ خو د حيرانتيا خبره دا ده چې د ده له پرېښودو وروسته زه نوره هم خفه شوم. زه نه پوهېږم چې د هغه په پرېښودو کې زه سمه وم که ناسمه؟ که زما فيصله سمه وي، نو دا خفګان د څه شي دی؟ يو ناسم هلک څنګه ماته ښه ښکاري؟ زه نه پوهېږم، ته يو ارواپوه يې، انسان پېژنې. خير دی ما سره په پوهېدو کې مرسته وکړه. مننه.

ما ورته ځواب ورکړ: زه د يوې يوې پوښتنې په ځواب سره تا په ټولو خبرو پوهوم. ارواپوهنه موږ ته وايي چې موږ ټول خلک لږ يا ډېر د ځان غوښتنې ښکار يو. د همدې لپاره، کله چې يو څوک راته وايي چې ته مې خوښه/ خوښ شوې، نو هغه هم زموږ خوښېږي، له همدې امله دا هلک ستا خوښ شوی و.

د هغه له پرېښودو وروسته چې ته خفه يې، دا بلکل داسې ده لکه يو انسان چې کوم قيمتي شی پيدا کړي او خوشحال شي چې دا به څومره قيمتي وي؛ خو کله چې يې پرانيزي، ګوري چې په داخل کې يې ګند دی، نو څکه بېرته خفه کېږي. ستا خفګان فطري دی.

د هغه له پرېښودو وروسته ستا دخفګان نور لاملونه هم کېدای شي، لکه د يو څه ورکولو خفګان. په لاشعوري توګه تاته داسې ښکاري چې تا هغه له لاسه

ورکړ، په داسې حال کې چې په اصل کې هغه ته له لاسه ورکړې. د شعور او لاشعور د پوهېدنې لپاره تل دا خبره په یاد ولرئ چې زموږ لاشعور روند وي، تر هغې چې په شعوري توګه یې په خبرو پوه نه کړو. دا له خان سره فیصله کول موږ خوښ او خفه کوي، ځکه لاشعور بیا پوهېږي چې که هغه هر څنګه وو؛ خو تاسې له لاسه ورکړ. د انسان فطرت داسې دی چې که یو څه وبایلي، په لاشعوري توګه هغه خفه کېږي. کوښښ وکړه چې خپل لاشعور په شعوري توګه پوه کړې چې اصل تاوان چا کړی دی!؟ تا نه، هغه ته له لاسه ورکړې یې.

د خفګان یو بل لامل هم شته چې د هغه په خبرو سره ستا په زړه کې مینې جزبې را پیدا شوي. دا چې د دې جذبو وارث ته نه یې، نو دا جذبې په داخل (باطن) کې درد او خفګان درکوي. لکه څنګه چې یو څوک موږ ته ښکنځل وکړي، نو په موږ کې غوسه راپارېږي. همداسې دا هم دی. دا چې د انسان په داخل کې د جذبو مجموعه ده، نو کوم ډول خبرې چې اوري، په هماغه ډول جذبې پکې پیدا کېږي. ماهرین وايي چې همدا جذبات دي چې موږ په عمل کولو مجبوروي؛ خو د خوښې خبره دا ده چې له انسان سره پوره اختیار شته چې هغه خپل جذبات ومني یا نه. له همدې امله هغه له جذباتو وروسته هم داسې کړنه ترسره کوي چې هغه ته ښه ښکاري.

کوښښ وکړه چې دا د لاوارثه مینې جذبې او خفګان ته له خپلې فیصلې په اړولو مجبوره نه کړي. په یاد ولره چې په ژوند کې یوازې فیصله کول مهم نه دي، په فیصله قایم اوسېدل هم ډېر مهم دي، ځکه له هرې فیصلې وروسته انسان ته دا شک خامخا پیدا کېږي چې ما خو د هغه په پرېښودو ناسمه پرېکړه نه ده کړې. دا بلکل فطري خبره ده. له دې شک وروسته هم په خپله فیصله ولاړ اوسه، شک چې دې قوي ووینې، خپله مرې.

ستا د پوښتنې په ځواب، چې د هغه پرېښودل سم دي که ناسم، زما ځواب دا دی چې تا بیخي سمه فیصله کړې ده. داسې لاره چې انسان د داخلي بربادۍ په لور وړي، د هغې پرېښودل باخبري او هوښیارتیا ده.

د خفګان خبره دا ده چې د ډېرو هلکانو مینې، د نجونو د جسم ګټلو جال وي. هغه د نجونو تر ټولو لویه هیله، یعنې مینه او تر ټولو لویه غوښتنه یعنې

واده د لالچ په ډول استعالوي چې د هغه جسم وګټي. ناسم هلکان په لومړیو کې ښې او په زړه پورې خبرې کوي؛ خو د خوښې خبره دا ده چې د هغوی دا تمثیل تر ډېره نه چلېږي او له څه وخت وروسته یې اراده څرګندېږي.

## له نجونو نفرت

یو هلک مې د مینه وال په حیث لیدو ته راغی، په خبرو خبرو کې مې ترې وپوښتل چې د خپلو عادتونو په اړه راته وغږېږه. هغه راته وویل چې زه رومانس فلمونه ډېر په شوق ګورم، رومانس فلمونه کتل زما عادت دي. د یو اروا پوه په توګه په دې خبره باندې زما د تجسس حس راوپارید او ترې ومې پوښتل: کله دې فکر کړی چې داسې ولې یې؟ د رومانس فلمونه کتل ولې خوښوې؟ هغه په عام ډول باندې وویل چې ما پرې ډېر فکر کړی؛ خو هېڅ لامل مې یې نه دی معلوم کړی.

ما ورته وویل: که اجازه دې وي، زه به ستا د لاشعو تلاشي واخلم، ځکه اروا پوهنه وایي چې که زموږ په شعور کې د خوښ او ناخوښ لامل نه وي موجود، نو په لاشعور کې یې ضرور معلومات وي چې موږ ولې یو کار خوښو یا یې نه خوښو. په لاشعور کې د معلوماتو له پیدا کولو وروسته خوښ په ناخوښ او ناخوښ په خوښ بدلوی شو.

کله چې هغه په خوښې اجازه راکړه، نو ما د بریف سایکوتراپي طریقه وکاروله او هلته مې د ده د لاشعور تلاشي پیل کړه. د ده په لاشعور کې مې څو کاله مخکې یوه کیسه پیدا کړه چې د ده د شوق او خوښې لامل و.

کیسه دا وه چې څو کاله وړاندې ورته یوې نجلۍ دهوکه ورکړې وه. دې پېښې دومره دردمن کړی و چې د ده له زړه نه یې د ښځو عزت ختم کړی و. هغه نه داسې ښکارېدل چې په نړۍ کې هره ښځه بې وفا ده او دا بې وفا مخلوق په هیڅ ډول د عزت وړ نه دی. له همدې امله به چې هغه کومه ښځه په ناوړه کار کتله، خوند به یې ترې اخیسته.

د لامل معلومولو وروسته مې د هغه لاشعور پوه کړ چې په نړۍ کې هره ښځه بې وفا نه وي. یوازې ښځې نه، نارینه هم بې وفا دي. د یو چا له دهوکې وروسته د نړۍ ټول نارینه یا ټولې ښځینه دهوکه ورکونکې نشو ګڼلی. کله چې

د ده شعور دا خبره ومنله نو ده ته بیا د رومانس فلمونو کتل په زړه پورې نه و او هغه لیدل یې پرېښودل.
مهمه خبره! اوس دلته پوښتنه پیدا کېږي چې د ډېرې ټولې نجونې یا هلکان له دې امله رومانس فلمونه ګوري؟ ځواب: نه، بلکل نه، ځکه له هر لاشعور نه یو ډول لاش نه راوځي، د هر چا زخم مختلف وي. د هر چا اور او تاو مختلف وي چې دی پکې سوځي.

# پیسه ورکونکې نجونې

یوې نجلۍ راته ټلیفون وکړ چې یو هلک زه لوټ کړم. تر اوسه یې رانه لکونه روپۍ خوړلي دي. زه له هغه سره بې حده مینه کوم او نه غواړم چې په هیڅ صورت یې له لاسه ورکړم. زه پوهېږم چې زما او د هغه یوازې د پیسو اړیکه ده. پیسې ختمې، اړیکه ختمه. زه پوهېږم چې هغه ماته دهوکه راکوي؛ خو له دې ټولو سره بیا هم د خپلې مینې له امله دهوکه خورم.
څو ځل مې د پرېښودو هڅه وکړه؛ خو بریالۍ نه شوم. چې پرېږدم، ساه مې بندېږي. داسې ښکاري چې هغه زما د ساه ګانو مالک دی؛ له هغه پرته ژوند نه کېږي. بیا فکر کړم چې داسې پیسې به څه کړم چې ژوند کې مې خوښي نه وي؛ خو د پیسو په ورکولو سره ویرېږم چې زه تر کومې دا اړیکه پر مخ بیولی شم، ځکه هغه ورځ په ورځ پورته خېژي. خرچه یې ډېرېږي. کنټرول یې راته نور ستونزمن دی.
ما ځواب ورکړ چې دا جمله، یعنې هغه هلک ما لوټوي، نه ښکاري چې ستا اړیکه له داسې قبیلې څخه ه چې د خپلې تېروتنې د ذمه واری اخیستو پر ځای، په نورو باندې د هغه د بوج په اچولو سره د ځان داده کولو کوښښ کوي، ځکه هیڅوک له چا څه نشي اخیستی، تر څو هغه یې ورنکړي. له هر څه وړاندې دا ذمه واري ومنه چې هغه ستا پیسې نه خوري، بلکې ته پرې خپلې پیسې خورې. کله چې انسان خپله تېروتنه ومني، بیا یې سموی شي. په یاد دې وي چې هغه کسان چې خپله تېروتنه په نورو ورتپي، تل همداسې وي.
کله چې یوازې شوې، له ځان سره ښه فکر وکړه چې د کمترۍ احساس خو نه لرې؟ ځکه، د یو اروابوه په حیث د کمترۍ احساس ښکار کړي خلک، د

پیسو، قیمتي ډالیو او جسم،په ورکړې سره د اړیکې پر مخ بیولو ناکام کوښښ کوي. ته داسې وکړه چې د پیسو ورکولو پر ځای د خپلې کمترۍ په احساس کار وکړه. د کمترۍ احساس له ختمېدلو وروسته به دربانډې داسې وخت راشي چې د اړیکې جوړولو لپاره به هیڅ پیسه ونه لګوې.

## ښایسته نجلۍ سره واده کول

یو ځل زما د یوې پوښتنې په ځواب کې چې څه ډول نجلۍ سره واده کول غواړې؟ یو هلک وویل چې زه له ښایسته نجلۍ سره واده کول غواړم. ما ترې وپوښتل چې کله دې فکر کړی، څه ډول ښایسته نجلۍ سره واده کول غواړې؟ د دې په ځواب کې یې له لږ فکر وروسته وویل چې له داسې نجلۍ سره واده کوم چې ټول خپلوان، ملګري او په ځانګړي ډول تره زامن مې حیران شي چې دا څومره ښایسته نجلۍ سره یې واده کړی دی.

ما ورته وویل چې ته د ښایسته نجلۍ سره د دې لپاره واده کوې چې خپلوان دې میرمن وګوري او ووایي چې څومره ښایسته ښځه یې ده.

هغه غلی شو، ما وویل لږ وخت باید د خپلو خواهشاتو د تجزیې لپاره ورکړو چې کوم څه غواړو، ولې یې غواړو؟ ځکه ډیری وخت ځینې شیان د ځان لپاره نه، د نورو لپاره یې غواړو. د هغه چا لپاره چې زموږ په ژوند کې کوم مهم رول نه لري.

د همداسې یوې پوښتنې په ځواب کې یو ځل بل هلک راته وویل چې زه له ښایسته نجلۍ سره ځکه واده کوم چې زما میرمن دومره ښکلې وي چې زه بل هیڅ چا ته ونه ګورم. ما پوه کړ چې نورو نجونو ته کتل یو عادت دی او دا عادت د یوې ښکلې میرمنې سره په واده کولو نه ختمیږي.

زما د خبرې په اورېدو یې راته وویل چې نه، ماته خپل علاج معلوم دی. ما په خندا ورته وویل چې سمه ده. له څو کلونو وروسته چې له ښایسته نجلۍ سره یې واده کړی و، یو ځای مې وکوت او ورته مې وویل چې ښایسته نجلۍ سره له واده وروسته خو به اوس نورو نجونو ته نه ګورې. هغه راته وویل چې تا سم ویلي وو، نورو نجونو ته کتل یو عادت دی او عادت له ښایسته نجلۍ سره په واده کولو نه ختمیږي.

د دې دوه هلکانو د کیسو په کولو زما موخه دا ده چې ډېر شمېر نجونې هـم د ښایسته خاوند د درلودلو خواهش د دې لپاره کوي چې ملګري یا خپلوان بـه یې څه وايي؟ څکه خلک یوازې بهر ویني، نو د دې لپـاره د بهـرني ښایسـت پسې مه ځئ. تل له دننه ښایسته خلـک پیـدا او وګـورئ، څکـه لـه داخـل نـه ښایسته خلکو سره ژوند ښکلی کېږي.

## د نجونو عزت

څو ورځې وړاندې راته داسې یو هلک راغی چې یوې نجلۍ پرېښې و او دې کار زښت دردمن کړی و. د یو اروایوه پـه حیـث بـه درسره بـل وخـت پـه دې بحث وکړم چې د یو چا له پرېښودلو وروسته ولې یو څوک دردېږي؟ اوس بـه د دې هلک خبرو ته راشو. هغه ماته خپله کیسه وکړه چې محترمه! یوې نجلۍ راسره داسې مینه کوله چې زه خپله هم حیران وم چې په ما کې داسې څـه دي چې هغه راباندې دومره مینه ده.
دومره مینه یې راسره درلوده چې په ذهن کې بې یوازې زه ګرځېدم، چېرته یم؟ څه کوم؟...؛ خو د هغې دا کار ماته هیڅ تکلیف نـه رسـولو، څکـه کـه مـا بـه ورته وویل چې بوخت یم، تر هغې به یې راته مسیج نه کولو چې اوزګار شوی به نه وم. ما ته به یې تل ویل چې زه دارېږم پرېمنږدې؛ خو نه پوهېږم چې پـه هغې کې دومره طاقت له کومه راغی چې زه یې له هر لورې بلاک کړم او پرې یې ښودم.
ما هغه هلک ته وویل چې یو انسان له کوم لامل پرتـه بـل انسـان نـه پرېږدي.
خامخا داسې څه شوي دي چې هغې ته پرېښی یې. هغه راتـه وویـل چـې یـو څل هغه چېرته مصروفه وه، ما داسې وګڼله چې زه ما په کیسه کـې نـه ده. دې خبرې راته درد راکړ او له خپلو ملګرو سره مې شریکه کړه. هغوی راتـه وویـل چې ته یې هم لږ وخت پرېږده، کله چې درد ویني، خپله به سـمه شي. مـا د ملګرو په مشورې عمل وکړ؛ خو دې کار زموږ اړیکه لا خرابه کړه.
په دې چې هم کار ونه شوم، فکر مې وکړ چې د پوهنتون له یو استاد سره چې موږ سره یې یو ډول ملګرتیا هم کوله، مشوره وکړم. دومره عمـر یـې شـوی، د اړیکې جوړولو لپاره خو به خامخا کومه مشوره ورسره وي. هغه سره مـې چې خبره شریکه کړه، راته یې وویل چې نجونې باید تر خپل حیثت پورې وسائل

شي. ما چې کله د هغه په مشوره عمل وکړ؛ خبره نوره هم خرابه شوه. له دې
وروسته مې وروستي هیله یو هلک ته وه چې زموږ په پوهنتون کې وو او له
ډېرو نجونو سره یې ملګرتیا وه. هغه د پوهنتون ویاند هم وو. هغه سره د
مشورې پر وخت مې زړه کې وویل چې دا به وروستي کس وي چې مشوره
ورسره کوم؛ خو نه. بنایي حقیقت دا و چې له ده پرته بل څوک راپاتې نه و
چې مشوره ورسره وکړم. کله مې چې هغه سره مشوره وکړه، هغه په ډېره باوري
لهجه راته وویل چې د نجونو د کنټرولولو تر ټولو اسانه لاره دا ده چې هغه
ذلیله کړه، ځکه نجونې د دې قابلې دي، یو ځل یې ښه سمه ذلیله کړه، بیا
وګوره چې ستا په پښو کې پرېوځي او که نه.
د هغه خبرې مې په زړه ښې ولګېدې او له نجلۍ سره د مقابلې په لټه کې
شوم. یو ځل راته هغې نجلۍ وویل هغه چېرته بوخته ده، بس ماته هم موقع
پیدا شوه او شروع مې ورته وکړه. حتی مور او پلار مې هم ورته وښکنځل. څه
چې مې په خوله راتلل ورته مې وویل او ټیلیفون مې بند کړ. کله مې چې ورته
دا خبرې کولې، هغې راته ویل چې په تا څه شوي دي؟ ته ولې په خبرې د
خان پوهولو پر ځای، خبره نوره هم خرابوې. که اړیکه نه غواړې، ختمه یې
کړه؛ خو ښکنځل خو مه کوه، ما مه ذلیلوه. له دې وروسته به څنګه اړیکه
پاتې شي.
له دې وروسته یې زه له هر لوري بلاک کړم او ټولې اړیکې یې راسره ختمې
کړې. هغه نجلۍ چې یوه شیبه یې له ما پرته نشوای تېرولی، اوس څو میاشتې
له ما هیڅ احوال وانخیست. ډېر زیات مې ورسره د اړیکې کوښښ وکړ؛ خو
هغې راسره هیڅ اړیکه ونه نیوله. څو ځل مې ترې بښنه وغوښته، مګر نه یې
منې. اوس ته ووایه زه څه وکړم؟ زه له هغې پرته ژوندی نشم پاتې کېدای. زه
غواړم هغه بېرته زما ژوند ته راشي.
ما د هغه هلک خبرې ښې په غور واورېدې او ورته مې وویل له بښنې وروسته
هیڅ ونه کړې، هغې نجلۍ ته وخت ورکړه او تر څو چې درسره هغه خپله
اړیکه ونه نیسي، هغه مه تنګوه، ځکه ارواپوهنه وايي چې له تېروتنې وروسته
چې موږ ته د هغې احساس وشي، موږ بښنه غواړو؛ خو مقابل لوری یې به
اسانۍ نه منې او بلکل داسې کېږي لکه مخکې چې وه.

بو چا ته د ذهني اذیت رسولو وروسته، د ارامېدو کولو وخت ورکړه چې خپل داخلي مسیج بیا تکرار کړي. په یاد ولئ چې څیني خلک ژر ارامېږي او څینې په خند. بله خبره دا چې هغه ته نه یې پرېښی، بلکې تا هغه مجبوره کړې چې تا پرېږدي. ستا د دې پوښتني خواب چې په هغې کې زما د پرېښودو طاقت له کومه شو، دا دی چې څوک پرېښودل شي، هغه پرېښودونکی شخص د پرېښودو طاقت ورکوي.

د مشورې په اړه د پوهانو نظریه دا ده چې له هغوی سره باید بیخي مشوره ونه شي، ځکه ملګري هم عمره وي او د هغوی او زموږ تجربې دومره توپیر نه لري. له همدې امله سمه مشوره نه شي درکولی. د ویاند په اړه هم وایي چې ژوند یوازې په اغېزناکو خبرو نه تېرېږي، د ژوند تېرولو لپاره انساني روان پېژندل ضرور دي.

له استاد سره د مشورو اړوند پوهان وایي چې ډېری استادان فکر کوي چې هغوی په اړیکو کې ډېر پوهېږي، په داسې حال کې هغوی یوازې په خپل مسلک کې ډېر پوهېږي. څوک چې په کوم کار کې مهارت ونه لري، په هغه کې به ترې مشوره څنګه واخلو.

پوهان وایي ضرور نه ده چې له هر عمر خوړلي او سپینږیري سره دې د ژوند تجربه وي، ځکه ده یوازې هغه ژوند تېر کړی دی چې د همده دی. هغه یوازې په خپل ژوند پورې اړوند مشوره درکوي. د ژوند تېرولو تجربه یوازې د ژوند تېرولو نه، بلکې بې شمېر خلکو د ژوند په مشاهدې او تجزیې سره ترلاسه کېږي.

د اندېښمنو خلکو تر ټولو ستره تېروتنه دا وي چې هغه د یو پوه او مسلکي شخص سره د مشورې پر ځای خپل شاوخوا بې تجربې خلکو سره مشوره کوي چې په دې سره یې اندېښنې د کمېدو پرځای ډېرېږي. داسې خلک چې انساني روان نه پېژني، له هغه د مشورې اخیستل تاوان کوي، ځکه داسې مشوره درکوي چې د خبرې سمېدو پرځای، خبره خرابوي. ما ډېر فکر کړی چې زموږ ټوله ټولنه په ناسمه مشوره ورکولو کې مهارت لري، د همدې لپاره باید مشوره د انسان د روان پېژندنې له متخصص او مسلکي شخص سره وشي.

د اروپاپوهنې د پوهانو په نظر، هلک وي که نجلۍ، په نړۍ کې د هر انسان د کنټرولولو اسانه لار دا ده چې له زړه نه د هغې عزت وکړې. په نړواکه ټولنه کې ښځې ژیاتره د عزت کمې ښکار کېږي. ځکه نو کور، ډوډۍ او جامو پرځای عزت ته ترجیح ورکوي. اوس خو تا هغې نجلۍ ته هیڅ نه دي ورکړي.
په اوس وخت کې که کوم نارینه میرمن د سرو زرو په قفس کې بنده کړې وي او د هغې دروازه پرانیزي او بیا یې بې عزتي کوې چې دا به چېرته لاړه شي، نو دا یوازې ستا تېروتنه ده. ښځې د غار او غر لـه دور نـه راوتي دي، هغوی لـه عزت پرته په بل هیڅ شي نه شو کنټرولولی.

## د ناسمو هلکانو نښې

د یو اروپاپوه په حیث ډېر شمېر نجونې له هلکانو د دهوکې خوړلو وروسته ماته راغې چې د خبرو په اورېدو یې زښت دردمن کېږم. زه پـه افسوس سره وایـم چې زموږ په ټولنه کې بې حسي-بېځي اوج تـه رسېدلې ده. خلک د خپل مطلب لپاره د بل پښو ته پرېوځي او له مطلب پـوره کېـدو وروسـته یـې داسـې غورځوي چې ګنې بیخي یې پېژني نه.
ډېر شمېر نجونې د واده په لالچ د دویم نمبر یـا ناسـمو هلکـانو پـه چـال کـې پرېوځي او دهوکه خوري. د دې لپاره مې غـوره وګڼلـه چې لـه تاسـې سره د ناسمو هلکانو نښې شریکې کـړم، کـه دا نښـې پکـې وې، نـو سمدسـتي یـې پرېږدئ. زه پوهېږم چې د یو چا پرېښودل سخت دي؛ خو د هـرې ورځـې ژړا نه، یوه ورځ ژړا ښه ده. په یاد مو وي چې د ځان پـه لوټولـو یـو څـوک نشـئ ترلاسه کولی او که په داسې ډول یې ترلاسه هم کړئ، نو هغه به مستقل نه وي، بلکې موقته لاسته راوړنه به وي.
لومړۍ نښه: د یوې پاکې مینې په نوم درسره اړیکه جوړه کړي او بیا پـه مسـیج او ټیلیفوني اړیکه د مینې خبرو کولو ته مو په ذهني ډول تیاره کړي.
دویمه نښه: په یوازې لیدو مو ټینګار کوي. که تاسې یې ونه منئ، نو په لومړیو کې ستاسې د باور لپاره په عمومي ځایونو کې درسره لیـدل کتـل کـوي او پـه عمومي ځایونو کې یو ځای کېدو سره په یوه نه، یـوه بهانـه ستاسـې پـه جسـم لاس لګوي.
درېیمه نښه: کوښښ کوي چې له واده وروسته کار، له واده وړاندې وکړي.

څلورمه نښه: له تاسې، ستاسې له خبرو او ستاسې له خوبونو سره هيڅ دلچسپي نه لري.

پنځمه نښه: له تاسې مخامخ يا د بل چا په لاس ډالۍ غواړي. مثلا: زما د زوکړې کليزې ته څه راوړې؟ ماته به په اختر کې څه راکړې؟....

شپږمه نښه: له تاسې مخامخ يا د بل چا په واسطه پيسې غواړي. په داسې ډول چې ځان ډېر خفه ښايي. که ډېره ناپوهه يې؛ خو خپله ورته د مالي مرستې وړانديز کوې او کنه هغه يې درنه خامخا غواړي. داسې يو څه به درته وايي چې فکر کوې له تا پرته يې بل هيڅ چا ته نه شي ويلی او نه له بل چا پيسې اخيستی شي.

اوومه نښه: تاته وايي چې فلانی نجلی راته ډالي راکړه، د دروغو کيسې درته جوړوي، تر څو په تا کې کينه راوپاريږي او له نورو ورسره ښه چلند وکړې. مثلا: که د شرټ يا د عطروٌ صفت يې وکړې، نو درته به وايي چې فلانی راته ډالی کړی؛ خو په ياد مو وي چې په دې کيسو ونه غولېږئ.

اتمه نښه: نه مو پرېږدي او نه درسره واده کوي. نهمه نښه: څرګنده او صفا اړيکه درسره نه ساتي، يعني کله يې چې زړه وي، خبرې درسره کوي او،که نه وي مصروفيت بهانه کوي. ته که ورته هر څومره زنګونه او مسينجونې وکړې، هغه ته هيڅ توپير نه کوي.

لسمه نښه: په لومړيو کې ډېر ښه وي، وروسته خپل اصليت ښکاره کوي او وايي چې زه داسې يم.

واتساپ: 0779815770

# د زهرجنو هلکانو نښې

هلکان دوه ډوله وي: یو ډول هغه چې ژوند ته مو له راتلو وروسته ورسره ژوند له خوښیو ډکیږي او بل هغه چې ژوند ته مو له راتلو وروسته ورسره ژوند زهرجن کیږي. د دویم ډول هلکانو نښې دا دي:

۱) ستا د ټول وخت قبضه کولو کوښښ کوي. له بل چا سره، حتی له خپل خان سره وخت درلودلو ته مو هم نه پریږدي. یعنې ستاسې وخت وژني. چېرته یې؟ چا سره یې؟ څه کوې؟ داسې پوښتنې بیا بیا کوي.

۲) له خپلې نږۍ او ملګرو مو لرې کوي. په ځانګړي ډول ستاسې د ځانګړو خلکو د لرې کولو کوښښ کوي. وایي درته چې له ما پرته به هیڅ چا سره خبرې نه کوې. چاته به هیڅ نه وایې. خپل درد دې یوازې ماته بیانوه. دا ډول خبرې کوي.

۳) تاته به د هغه کار د کولو وایي چې نه غواړې ویې کړې.

۴) په تا باندې د خپلې خبرې منلو لپاره درسره اړیکه ختموي. مسیج ته ځواب نه ورکوي، زنګ نه پورته کوي. تر هغې مو ایګنور ساتي چې خبره یې ونه منې.

۵) په ډالیو، دروغجنو ښېښو او وعدو ستاسې د ګټلو کوښښ کوي.

۶) تاسې ته له پوهنتون او دندې د پاتې کېدو وایي. مثلا: که نن لاړه نه شې، څه به وشي، خبر دی نن زما لپاره هم پوهنتون یا دندې ته مه ځه....

۷) که دنده کوې، د دندې د پرېښودو درته ووایي. ستا د بې دندې کولو کوښښ کوي. که بیا هم خپله دنده کوې، ستا تنخوا غواړي او ځان ستا د پیسو داسې مالک ښایي چې ګنې د هغه خپلې دي.

۸) په تا رشخند وهي. مثلا: دا څه ډول جامې اغوندې. دا څه ډول ملګرې لرې. تا شرمنده کوي. که ښکاره دې رشخند نه کړي، نو په غیر مستقیم ډول درباندې رشخند وي. ترخې خبرې درته کوي چې تا به خفه کوي. بیا به درته ووایي چې "ههههه" ما خو ټوکه کوله.

۹) د خلکو په مخ کې او کله چې ورسره یوازې یې، په کړنو کې یې توپیر لیدل کیږي.

۱۰) داسې خبرې درته کوي چې زه څان ته زيان رسوم. مثلاً: زه ځان وژنم او کله خو ستا د پام راګرځولو لپاره ځان ته بو څه زيان هم رسوي.
نوټ: له اړيکې ختمولو وروسته د دې هر څه ذمه وار تاسې ګڼي او وايي چې ستا کارونو زه دې ته مجبور کړم.

## ايا هغه درسره رښتونې مينه لري؟

ډېرې نجونې راسره اړيکه نيسي او پوښتي چې څنګه معلومه کړو يو هلک درسره رښتيا مينه کوي يا يوازې ستا له جذبو سره لوبې کوي؟
د دې پوښتنې ساده ځواب دا دی چې تاسې د هغه هلک په خبرو د باور پر ځای د هغه عمل او کړنې وګورئ، ځکه ډېر خلک يوازې دروغجنې وعدې کوي، خو په عمل کې صفر وي.
د دې تر څنګ مې ځينې پوښتنې تياري کړي چې تاسې مرسته کوي چې مقابل لوری درسره واقعي مينه لري او که نه؟
پوښتنه: آيا هغه چې څه وايي، په عمل کې يې هم ترسره کوي، که يوازې خبرې کوي؟
پوښتنه: آيا هغه ستاسې جذبې پېژني يا يوازې تاسې د هغه جذبو ته اهميت ورکوئ او هغه يوازې په خپلو جذبو اخته وي؟
پوښتنه: آيا هغه خپله تېروتنه مني او که ځان له هر ډول تېروتنې پاک ګڼي او د هر څه ذمه واره تاسې ګڼي؟
پوښتنه: آيا د هغه د تېروتنې لپاره هم تاسې بښنه غواړئ؟
پوښتنه: آيا که د هغه دروغ وپېژنې، هغه د شرم احساس کوي او بښنه غواړي، که دروغجن دليلونه وايي؟ چې ما ستا لپاره دروغ وويل. که مې دروغ نه وای ويلي داسې کېدل او هغسې کېدل.
پوښتنه: آيا هغه د ارامو خبرو پر ځای تل په شخړه کې وي؟ مانا هر وخت جنګ، ګيلې، شخړې کينې... کوي؟
پوښتنه: آيا له هغه سره په يوه خبره څو څو ځلې بحث کوئ؟
پوښتنه: له هغه سره د اړيکې په اړه ستاسې جذبات څه دي؟ سکون احساسوئ يا ناقراره يئ؟

پوښتنه: آیا یوازې تاسې د هغه په له لاسه ورکولو دارېږئ؟ په یاد ولرئ چې اړیکه دوه اړخیزه وي، له همدې امله د بایللو ویره هم دوه اړخیزه وي.
پوښتنه: له تاسې سره څه ډول سلوک کوي؟ آیا ستاسې عزت کوي؟
پوښتنه: آیا هغه تل یو ډول وي، که رنګ بدلوي چې تاسې نه پوهېږئ په کوم رنګ (شخصیت) یې یقین وکړئ.

## محتاجه نجلۍ

د ژوند کولو لپاره باید له ډېرو مسایلو سره مخ شې؛ خو د یو ارواپوه په حیث زه پوهېږم چې کوم مسایل په یوه اړیکه کې رامنځ ته کېږي لکه، د والدینو او لادونو، ورور او خور، ښځه او خاوند، خپلوان یا ملګري... هغه انسان په ذهني توګه ډېر خرابوي او فشار پرې راوړي.
یو خو په موږ کې د مسایلو د حل کولو کوم رواج هم نشته؛ خو د اړیکو په مسایلو کې بیا بیخي وروسته پاتې یو. نه مو د اړیکو د مسایلو حلول زده کړل او نه مو یې د حلولو سوچ کړی دی. پخوا به خلکو د عمر او تجربې له مخې مسایل حلول؛ خو د عمر تېرېدو وروسته به یې تجربې د راتلونکې نسل لپاره په کار راتله. هغه تجربه لرونکو او پوهو خلکو ته به موږ بابا، حاجي صیب، ملک صیب... ویل.
اوس باید ووایو چې خلک یوازې د عمر په تېرېدو نه لویېږي، بلکې علم او تجربه هغه لویوي. ما ډېر کم عمره لیدلي چې له لویانو یې ستر کارونه کړي او ډېر لویان مې لیدلي چې له کم عمره یې خام کارونه کړي دي. په دې اساس د لوی عمر والا زما په نزد هغه دی چې علم او تجربه لري. ما فکر وکړ چې مخکې به د یو نسل تجربه بل نسل ته لاړښود و؛ خو اوس داسې نه دي. د هغې دوه لوی دلیلونه دي. یو دا چې اوس هغه خلک نشته چې د دوی مرسته په سمه طریقه وکړي او بل دا چې په یوویشتمه پېړۍ کې انسان د پېړیو مزل په کلونو کې وهي. ځکه د اوسني نسل فاصله له مخکیني نسل څخه دومره ده چې د هغوی تجربې د دوی لپاره په کار نه راځي.
پوهان وایي چې په اړیکه کې مسایل رامنځ ته کېدل د اړیکې د قوي والي ازموینه کوي، ځکه له مسایلو راتلو وروسته اړیکه یا له پخوا قوي کېږي او یا له منځه ځي؛ خو زموږ په اړیکه کې د مسایلو رامنځ ته کېدل د اړیکې د قوي

کېدو پرخای هغه له منځه وړي. د دې لامل دا دی چې کله د دوه کسانو تر منځ مسله رامنځ ته کېږي، دواړه نه پوهېږي چې څه وکړي او کله يې چې د حل لپاره مشرانو ته ورځي، هغه ورته د خپل عمر د دېروالي په اساس نصيحتونه کوي.
ځنګه چې د ښځې او خاوند تر منځ مسايل رامنځ ته کېږي چې ټول پوهېږو دا مسايل بايد خپله حل کړي. ماته ډېرې داسې قضيې راغلي دي چې د ښځې او خاوند تر منځ کوچنی مسله، لويانو دومره لويه کړې وي چې د بيلوالي سبب يې ګرځېدلې وي. د بېلګې په ډول: يوې ميرمنې ماته وويل چې يو ځل يې له خاوند سره په کومه خبره شخړه شوه، هغې خپلو والدينو ته وويل چې تاسې دا پوه کړئ. کله چې د ښځې مور او پلار د هلک خواته د خبرو لپاره راغلي و، هلک په غوسه شوی و او د خواښې او خسر بې عزتي يې کړې وه. ميرمنې يې دا بيخي ونه زغلمه او خبره طلاق ته لاړه.
همداسې يوې بلې ميرمنې ماته وويل چې زما د کور حالت بيخي ښه وو. خواښې او خسر مې هم راسره ښه وو. چې ماته معلومه شوه، خاوند مې په پټه له چا سره واده کوي. کله مې چې ترې پوښتنه وکړه، په ما غوسه شو او راته يې وويل چې که بيا په دې موضوع ونه غږېږې. ما يې د پوهولو ډېر کوښښ وکړ؛ خو کله چې يې ونه منله، نو خپل خسر ته مې وويل چې ته مشر يې، ته يې پوه کړه او يو څه وکړه.
ماته نه وه معلومه چې زما ښه خسر په پټه زما په خلاف زهر شيندي او موقع ګوري. هغه زما د مرستې پر ځای زما د خوی په خوا شو او د کور ټول خلک يې زما خلاف کړل. تر دې چې خبره يې طلاق ته ورسوله.
يوازې ښځو نه، ډېرو نارينه و هم راته ويلي چې زموږ کور د نورو مداخلې وران کړی. لکه، يو کس راته وويل چې له خپلې ميرمنې سره يې مسله راغلې وه، نو خپل ماما نه يې مرسته غوښتې وه او دې کار خبره نوره هم خرابه کړه. هغه په ډېر افسوس سره وويل چې له طلاق وروسته زه پوه شوم چې ماما مې د کور په ورانولو خپله هغه بدله واخيسته چې ما يې لور سره له واده نه انکار کړی و.

داسې دوه نه، بلکې لسګونه بېلګې دي چې زما خواته راغلي او په ټولو باندې له فکر کولو وروسته مې ډېرو خلکو ته ویلي، چې که څه هم د مسایلو د حل لپاره یو مسلکي شخص ته ورتګ په موږ کې رواج نه دی، نو د همدې لپاره خپل مسایل خپله حل کړئ او که خپله یې نشئ حلولی، نو حل کول یې زده کړئ. ځکه زموږ شاوخوا خلک د جوړېدو پر ځای ورانېدو ته ډېر خوښ وي او دا خلک زیاتره زموږ خپل لکه، عمه، خاله، کاکا، ماما، تره خوی، ملګرې یا بل خپلوان وي چې خبره د جوړولو پر ځای خرابوي.

## جذباتي واده کونکې نجونې

د یو ارواپوه په حیث چې ما څومره فکر کړی، زموږ په ټولنه کې خلک وایي چې د مینې واده ناکام وي؛ خو داسې نه ده. څنګه چې مینې ناکامه نه وي، داسې د مینې واده هم ناکام نه وي.

د پوهېدو خبره دا ده چې واده درې ډوله دی چې عامو خلکو ته یې یوازې دوه ډوله معلوم دي، یعنې د والدینو په خوښه او په مینه یا خپله خوښه واده، مګر له دې پرته یو بل ډول واده هم شتون لري چې جذباتي واده ورته وایي. لومړی ډول (ارینج میریج) چې د مور او پلار په خوښه کېږي او هغوی هر څه ټاکي. دا چې دا فیصلې د عقل په بنیاد کېږي، نو د همدې لپاره یې د دوام چانس زیات وي.

د مینې واده، یعنې داسې واده چې دوه مینان په خپله خوښه واده کوي. په دې واده کې دواړه کسان کوښښ کوي چې خپل لویان هم پکې شامل کړي. که یې لویان ونه مني، نو په یو نه، یو ډول یې پرې مني. د مینې په واده کې دواړه ذهني پوخوالی او ذهني همغږي لري. دا چې دا فیصله د مینې په بنیاد کېږي، نو د دوام چانس یې د لومړي واده (ارینج میریج) په څېر دی.

د واده دریم ډول چې عام خلک پرې نه پوهېږي، هغه جذباتي واده دی. چې په دې کې خلک په جذبه کې راځي او له عقل پرته د واده فیصله کوي. په دې واده کې نه عقل شامل وي او نه مینه. په دې خبره کول ضرور دي، ځکه جذباتي فیصلې اکثره ناسمې وي. د همدې لپاره دا فیصله هم ناسمه وي. دا ضرور نه ده چې جذباتي فیصله کونکي ځوانان وي، بلکې لویان هم جذباتي

فیصلې کوي. دا ډول ودونه زیاتره ناکام وي. زموږ لپاره د دې دریېو ودونو په اړه معلومات درلودل ضروري دي.

تاسې به ډېر ځوانان لیدلي وي چې جذباتي ودونه یې ناکام شوي دي؛ مګر لویان څنګه جذباتي ودونه کوي، د دې د پوهېدنې لپاره د خپل ملګرې د کور یوه بېلګه راوړم.

زما د ملګرې درې خویندې دي. د مشرې خور د واده وخت یې شو، نو ورور یې پلار ته وویل چې د هغې واده به د خپلې خور په کور کې کوي. د هغې خور له ډېر وخته له دوی نه خفه وه. د همدې اړیکې د تازه کولو لپاره یې دا کار کولو.

زما په نظر دا جذباتي واده و، ځکه ورور یې په جذبه کې راغلی و او د خور واده یې کولو. دا چې پلار یې یوه لور خپلې خور ته ورکړې وه، د دې لپاره یې زما د ملګرې عمه خپله دریېمه او تر ټولو کوچنۍ لور خپلې خور یعنې د ترور کور ته ورکړه.

دوی په دې واده ډېر غور ونه کړ، ځکه دوی ته یې هر څه معلوم وو، نور به یې څه معلوم کړي وو. منځنۍ خور یې پلار په یو بل ځای کې ورکړه او دا رشته یې ډېره په سوچ او فکر سره ورکړه. زه په ډېر افسوس سره دا خبره کوم چې زما د ملګرې دواړه خویندې چې یوه یې د خاله او بله یې د عمه په کور کې واده وه، د دواړو واده یو څه وخت تېرېدو نه وروسته په طلاق ختم شو؛ خو هغه منځنۍ خور یې چې په سوچ او فکر سره یې واده شوی و، هغه اوس هم خوښ او ښه ژوند لري.

زما په نظر د خاله او عمه د کور رشتې یوازې جذباتي فیصلې وې چې ناکامې شوې. ما سره دا یو نه، داسې ډېرې بېلګې دي. هیله لرم چې د درې واړه ودونو توپیر به مو پېژندلی وي او که په ژوند کې مو چېرته هم د یو څه فیصله کوله، نو تاسې جذباتي واده په اړه زما خبرې په یاد ولرئ.

# د هلک او نجلۍ ملګرتیا

یو چا رانه وپوښتل چې ښاغلیه! ایا هلک او نجلۍ ملګري کېدای شي؟
ما ځواب ورکړ چې بلکل، هلک او نجلۍ ملګري کېدای شي؛ خو په دې کې شرط دا دی چې هغه په بهر کې وي. زموږ په ټولنه کې هلک او نجلۍ هېڅ وخت نشي ملګري کېدای. ددې یو لوی لامل دا دی چې د دوی تر منځ ډېره فاصله وي. د همدې فاصلې په سبب هلکان نجونې د یو انسان نه، د یو جسم په توګه پېژني. داسې جسم چې د دوی ضرورت پوره کړي.
ځو ورځې وړاندې په دې موضوع باندې زما یو پوه ملګري بحث کولو او هغه یوه ډېره جالبه پوښتنه وکړه. ویې ویل چې کله مو فکر کړی چې زموږ په ټولنه کې د هلک مخ ته د نجلۍ راتلل څه چې د هغه په وړاندې د نجلۍ نوم هم واخلې، په ذهن کې یې څه راګرځي؟ د کومو هلکانو په ذهن کې چې د نجلۍ لفظ په اورېدو څه راځي، همدا د هلکانو او نجونو د ملګرتیا نه کولو یو لوی دلیل دی.

## مخلصه نجلۍ

یوې نجلۍ رانه وپوښتل چې ما له یو هلک سره ډېر اخلاص کولو؛ خو بیا هم هغه ماته د مینې په نوم دهوکه راکړه. له دې وروسته مې ورځخه ځان بیخي راټول کړ، خو زما په زړه کې یوه پوښتنه پیدا شوه چې ایا په ژوند کې به کله هم هغه ته د دې احساس وشي چې هغه یوې مخلصې نجلۍ ته دهوکه ورکړې ده؟
ما ځواب ورکړ: د چا په ذهن کې چې جسم وي، هغه یوازې جسم لټوي، اخلاص نه. د همدې لپاره د هغه په وړاندې که څوک مخلص وي یا نه، کوم توپیر ورته نه کوي. خلکو ته یوازې هغه څه اهمیت لري چې هغه یې غواړي. هغوی چې د جسم په لټه وي، د مینې نوم یوازې د خپل مطلب لپاره استعمالوي. هغه ته د هیڅ جذبات مهم نه دي.
تر کومه چې دا پوښتنه ده چې ایا کله به هغه ته د دې احساس وشي؟ ځواب یې دا دی کوم وخت چې باید احساس ورته شوی وای، احساس ورته ونه شو، نو وروسته به ورته څه د دې احساس وشي. تاسې واییٔ چې بې احساسه

خلکو ته د دې احساس کېږي چې هغه د يو چا سره دهوکه کړې، تېروتنه ترې شوې او داسې بايد نه واى شي!؟ که ورته د دې احساس کېداى، بې احساس ورته ولې ويل کېدل. د دهوکه ورکونکو او بې حسه خلکو يوه لويه نښه دا چې په هغه د هيچا اخلاص کوم اغېز نه کوي.

## ليوني نجلۍ

څو ورځې وړاندې راته يوې نجلۍ وويل چې ښاغليه! ټول خلک راته ليوني وايي. ايا زه په رښتيا ليونۍ يم؟ ما چې د دې نجلۍ خبرې واورېدې، زښت خفه شوم او ورته مې وويل چې څوک دا خبره کوي؟ څوک ليوني دی، څوک نه دی، د دې حق يوازې ډاکټر او ارواپوه سره وي او هغه هم له معاينې او ډېر فکر وروسته دا خبره کوي.

اوس دا پوښتنه ده چې خلک ولې يو چاته ليونۍ/ليوني وايي؟ ښايي چې خلک د يو چا په خبرو، کړنو... باندې نه پوهېږي يا کوښښ کوي چې پرې پوه شي، خو په خپل کوښښ کې ناکامېږي، نو د خپلې ناپوهۍ د پټولو لپاره مقابل لوري ته د ليونۍ/ليوني کلمه کاروي.

په ياد ولرئ چې که په ژوند کې هم خلکو ستا خبرې او کړنې درک نه کړې، نو په زور او کوښښ سره د هغوی د پوهولو پر ځای، له يو ارواپوه سره اړيکه ونيسئ، ځکه هيڅوک په حقيقت کې ليوني نه وي، خلک يې د خپلې ناپوهۍ له امله ليوني ګڼي.

## ډرامې ليدونکې نجلۍ

يوې نجلۍ راته ټيليفون وکړ او راته يې وويل چې ته خو اروا‌پوه يې، خبر دي ماسره مرسته وکړه چې زما په داخل (اندرون) کې څه روان دي؟ زه خپله هېڅ نه پوهېږم، پر ځان مې کنټرول ختم دی. زه به درته يوه خبره وکړم چې اوس په تلويزون کې يوه ډرامه ده او زه هغه ګورم د هغې ډارمې له کتلو وروسته مې حالت نور هم خرابېږي او په ذهن کې مې ډول ډول خيالونه راځي.

ما ورته وويل چې ته پوهېږې چې يو څه درته زيان رسوي، نو ولې يې ګورې؟ په ياد دې وي چې خواږه يو روغ انسان ته ضرر نه رسوي؛ خو د شکرې ناروغ ته زهر دي. همداسې ډېر شيان دي چې د عامو خلکو لپاره عام دی؛ خو د

مینې ناروغانو ته ډېر ضرر لري. دا چې تا د ناروغۍ په حالت کې یې، نو باید احتیاط وکړې چې مسله نوره خرابه نه شي.
دا هم په یاد ولره چې یوازې مینه به، بلکې که په ژوند کې هر ډول ستونزه لرې، نو یوازې فلمونه او ډارمې، بکلې کتابونه او خبرې هم درته ضرر لري او ناروغي مو زیاتولی شي.
هسې خو په ټول ژوند کې احتیاط کول ضرور دي؛ خو د ستونزې په وخت کې باید بیخي ډېر احتیاط وشي.

## د هلکانو زړه

یوې نجلۍ راته ټلیفون وکړ او راته یې وویل چې استاده! امتحانونه مې رانږدې دي او مطالعې ته مې هیڅ زړه نه کېږي، زه څه وکړم؟ ما په خندا ځواب ورکړ چې یا د مینې جنګ وکړه یا مطالعه. په دواړو کې یو کار کېږي.
یوازې دا یوه نجلۍ نه، بلکې له مختلفو ښوونځیو، کالنجونو او پوهنتونو څخه راته ځوان هلکان او نجونې ټلیفونه کوي او یا زما خواته راځي او همدا مسله راته بیانوي چې مطالعه مې زړه نه غواړي. د دې په اوریدو ترې زه پوښتنه کوم چې کله دې فکر کړی چې مطالعه دې زړه نه غواړي، نو څه دې زړه غواړي؟ ما فکر کړی چې ټول نه؛ خو ډېر خلک چې مطالعه یې زړه نه غواړي، زړه یې له بل چا سره تړل شوی وي. په مینه کې ډېر عجیبه جادویي طاقت دی چې ستا نه، ستا ټوله پاملرنه اخلي او ستا د معشوقې په جسم کې یې ږدي. د همدې لپاره ستا فکر له کتابونو د خپلې معشوقې په لوري ځي. زه منم چې د مینې لپاره هیڅ عمر نشته، په هر وخت کې کېدای شي؛ خو زه له تاسې غواړم چې که په ښوونځي یا پوهنتون کې یئ، نو د مینې له وعدو او کارونو ځان وساتئ، ځکه دا ستاسې ټوله خواري په اوبو لاهو کوي. دا مزایل نه دی چې فضا ته یې وتوغوې، یوازې د غوره والي او لومړیتوب ټاکلو مسله ده. یو ورځ ځانته کېنه او فکر وکړه چې څه غواړې؟ مینه یا ښه ژوند او نمرې. که مینه غواړې، خو د ښه ژوند او نمرو په فکرونو او خیالونو خپل وخت مه خرابوه او که نمرې او ښه ژوند غواړې، نو له مینې ښښنه غواړه.

# بدل اخیستونکې نجلۍ

څو ورځې وړاندې یوه نجلۍ راغله چې ډېره زیاته اندېښمنه وه او د اندېښنې
او خفګان لامل یې دا و چې له یو هلک سره یې مینه کوله او دواړو په ډېر 7
مشکل په خپلو کورنیو منلې وه او کوژده یې کړه وه؛ خو کوژدن یې له څو
کلونو اړیکې وروسته، څو ورځې وړاندې ورته طلاق ورکړی و او اوس یې
کوژدن څو میاشتې وروسته بل چا سره واده کولو. کله چې ما له نجلۍ وپوښتل
چې څه غواړې؟ هغې ځواب راکړ چې سمه ده، که هغه له ما سره واده نه
کوي، نه دې کوي. او ورسره زه هم واده نه کوم؛ خو زه ترې بدل اخیستل
غواړم. د بدل اخیستلو په اړه یې راته وویل چې اوس زه هم یو څوک ګورم او
په هماغه ورځ، په هماغه هوټل کې ورسره واده کوم. ما ترې وپوښتل چې په
دې سره به څه وشي؟ هغې وویل چې زما په دې کار سره هغه خورېږي او زه
سکون ترلاسه کوم.

ما ورته وویل چې هغه اړیکه تل بریالۍ وي چې په فکر سره وشي، نه له چا نه د بدل اخیستلو لپاره. له چا نه د بدل اخیستلو اړیکه په لوی لاس ناکامي ده. او ناکامې اړیکې زموږ د بربادۍ سبب دي. له یو چا نه د بدل اخیستلو لپاره باید ځان برباد نه کړو. د یو چا د ځورولو لپاره باید ځان ونه سوځو او له دې نه هیڅ نه ترلاسه کېږي.

زه که څه هم تا ته د دې حق نه شم درکولی چې له چا نه بدل واخلې؛ خو که ته په رښتیا هم له هغه نه بدل اخیستل غواړې، نو ژوند دې له خوښیو ډک کړه. ستا له خوښیو ډک ژوند ستا د دښمن بربادي ده.

# کمزورې نجلۍ

یوې نجلۍ رانه وپوښتل چې زه له یو هلک سره مینه لرم او هلک هم راته وایي چې مینه درسره لرم؛ خو کله چې جدي خبره کوم، لکه د واده خبره، نو خبره بدلوي. زه څه وکړم؟

ما ځواب ورکړ چې که داسې څوک د واده خبره بدلوي، ته خپله لاره بدله کړه. که د لارې بدلولو طاقت نه لرې، نو د دې دا مانا ده چې ته کمزورې یې او کمزوري د هغه نه، ستا مسله ده. خلک له کمزور خلکو ګټه اخلي.

په ځان کار وکړه. ځان داسې ورسوه چې له هیڅا سره په زور واده ونه کړې، ځکه کله چې یو څوک درسره واده کول نه غواړي او ته ورپسې شله یې، نو دا زما په نظر د زور واد دی. که څوک درسره واده کول نه غواړي، نو ته ورسره په زور واده کوې؟ په یاد ولرئ چې په زور واده، بدې پایلې لري.

## د نجونو ښېرا

یو ځل ملګرې راته ډوډۍ کړې وه، هلته یو څه نور میلمانه هم راغلي و چې یو یې پکې د تره زوی او د هغه میرمن هم وه. د ډوډۍ پر وخت زما د ملګرې د تره ځوی او د هغه د میرمنې تر منځ په یوه خبره څه اختلاف راغی او لفظي شخړه رامنځ ته شوه. زموږ په مه کوه، مه کوه سره هم د ملګرې میرمنې د ځپل خاوند په سر باندې یو قاب سره ښوروا واړوله.

له خوراک وروسته چې زه او ملګرې بهر ووتو، نو ما مې ملګرې ته وویل چې ستا د تره ځوی څومره ښایسته او ښه هلک دی، خو میرمن یې ډېره سخته ده. کله چې مې ملګرې غلې شو او څه یې ونه ویل، نو ما ترې د خاموشۍ علت وپوښت. هغه وویل چې د تره ځوی مې داسې دی لکه زما مشر- ورور. د همدې لپاره یې بد نه شم ویلی. ګنې ته چې چاته ښه او ښایسته وایې، هغه له واده وړاندې یې شمېره نجونو ته دهوکه ورکړې ده.

د هغه په مخ کې خو هیڅوک څه نه وایي؛ خو ټوله کورنۍ یې وایي چې هغه ته د یوې نجلۍ ښېرا قبوله شوې دي. داسې ښېرا چې ذهن یې بیخي ور بند کړی دی او داسې یې کړی چې که میرمنه یې هر څومره بې عزتي وکړي هم، دایې په خلاف کومه فیصله نه کوي. د هغه د ځواب په اورېدو زه غلی شوم، ځکه د ویلو څه پاتې نه و.

## په شکل (څېرې) غولېدونکې نجونې

یو ځل زما خوانه یو هلک راغی، کله چې زما کلنیک ته رانوت، له لیدو سره سم مې په ذهن کې راغلل چې څومره ښه او شریف هلک دی.

هغه د کومې کورنۍ ستونزې له امله ډېر سخت اندېښمن و چې د حل لپاره یې زما خوانه راغلی و. د خبرو اترو په وخت کې یې راته وویل چې ما تر اوسه ډېرو نجونو ته دهوکه ورکړې ده. ما ترې په حیرانتیا وپوښتل چې ته خو له

شکل نه ډېر ساده معلومېږي، په تاکې داسې څه دي چې دومره نجونې دربانديې تېروتې دي؟ خکه که یو ښایسته هلك کومې نجلۍ ته دهوکه ورکړي، خو سهې ده؛ خو ستا په څېر هلك نه نجلۍ څنګه دهوکه خوړلې ده؟

هغه وویل: زه هر چا ته له شکل نه ډېر شریف ښکارم. نجونې مې چې ویني، وايي چې دا دومره شریف او ساده دی، څه زیان به راته ورسوي. زما دا شریف شکل په اصل کې یو جال دی چې نجونې پکې بندېږي.

## غریبې نجونې

د غریبی له امله د واده د خنډ ښکار....

څو ورځې وړاندې یوه نجلۍ راغله چې د واده نه کولو له امله دومره اندېښمنه وه چې ژور خفګان ته تللې. ما ترې وپوښتل چې ستا د واده د خنډ لامل څه دی؟ هغه یې په ځواب کې راته وویل چې ښاغلیه. مونږ غریب یو. د همدې لپاره خلك زمونږ کور ته رشته نه راليږي. که مونږ سره پیسې وای، هر چا به مو رشته غوښته. خکه زه وینم، زمونږ هغه خپلوان چې په مالي لحاظ لږ ښه دي، دهغوی د لورګانو ودونه شوي دي، حال دا چې تولې له ما نه ښایسته هم نه دي.

ما ورته وویل: زه منم چې زمونږ په ټولنه کې خلك پیسو پسې لیوني دي؛ خو کومه اړیکه چې د پیسو په بنیاد وي، هغه ډېره کمزورې وي. د همدې لپاره د پیسو په اړه اندېښنه مه کوه. د غریبی له امله چې څوك ستاسو خواته نه راځي، دا هغه خلك دي چې ستاسې خواته راتګ نه غواړي.

ما سره په زرګونه داسې خلکو اړیکه نیولې چې ډېر شتمن دي؛ خو خلك ورسره یوازې د پیسو لپاره اړیکه جوړوي او له اخلاص نه ډکې اړیکې پسې مړه دي. د بېلګې په ډول، څو ورځې وړندې یوه شتمنه نجلۍ راغله او ماته یې وویل چې استاده! زما دولت زما دښمن دی. خلك یوازې د پیسو لپاره مونږ سره اړیکه ساتي. د پیسو له امله زمونږ په کورنۍ کې د طلاق کیسې دومره ډېرې دي چې نور د واده له نومه دارېږو. خلك مونږ سره نه، زمونږ له پیسو سره واده کوي او په دې ډول شوی واده له اخلاص او مینې خالي وي. له اخلاص او مینې خالي خلکو سره اړیکه ډېر وخت دوام نه کوي.

د یو اروا پوه په حیث زه پوهېږم چې زموږ ټوله ټولنه په شتمنې پسې نه ځي، که داسې وای، په هیڅ صورت به غریبه نجلۍ ناوې شوې نه وای. د غریبي له امله په واده کې یو څه خنډ رامنځ ته کېږي، خو دا وخت د پیسو او لالچي خلکو نه تا لرې کوي او داسې خلکو ته دې رسوي چې په حقیقت کې تاسره اړیکه جوړول غواړي.

## د نجونو ساتنه

یوې نجلۍ رانه وپوښتل چې استاده! موږ دوه ورونه او خوېندې یو. زما ورور زما غبرګونی دی. زموږ والدین باسواده، پوه او ډېر ښه دي؛ خو هغوی چې څومره ازادي زما ورور ته ورکړې ده، هغومره ازادي یې ماته نه ده راکړې. ما فکر وکړ چې هغوی له ورور نه ډېر په ما پام کوي. له دومره پوهې سره زما والدین ولې زما او د ورور تر منځ مې مساوي سلوک نه کوي؟ ولې دا معیار نه ساتي؟ ما ورته وویل: د ازادۍ په اړه پوه والدین هم د شرم له امله خپلو لونو سره خبرې نه شي کولی. ستا والدین په هغه خبره پوه شوي چې ته پرې لا تر اوسه نه یې پوهه شوې چې موږ په کومه ټولنه کې یو، هغه نرواکه ټولنه ده او په نرواکه ټولنه کې ښځې د خپلې یوې کوچنۍ تېروتنې له امله نه یوازې خپله بدنامېږي، بلکې د هغې ټولې رشتې او اړیکې بدنامېږي. د دې لپاره والدین په خپلو لونو پام نه کوي، بلکې د هغې د عزت ساتنه کوي.

هغوی پر تا باور لري؛ خو په ټولنه باور نه لري. یوه ډېره مهمه خبره دا چې باید نجونې پرې وپوهېږي دا ده چې نجونې په جسمي او جذباتي ډول له هلکانو سره توپیر لري. د جسمي باور په اړه که ووایم، هلک که سلګونه ځله یو کار وکړي، جسم ته یې هیڅ ضرر نه رسېږي؛ خو که نجلۍ یوازې یو ځل تېروتنه وکړه، جسم یې د پخوا په څېر نه پاتې کېږي. که د جذباتي باور په اړه وغږېږو، نو نجلۍ یوه مینه نشي سمبالولی. په مینه کې له ښکېلېدو وروسته په هغې کې ناقراري رامنځ ته کېږي؛ مګر هلک له څو نجونو سره د اړیکې وروسته هم هماغسې په سکون کې وي.

# د مینې ټاپه لګونکې نجونې

کله چې درته یو څوک ښه ښکاره شو، نو له هر څه وړاندې تاسې ته د هغه د ښه ښکارېدو لامل ولټوئ. لـه ځانـه پوښتنه وکړئ چې هغه راتـه ولې ښـه ښکاري؟ که ځواب مو ظاهري ښکلا وي، یعنې یو شخص د دې لپاره تاسې ته ښه ښکاري چې ډېر ښایسته دی، نو دا عامه خبره ده.

ښایسته خلک، تقریبا هر چا ته ښه ښکاري. پـه دې بانـدې د مینـې ټاپـه مـه وهئ.

په ډېرو قضیو کې ظاهرې ښکلا په لومړي نظر کې د مینې لامل ګرځي. په یاد مو وي چې مینه هغه ټاپه ده چې موږ یې په خپله خوښه په یو چا لګوو.

د ښه لګېدو لامل کـه هـر څـه وي، لـه مقابل لـوري سره د خپلـو جذبو پـه شریکولو کې بېړه مه کوئ. بېړه کونکي خلک، ډېرې وخت دا ویره لري چې که زه هغه ته د خپلو جذبو په څرګندولو کې ځنډ وکړم، بل څوک رانه مخکې نه شي. حال دا چې داسې نه ده. څوک چې ستا وي، هغه درته رسېږي. نه یې درنه څوک وړلی شي او نه درنه ځان ورکولی شي. په خپلو جذبو د مینې ټاپـه په بېړه مه وهئ.

# یو طرفه مینه کې ښکېله نجلۍ

زما یو اروپايي ملګرې، د دوبۍ په شهزاده باندې مینه ده. هغه نه پـوازې چې شهزاده یـې پـه انسټاګرام فـالو کـړی، بلکـې تصـویرونه یـې هـم خوښـوي او ویډیوګانو ته یې کمنټ هم ورکوي. هغه راسره وعـده کـړې چې کـه شـهزاده راسره واده وکړ، د نورو ډالیو تر څنګ یوه الوتکه هم درته ډالۍ کوم چې پـه اسانۍ سره پکې خپل ځای او دوبۍ ته تګ راتګ وکړې.

زیاتره وخت له ما پوښتي چې ته خو اروپوه یې، تاته خو به معلومه وي چې د شهزاده عمر پنځه څلوېښت کاله شو؛ خو تر اوسه ولې مجرد دی؟ یو شتمن او ښایسته سړی تر پنځه څلوېښت کلنۍ څنګه مجرد پاتې کېـدای شي؟ مـا ورتـه وویل چې هر څوک په ژوند کې لومړیتوبونه لري، ښایي چې واده تـر اوسـه د شهزاده په لومړیتوبونو کې نه وي.

يو خل مې له دې نجلۍ نه وپوښتل چې د شهزاده لپاره څه کولی شې او څه نشې کولی؟ هغه خواب راکړ چې زه يوه ربښتونې عيسوی يم او له خپل دين سره ډېره مينه لرم. د شهزاده لپاره خپل دين نه شم پرېښودی او زما په خيال شهزاده به هم دومره تنګ ذهنه نه وي چې د مذهب پرېښودو راته ووايي.
دا نجلۍ ملامته نه ده. زياتره په يو طرفه مينه کې ښکېل انسانان دا فکر کوي چې مقابل لوری به يې هم د ده په څېر وي چې په حقيقت کې داسې نه وي. حقيقت برعکس وي.
هغه د شهزاده لپاره له وادوه وروسته پرده هم کوي. هغې ماته وويل چې يو ورځ مې د تمرين په توګه حجاب هم واغوست؛ خو ساه مې پکې تنګه شوه او په دې فکر مې دا تمرين پرېښود چې له واده وړاندې کومه ګټه نه لري چې واده مې وشو، بيا به ورسره ګورم.
زه دلته تاسې ته دا خبره کوم چې په يو طرفه مينه کې ښکل انسان فکر کوي، کوم کار چې اوس نه شي کولی، له واده وروسته به يې ترسره کړي، حال دا چې داسې نه ده.
ما ترې وپوښتل چې په شهزاده کې څه دي چې دومره مينه ورسره کوې او غواړې واده ورسره وکړې؟ دې خواب راکړ چې تر ټولو لويه ښېګڼه يې دا ده چې شهزاده دی. د شهزاده تر څنګ مينه ناک (رومانتيک) هم دی، بلکل هماغسې لکه، په کيسو کې چې وي. بل دا چې ما فکر کړی زما او د شهزاده شوق هم يو ډول دی، هغه هم څناور خوښوي او زه هم. د شهزاده نور شوقونه هم له خوښې ډک دي. کوم څه چې هغه کوي، زه هم هماغه کوم. لکه په هوا کې خان غورځول (سکای ډايبو)، سمندر کې ګرځېدل. د آس سورلي، انځور اخيستنه او د مينې (رومانتيک) شاعري.
دلته هم زموږ زياتره نجونې د خپل استاد په يو طرفه مينه کې ښکېلې وي. له دې نجلۍ او دې ته ورته نورو ډېرو يو طرفه مينه کې ښکېلو نجونو له سره له کار کولو وروسته راته معلومه شوه چې يو طرفه مينه له يو وهم پرته هيڅ هم نه ده. انسان فکر کوي چې د مقابل لوري په اړه ډېر بيخي ډېر پوهېږي؛ خو په حقيقت کې مقابل لوري بيخي داسې نه وي.

يو طرفه مينه کې ښکېل کس چې له چا سره مينه لري د هغه تصوير ته ګوري او خپله ناروغي نوره هم ډېروي. د دې لپاره د يو طرفه مينې د ناروغ لپاره يوه حل لاره دا هم ده چې د چا سره مينه لري، د هغه تصويرونو او شيانو ته له کتلو دې ډډه وکړي.
نوټ: اوس هغه شهزاده واده کړی او د تره لور يې کړې ده.

## نورو ته ورور ويونکې نجونې

څو ورځې وړاندې يوه نجلۍ راغله او خپله اندېښنه يې راسره شريکه کړه چې زه يو ځای ته لاړم او هلته مې يو کس وليد چې په عمر کې له ما مشر-وو او د دوه بچيو خاوند و. کله مو چې سره خبرې وکړې، خبرې مې يې خوښې شوې. ښايي لامل يې دا و چې زموږ خيالونه يو بل سره ورته وو. د هغه د همدې ښه والي له امله مې هغه ته ورور وويل. ځکه چې زموږ فکر سره ډېر ورته وو. د دې لپاره موږ زياتره په يوه موضوع تر ډېر وخت پورې خبرې کوو. خو، اوس مسله دا ده چې په لومړيو کې يې ميرمنې ته معلومه نه وه چې هغه ما سره خبرې کوي؛ خو اوس ورته معلومه شوې ده او خپل خاوند يې ما سره له خبرو نه منع کړ. کله چې يې خاوند ونه منله، نو ميرمنې يې ورسره شخړې پيل کړې او په دې به ورته غوسه وه چې ولې له ما سره خبرې کوي. له همدې امله هغه ډېر اندېښمن و. يو دوه ځل مې د هغه ميرمن هم پوهه کړه چې زموږ تر منځ داسې هيڅ نشته، ستا خاوند ما خپل ورور ګڼلی دی. زموږ تر منځ يوازې ښې خبرې کېږي. هيڅ ناسمه خبره نه ده شوې؛ خو هغه دا خبره نه مني. له همدې امله موږ دواړه ذهني اذيت کې ښکېلي يو.
ما له دې نجلۍ وپوښتل چې ستا کوم ورور نشته؟ هغې وويل چې زما دوه ورونه دي؛ خو د هغوی فکر له ما بيل دی. ما ورته وويل چې په کور کې دې ورونه شته او ته بيا هم په بهر کې د ورور پيدا کولو کوښښ کوې. په کور کې دې چې کوم ورونه دي، د هغوی د ذهني همغږۍ د پيدا کولو کوښښ وکړه. په بهر کې ورور پيدا کولو ته څه ضرورت دی. ستا خو دوه ورونه شته؛ مګر داسې نجونې شته چې هيڅ ورور نه لري، بيا يې هم په بهر کې هيڅوک، حتی خپل تره څوی هم خپل ورور نه دی ګڼلی. په ياد ولره ورور او خور يوازې

هغه وې چې له يو پلار او مور نه پيدا شوي وي. ته په کومه زمانه کې اوسې!؟ په اوس وخت کې دې چې سکه ورور هم ورور شي، لويه خبره ده.
د پوهېدو ضرورت د سړي ښځې ته نه، تاته دی. ځکه ته مجره يې، د همدې لپاره په خبره نه پوهېږې. کله چې دې واده وشو او خپل خاوند دې له بلې نجلى سره په خبرو وليد، بيا د دې ښځې په جذباتو پوهېږې. د هغې ميرمنې د پوهولو پر ځای، خپل ځان پوه کړه، ځکه کومه اړيکه چې تـه ورسره لـرې، د هغې هيڅ کلتوري او شرعي حيثيت نشته.
د يو اروايوه په حيث ما دا خبره نوټ کړې چې زموږ په ټولنه کې ډېر شمېر کمزورې نجونې او هلکان چې کله کومې اړيکې ته قوي نوم نه شي ورکولی، نو هغه د ورور او خور په نوم يو بل سره د زړه تشولو کوښښ کوي.
د همدې لپاره له تاسې او نورو نجونو غواړم چې له دې ډول کيسو لرې اوسئ. د کومې اړيکې چې ټولنيز او شرعي حيثيت نه وي، له يو ذهني اذيت پرته نور هيڅ ترې نشئ ترلاسه کولی.

# په پټه نکاح کونکې نجونې

نارينه ولې نجونو ته په پټه د نکاح کولو وايي؟
د يو اروايوه په حيث نن سبا ډېرې داسې نجونې زما خواتـه راځـي چې د يـو هلك يا له مخکې واده شوي کس په خبرو غولېدلي او په پټه يې ورسره نکاح کړې ده او کله چې د هغوی دا پټه اړيکه له څو کلونو وروسـته ناکامـه شـوې، خپل درد يې هيچا ته نشوی بيانولی او په ژور خفگـان اختـه شـوي. زمـوږ پـه ټولنه کې په پټه نکاح کولو رواج مخ په وړانـدې روان دی. د همـدې لپـاره زه درسره په پټه دنکاح کولو په اړه خبرې کوم، تر څو په دې ډول فيصلو مو ژوند خراب نه شي.
په پټه نکاح کولو کې واده شوي نارينه او نجونې دواړه شامل دي. دلته پـه دې خبره پوهېدل ډېر ضرور دي چې نارينه يا ښځينه ولې پټه نکاح کوي؟ زموږ په ټولنه کې بې شمېره نيمه مذهبي يا هغه نجونې چې ځان هوښيار گڼي چې کله د کوم نارينه لاس په خپل جسم نه پرېږي، نو هغه ته د رښتيا ثابتولو او جنسي- اړيکې جوړولو لپاره د پټې نکاح وړانديز کوي. هلك نجلى پوهوي چې پـه

نکاح کولو سره زموږ تر منځ خبرې او ليدل روا کېږي او موږ دواړه له گناه او زنا ساتل کېږو.

له مذهب پرته هم چې کوم واده شوی نارينه د یوې نجلۍ جسم حاصلول غواړي، نو هغه پوهوي چې اوس به په پټه نکاح وکړو، د دې مطلب دا دی چې اوس به په پټه جنسي اړيکه جوړه کړو، بيا به وروسته ټولو ته د دې خبرې حال ووايو چې بيا دوی هيڅ وخت داسې نه کوي او که يې وکړي هم له رسوايي پرته بل هيڅ لاسته نه راوړي.

نجونې د پټې نکاح لپاره ځکه راضي کېږي چې هغوی ته ښکاري چې په دې ډول به خپله مينه يا د خپلې خوښې خاوند لاس ته راوړي. حال دا چې هغه له دې ناخبره وي چې د ښځې او خاوند اړيکه د يوې ډالۍ په څېر وي چې د ټولنيز عزت سبب گرځي. د غلو په څېر د پټې اړيکې جوړولو هيڅ ټولنيز مقام نه وي. دوه ژونده (پټ او ښکاره ژوند) تېرول انسان په ذهني اذيت او خفگان اخته کوي.

د يو مسلمان ازواپوه په حيث ما له ډېرو علماو سره د پټې نکاح په اړه خبرې کړې دي او دې پايلې ته رسېدلی يم چې د نکاح مطلب اعلان دی. د کومې اړيکې اعلان چې ونه شي، د هغې د جوړولو هيڅ بهانه قبلېږي، ځکه که هر څومره دليلونه راوړو هم پټه نکاح، خان ته له دهوکې ورکولو پرته بل هيڅ نه دي.

# دویم ځلي غولېدونکې نجونې

څو ورځې وړاندې راته یوې نجلی ټیلیفون وکړ او ویې ویل چې ما له یو هلک سره مینه درلوده، زموږ اړیکه ډېره ښه وه، خو بیا یوه ورځ راته معلومه شوه چې هغه واده کړی، ماته داسې ښکاره شوه چې زما ټول جسم وسوځېد. زما حال ډېر سخت خراب شو. ما یقین نه کولو چې ماسره به داسې وکړي.
په لومړیو کې م بېچې کله له هلک نه وپوښتل او قسم مې ورته ورکړ، هغه منکر شو چې زما هیڅ واده نه دی شوی، تاته چا ناسم خبر درکړی. بیا مې له هغه کس نه د دې ثبوت وغوښت، هغه راته د هغې نجلی تصویر واټس اپ کړ او کله مې چې دا تصویر دې هلک ته وښود، نو هغه په ژړا شو او زما پښې یې ونیولې. ویې ویل چې ما وبښه، ماته معلومه وه چې که تاته زما د واده خبره معلومه شي، ته به مې پرېږدې. د همدې لپاره مې تاته ونه ویل. ما له مجبورۍ نه د مور په وینا د خپل ماما لور کړې ده؛ خو زه له تا سره مینه کوم. ما د خپلې مور په سترګو کې اوښکې نشوای لیدلی، ما وبښه، زه له تا سره دویم واده کوم.
زه په هغه ډېره غوسه وم چې هغه ماته دهوکه راکړې. د همدې لپاره مې له هغه سره اړیکه ختمه کړه؛ خو اوس راته هغه ډېر زیات مسېنجونې او زنګونه وهي چې ما یو ځل وبښه، ما نه تېروتنه وشوه. ماته بس یوه موقع راکړه. زه به بیا بیخي ستا په سترګو کې اوښکې بهېدلو ته پرېنږدم. ما د هغه نمبر بلاک کړ؛ خو هغه له نورو نمبرونو نه ما سره د اړیکې کوښښ وکړ. زما زړه بیا د هغه لورې مایل شو، زه څه وکړم؟
ما هغې نجلی ته وویل چې دهوکه ورکونکي ته بیا چانس ورکولو مطلب دا دی چې ته ماته بیا دهوکه راکولی شې. لومړی خبره دا چې هغه تاته دهوکه درکړې ده، که هر لامل یې و. هغه له تا نه په پټه واده کړې ده او کله چې تا ترې وپوښتل، هغه د منلو پر ځای انکار وکړ او تر هغې یې نه منلو چې تر څو تا ورته ثبوت نه و ښودلی. که هغه هلک په رښتیا تاسره مینه کوله، هغه به هیڅ وخت د خپلې واده مشوره له تا نه وای سپمولې.
دویمه خبره دا چې له دهوکې وروسته هغه تاته د دې لالچ درکړی چې تاسره دویم واده کوي، تر څو تاته ښه سمه دهوکه درکړي او د حیرانتیا خبره دا ده چې ته له دهوکې خوړلو وروسته هم د دویم واده په نوم بیا له هغه دهوکې

خوړلو ته تیاره یې. په یاد ولره چې د یو چا د ښنلو مطلب دا نه دی چې له هغه بیا دهوکه وخوره. مطلبي خلک د خپل مطلب لپاره په نورو پسې کېږیو په دې کې کومه داسې لویه خبره ده. په یاد ولره چې هغه به هیڅ وخت دویم واده ونه کړي، ځکه کوم شخص چې تا سره د لومړي واده همت نه لري، هغه د دویم واده همت له کومه کړي. د دویم واده فیصله له لومړي واده ډېره لویه وي. د دویم واده دهوکه ونه خورې، خو فرض کړه چې په رښتیا هم هغه تا سره دویم واده کول غواړي، نو ته د دویم واده له اذیت نه خبره یې؟

د واده په اړه یوه خبره تل په یاد ولره چې میرمنې ته د پوره خاوند ضرورت دی. په دویم واده کې میرمنه نیم خاوند ترلاسه کوي. ته خپله فکر وکړه چې له نیم خاوند سره پوره ژوند تېرېږي؟ که څه هم خاوند برابري نه شي کولی؛ خو بیا هم فرض کړه چې خاوند دې یوه شپه له تا سره وي، ته به ډېره خوښه وې؛ خو که بله شپه له تا نه بېل وي او ته یوازې یې، بیا به درته احساس وشي چې واده جذباتي فیصله نه ده.

یواز ته نه، د یو اروابوه په حیث زه هرې نجلۍ ته چې له یو چا سره دویم واده کوي، دا خبره کوم چې هیڅ وخت د چا دویمه میرمن مه جوړېږئ. د دې مطلب دا دی چې ټول ژوند په اذیت کې تېر کړئ.

تاته زما مشوره دا ده چې دهوکه ورکونکي ته دویم چانس مه ورکوئ. تا چې د هغه د پرېښودو فیصله کړې، دا بیخي سمه فیصله ده. کوښښ وکړه چې د هغه هلک پرلپسې ټېنګار ستا په فیصله کوم اغېز ونه کړي.

دې هلک سره هیڅ خبرې ونه کړې، ځکه دهوکه ورکونکې انسان د دهوکې وروسته هم خپل لاسونه د بلې دهوکې لپاره تیاروي. د هغه هیڅ خبره ونه منې. که کله هم درته ښکاره شوه چې کمزورې شوې یې، له یو قوي انسان سره خبرې وکړه او تر هغې ورسره خبرې وکړه چې له خپلې کمزورۍ را ونه وځې.

# غولېدلې نجونې

ځو ورځې وړاندې يو كس له خپلې ميرمنې سره راغى او راته يې وويل چې زموږ د واده ډېر وخت كېږي، دا ميرمن راسره بې لامله شخړې كوي. زه د دې د خوښې ډېره هڅه كوم؛ خو دې ته زما يو كار هم خوښ نه وركوي. زما غوښتنه وه چې زما ميرمن دې باسواده وي چې زموږ په منځ كې د پوهاوي هيڅ ستونزه نه وي؛ خو د دې د سواد هيڅ كته نشته. دا د شخړې په وخت له بې سواده ښځو هم ډېر خرابه وي. بيخي په خبره نه پوهېږي، خبر دى ته يې پوهه كړه چې زموږ اړيكه ښه شي.

ما ترې پوښتنه وكړه چې ستاسې په كور كې نور ځوك دي؟ هغه ځواب راكړ: يوازې زه، دا او دوه كوچني زامن په كور كې يو. دوى ته له خبرو وړاندې بايد زه ووايم چې زموږ په ټولنه كې د ښځې او خاوند د مسايلو يو لوى لامل نور خلك دي. دوى دواړه له يو بل سره دومره مسله نه لري، لكه څنګه چې ورته له نورو پيدا كېږي.

خاوند ته مې يې وويل چې بهر ووځه او بيا مې يې له ميرمنې وپوښتل چې ستاسې تر منځ خو دومره څه هم نشته، بيا نو څه مسله ده؟ په كوم حالت كې چې ته يې، دا د واده يو غوره حالت دى. د همدې لپاره بايد ستاسې اړيكه ډېره ښه وي، ګڼې زموږ ډېرې نجونې د كورني قيوداتو او اخلاقو له امله ټول عمر د واده له خوښيو محرومې وي. تر ټولو لويه خبره دا چې ستا خاوند ډېر ښه انسان دى. هغه تاسره د اړيكې ښه كېدو كوښښ كوي، ګڼې زموږ په ټولنه كې خو خاوند له ميرمنې سره د اړيكې په اړه هيڅ فكر نه كوي. ته ډېره نېكمرغه يې او د دې نېكمرغۍ لپاره بايد شكر وباسې، نه دا چې شخړه وكړې.

كله چې مې له خاوند سره د شخړو په اړه ترې پوښتنې وكړې او هغه خاموشه شوه، نو زه پوه شوم چې د دې داخل قفل په سيده پوښتنو نه خلاصېږي، نو بايد اخوا او ديخوا خبرې ورسره وشي. په خبرو، خبرو كې يې ارته وويل چې زه نارينه ډېر ښه پېژنم. دوى به د چا د مينې څه بدله وركړي، هغوى كې وفا نه وي. كه د هغوى لپاره ځان هم قربان كړې. زه په نارينه‌و باور نه لرم.

ما د دې له خبرو اورېدو وروسته ورته ووېل چې ته ما سره د زړه له اخلاصه خبرې کولی شې. زه به له تا سره د ژوند د ښه کېدو پوره کوښښ وکړم. هغې په دې سره ووېل چې زه پوهېږم چې په غلطه يم. بايد له خپل خاوند سره شخړې ونه کړم؛خو زما د نړی په ټولو نارينهو باور ختم دی.
هغې راته ووېل چې له واده وړاندې مې له يو هلک سره مينه درلوده. هغه ماته د واده وعده راکړه او څو کاله انتظار يې راباندې وکړ. ما د کورنی له ټولو غړو سره شخړې او دعوې وکړې او څو کاله مې د هغه انتظار وکړ. يوه ورځ يې زه پرېښودم او راته يې ووېل چې په دې کې شک نشته چې ته ډېره ښه نجلی يې؛ خو زما د کور خلک يې نه مني.
د هغه دا خبرې لکه تندر په ما راپرېوتې، د هغه په مخ کې مې ډېر وژړل. ما ورته ډېرې زارۍ وکړې، تر دې چې د هغه پښې مې ونيولې؛ هو هغه ونه منله. د هغه له پرېښودو وروسته بيخي ماته شوم. يوه ورځ مې د ځان وژنې کوښښ وکړ او ان تر هسپتاله ورسېدم؛ خو په هغه يې هيڅ اغېز ونه کړ. ما د ټولنې او کورنی له امله واده وکړ؛ خو ماته ښکاري چې زما خاوند به هم له ما سره داسې وکړي. دا به هم زما د مينې خواب هماغسې راکړي، لکه هغه چې راکړ.
ما له هغې سره ډېرې خبرې وکړې او ورته ومې ويل چې د نړۍ نارينه ټول يو ډول نه وي. د يو کس سزا بل ته نشو ورکولی. د دې لپاره بايد ته لېره مخکې لاړه شې. څه چې وشول هغه وشول. ژوند بيا پيل کړه او له دهوکې خوړلو وروسته بيا باورک کول زده کړه. هغه نجلی زما خبرې ومنلې او څه وخت وروسته يې راته خاوند ټيليفون وکړ او مننه يې وکړه چې اوس مې له ميرمنې سره اړيکه ډېره ښه شوې او زما ډېر خيال ساتي.
د دې کيسې له کولو زما موخه دا ده چې زموږ په ټولنه کې ډېر شمېر نجونې د مينې په نوم دهوکه خوري چې اغېز يې د نجونو داخل ته کېوځي. حال دا چې دهوکه ورکونکي يې کيسه کې هم نه وي او دا دهوکه خوړونکې نجونې بيا ټول عمر په چا باور نه کوي، حتی له واده وروسته په خپل خاوند هم. په ياد دې وي چې دهوکه د زولنو په څېر وي، که ومو نه باسله، ټول عمر مو ژوند خراب او خفه کوي.

# په نشه مئينې نجونې

څو ورځې وړاندې راسره يوې نجلۍ اړيکه ونيوله او وېې پوښتل چې زه له يوې نجلۍ سره ډېره مينه لرم او له هغه سره واده کول غواړم. زما ډېره ښه کورنۍ ده. د همدې لپاره کله مې چې هغوی ته د خپلې مينې په اړه وويل، هغوی وويل چې هلک ته ووايه چې خپله کورنۍ راولېږي. هلک خپله کورنۍ راولېږله. هغه هلک زما په څېر په شکل، تعليم او مالي لحاظ ډېر ښه و. د همدې لپاره د دواړو کورنيو دا رشته خوښه شوه.

ما د کور خلکو ته هيڅ دروغ ونه ويل؛ خو د هلک په اړه مې ترې يوازې يوه خبره پټه کړه او هغه دا چې هلک نشه کوي. هغه هلک ما سره وعده کړې وه چې له واده وروسته به نشه پرېږدي، ځکه هغه ماته ويلي و چې د يوازيتوب له امله يې نشه شروع کړې او کله چې مې ته ژوند ته راشې، ژوند به مې مکمل شي او له دې يوازيتوبه به وژغورل شم.

ماته خو يې کوم توپير نه درلود؛ خو کـه د کـور والاو تـه مې د دې خبرې معلومات وشي، نو له هلک سره به زما رشته ونه کړي. هغه هلک ماتـه وويل چې دا زما او ستا مسله ده، د همدې لپاره بايد کور والاو ته په اړه خبرو کولو سره خپله اړيکه خرابه نه کړو. ما د هغه هلک خبره ومنله؛ خو اوس چې خبره مخکې لاړه ده، زما ويره زياتېږي چې زه سم کار کوم او که نه؟ اوس راتـه ووايه چې زه څه وکړم؟

ما ځواب ورکړ: کله چې تا راته وويل چې د هغه هلـک د نشې سره زه کومه مسله نه لرم، نو د دې لامل دا دی چې ته تر اوسه د والدينو تر سيوري لانـدې ژوند کوې او د ژوند د ترخو حقيقتونو انـدازه درتـه نشـته. کـه دې هلـک سره هرڅومره مينه کوې؛ خو له نشه‌يي سړي سره ژوند تېرول سخت دي.

هغه هلک که په هره وجه نشه شروع کړې وي. پـه يـاد ولـره چې نشـه د واده علاج نه دی. د همدې لپاره د دې هلک په خبرو د غولېدو لپاره، هغه ته ووايه چې له واده وړاندې خپله درملنه وکړي. دا بايد هم په ياد ولرې چې واده يـوه ډېره لويه ذمه واري ده. نشه‌يي سړی د واده شوق لري؛ خو هغـه دا ذمـه واري نشي اوچتولی. د کور والاو څخه دا خبره هيڅ وخت مه پټوه. کـه لـه خبرېـدو وروسته دې کورنۍ له دې هلک سره واده کولو نه منع کړې، دا به بيخي سـمه

فیصله وي. د جذباتي فیصلې کولو پر ځای، ځانته یو څه وخت ورکړه. ځکه واده جذباتي فیصله نه ده.

# د خپلواکې ټولنې نجلۍ

څو ورځې وړاندې زه د یو امریکایي ملګرې خواته ورغلم. هغه له ډېرو خبرو وروسته پوښتنه وکړه چې تا په ما کې یو څه ونه لیدل. ما ورته په مسکا وویل چې نه غاړې کوې (یو ډول زمزمې). هغه خپلې ګوتې ته اشاره وکړه او راته یې وویل چې ما کوژده وکړه. ما ورته مبارکي ورکړه او هغه راته د هلک په اړه وویل چې هغه سستېبل یا په مالي لحاظ ښه هلک دی.

زما ملګرې چې په یوه خپلواکه ټولنه کې اوسېږي، ښه ورته پته ده چې د ژوند تېرولو لپاره پیسه څومره ضروري ده. د همدې له امله یې هلک سره د واده په اړه د هغې مالي حالت مخې ته راوړ. ډېرې نجونې فکر کوي چې هلک سره د واده لپاره باید د هغه مالي حالت وکتل شي. حال دا چې د پوهانو په اند مالي ستونزې د طلاق له لویو لاملونو څخه دی.

د یو اروایوه په حیث ډېر شمېر نجونې ماته راځي چې داسې هلک سره یې مینه وي چې په مالي لحاظ کمزوری وي او د همدې کمزورۍ له امله یې کورنۍ والا د دې واده له هلک سره نه کوي. زه نجونو ته وایم چې ستاسې کورنۍ سم وایي. تاسې په یوه ځانګړي مالي حالت کې اوسېدلو باندې عادت یئ. له واده وروسته له دې حالت نه ښکته راتلل درته ستونزه جوړوي.

ډېرې نجونې زما د خبرو په غبرګون په جذباتي ډول خواب راکوي چې زه له خپلې مینې سره ژوند تېرول غواړم. په سړک ویده کېږم. وږې دې شم. ماته هیڅ مسله نشته. د دې خبرې په خواب کې ورته وایم چې دا ټولې جذباتي خبرې دي او ژوند په جذباتي خبرو نه تېرېږي. له واده وروسته به ته وږې پاتې شې؛ څو بچیان دې وږي نشې پرېښودی. د ښځې او خاوند زیاتره جنجالونه د ذمه وارۍ له امله وي. له همدې امله واده مخکې باید نجونې د هلک مالي حالت ضرور وګوري. که هلک له نجلۍ څخه په مالي لحاظ کمزوری وي، باید واده ورسره ونه شي.

# د نجونو لالچ

په هلکانو کې د جنسي سکون پوره کولو لپاره د نجونو جسم حاصلولو لالچ وي. د خپل لالچ پوره کولو لپاره د نجونو لالچ کاروي. زه د يو ارواپوه په حيث نن د نجونو د لالچ په اړه خبرې کوم چې له امله يې هره نجلۍ خپل جسم هلک ته حواله کوي. که نجلۍ يې بايد وپوهيږي چې که کوم هلک درته داسې لالچ درکړي، بايد له دې خبرو نه د بچ کېدو کوښښ وکړئ.

د واده لالچ: زه له تاسره واده کول غواړم. نجونې له واده سره نور ډېر خيالونه ګوري، نو ځکه د واده ډېر شوق کوي. کله چې کوم هلک نجلۍ ته وايي چې زه درسره واده کوم، نو له دې خبرې وروسته د نجلۍ ذهن فلجېږي او د واده په لالچ کې د هلک هرې منلو ته تياره وي. حتى هغه خبرو ته هم تيارې وي چې دې ته زيان رسوي. حال دا چې حقيقت دا دی چې زموږ په ټولنه کې په عام ډول هلک په يوازې توګه هيڅ وخت له نجلۍ سره واده نشي کولی، يعنې کورنۍ به يې خامخا پکې شامله وي.

د مينې لالچ: زه له تا سره مينه لرم. نجونې فلمونه، ډرامې او کيسو باندې روږدي وي او د مينې خوبونه ګوري. کله چې يو هلک نجلۍ ته ووايي چې زه درسره مينه لرم، له دې خبرې وروسته د نجلۍ ذهن فلجېږي او د مينې په لالچ کې د هلک هرې خبرې منلو ته تيار وي. حتى هغه خبرو ته هم تيارې وي چې دې ته زيان رسوي؛ خو حقيقت دا دی چې د مينې معلومات له ټولنيزې اړيکې وروسته کېږي.

د پاملرنې لالچ: زموږ په ټولنه کې چې نجونو ته د هلکانو په نسبت کمه پاملرنه کېږي، له همدې امله د نجونو په داخل کې د پاملرنې لوږه ډېره وي. هغوی غواړي چې څوک يې واوري، څوک ورته پاملرنه وکړي. له همدې امله چې کله کوم هلک ورته د دروغو پاملرنه کوي، د دوی ذهن فلجېږي او د پاملرنې په لالچ کې د هغه هرې خبرې ته تياره وي. حتى هغه خبرو ته هم تيارې وي چې دې ته زيان رسوي؛ خو حقيقت دا دی چې د حقيقي پاملرنې معلومات له ټولنيزې اړيکې وروسته معلومېږي.

د ملکيت د احساس لالچ: زه يوازې ستا يم. په نجونو کې چې د ملکيت احساس لږ زيات وي، د همدې لپاره کله چې کوم هلک ورته وايي چې زه

فقط ستا یم، نو د هغې ذهن فلجېږي او هغه د ملکیت احساس په لالچ کې د هلک هرې خبرې منلو ته تیاره وي، حتی هغه خبرو ته هم تیارې وي چې دې ته زیان رسوي؛ خو حقیقت دا دی چې د حقیقي ملکیت معلومات له ټولنیزې اړیکې وروسته کېږي.

د خوشحالی لالچ: زه به تا خوشحاله ساتم. زموږ په ټولنه کې هلکانو او نجونو ته خوښ اوسېدل نه دي ښودل شوي. هلک له ملګرو سره په ګرځېدو تر یوه حده ځان خوښ ساتل یادوي؛ خو نجونې په دې معامله کې محتاجې محسوسوي. هغوی ته داسې ښکاري چې هغوی ځان خوښ نشي- ساتلی. هغوی تل د خوښۍ په لټه کې وي. کله چې کوم هلک نجلی ته وایي چې زه به تا خوشحاله ساتم، نو له دې خبرې اورېدو وروسته د نجلی ذهن فلجېږي او د خوښۍ په لالچ کې د هلک هرې خبرې منلو ته تیاره وي، حتی هغه خبرو ته هم تیارې وي چې دې ته زیان رسوي؛ خو حقیقت دا دی چې د حقیقي خوښو معلومات له ټولنیزې اړیکې وروسته کېږي.

د خپلواکی لالچ: په عام ډول زموږ په ټولنه کې نجونې د پلار، مور یا ورونو په پابندۍ کې ژوند کوي چې له امله یې دوی د خپلواکی تصور کوي. هغه د خپلواک ژوند خوب ګوري. یو داسې ژوند چې څه یې زړه وغواړي وایې غوندي. له کومې پابندۍ وروسته هر ځای ته لاړه شي. هر وخت یې چې خوښه شي، کور ته راشي. په یاد مو وي چې نرم هلکان، په خپلو نرمو خبرو نجونو ته د خپلواکی لالچ ورکوي. حال دا چې په حقیقت کې له هر ډول رشتې وروسته سړی بلکل هغسې کېږي، لکه څنګه چې په عامه ټولنه کې وي.

د پوهېدلو (انډرسټېنډینګ) لالچ: دا چې نجونې ډېرې حساسې وي، د همدې لپاره کله چې هغه خپلو والدینو ته ګورې او لویې شي. ګورې چې د والدینو تر منځ یې د پوهاوي کمی دی چې له امله یې تر منځ شخړې کېږي. هغه د دې هر څه په لیدلو فکر کوي چې کله زه واده وکړم، نو زما اړیکه باید زما د مور او پلار په څېر نه وي. دلته دا خبره هم په یاد ولرئ چې ډېر شمېر نجونې د خپل پلار په څېر خاوند نه غواړي، یعنې هغه غواړي چې خاوند یې د پلار په څېر نه وي. د همدې لپاره هغه ته داسې ښکاري چې که مور او پلار یې واد وکړي، خدای خبر چې خاوند به یې څنګه وي. هسې نه چې د پلار په

خبر يې ونه خبږي. له همدې امله هغه له واده وړاندې د پوهاوي تصور کوي. حال دا چې حقيقت دا دی چې د حقيقي پوهاوي معلومات له ټولنيزې اړيکې وروسته کېږي.

# د مينې په ازموينه کې ښکېلې نجونې

د مينې په ازموينه کې د بريالي کېدو لپاره، په ژوند کې د ناکامېدونکې نجلۍ کيسه.

زموږ په پوهنتون کې يو ښکلی هلک و، له يوې نجلۍ سره يې اړيکه وه. دې نجلۍ د ښار په يوه ستر کالج کې درس ويلو. دا نجلۍ په ډېر کله له خپله کالج څخه په پټه زموږ پوهنتون ته راتلله. ما ډېر ځل دوی دواړه، د پوهنتون په کانتين کې په خندا او لاس په لاس ليدلي وو. کله به دوی دواړو يوازې او کله هم په ډله کې چې د هلک ملګري.به په کې وو، خبرې کولې.

د پوهنتون په خالي ساعتونو کې زموږ د ناستې دوه ځايونه وو، په ژمي کې به د ونو لاندې ناست وو او کيسې به مو کولې او په اوړي يا باران کې به د کانتين دننه. په پوهنتون کې د يو ځای خانګړي کولو ګټه دا وه چې که د چا به هم په کار وو؛ نو زموږ د ناستې ځای ته به راتلل. ما په شخصي ډول دا هلک او په دې مينه نجلۍ نه پېژندل، مګر په کانتين کې به کله ـ کله سره مخ کېدو او يا به که چېرته زموږ د مېز سره نږدې ناست وو؛ نو د هغه خبرې به مو اورېدې.

ما څو ځل د هغه دا خبره اورېدلې چې نورو ملګرو ته به يې ويل چې زموږ د دواړو ډېره جوړه ده سره، زموږ د اړيکې درې کلونه وشول، مګر تر اوسه مو يو ځل هم جنګ نه دی کړی، خلک زموږ د مينې مثال ورکوي. ما يو ځل د هغه هلک له خولې د دې نجلۍ په مخ کې د هغې ستاينه واورېده چې ويل يې: سره له دې چې دا د خپل کالج تر ټولو ښکلې نجلۍ ده، مګر لږ غرور هم په کې نشته. زه چې ورته څه وايم، دا يې کولو تـه چمتـو کېږي. کـه زه ورتـه ووايم چې نن لمر له لويديځ راوخوت، نو هغه دا خبره هم په پټو سترګو مني.

يو ځل زموږ تر څنګ مېز ته دا هلک له خپلو ملګرو سره ناست و او خبرې يې کولې. په دې ورځ هغه نجلۍ نـه وه راغلې. کلـه چې يـې د هغې نجلۍ ستاينې شروع کړې وې؛ نو يوه ملګري يې ورته وويل چې بس کـه يـاره بـس دی. هغه دومره هم ستا خبرې نه مني. هغه هلک په ډېرو مثالونو سره د خپل

ملګرې د پوهنتون هغه وکړه چې هغه زما ډېره مني، هر څه چې زه ووايم. هغه بې کوي. د دې خبرې په اورېدو يې ملګرې ورته وويل: ايا هغه تا سره له کوره تښتېدلي شي؟ هلک له خندا پرته وويل: هو تښتېدلي شي، مګر زه هغه نه تښتوم، ځکه موږ يوه ورځ واده کوو؛ نو دا کار ولې وکړو.

په دې سره يې ملګرې ورته وويل چې څه د دې نجلۍ مينه وازمويه. وګوره چې هغه ستا سره تښتېدلي شي که نه. ته نجلۍ ته دا مه وايه چې ته هغه ازمويې. که هغه له کوره تښتېدو ته چمتو شوه؛ نو موږ به ومنو چې هغه له تاسره مينه لري؛ خو که هغه په دې ازموينه کې ناکامه شوه؛ نو بيا يې زموږ په مخ کې ستاينه مه کوه. ما وليدل چې په لومړيو کې هلک زړه نا زړه شو، مګر د ملګرو د ټينګار له امله يې ومنله.

په هغه ماښام دې هلک هغې نجلۍ ته زنګ وکړ او ويې ويل چې زه نور له تا لرې نه شم اوسېدای، څومره چې د مور و پلار کور کې اوسېدل وو، ته واوسېدې. اوس له ما سره واوسېږه. کله چې نجلۍ وپوښتل چې موږ څنګه يو ځای اوسېدای شو؛ نو هلک ورته وويل: دا چې موږ دواړه محصلان يو؛ نو کورنۍ به مو واده ونه مني، موږ بايد له کوره وتښتو. نجلۍ د دې خبرې په اورېدو وډار شوه، مګر دا چې له هلک سره يې بې حده مينه درلوده او کله يې هم ورته «نه» نه وه کړې، نو په فکر کې ډوبه او چوپ شوه.

هلک د هغې په چوپ کېدو، پرې ټوکه وکړه چې وګوره، نن دې مينې معلومات وشول. بس همدا ستا مينه وه. کله چې ما له ځان سره ستا د اوسېدو خبره وکړه، ته غلې شوې. نجلۍ د هلک د پوهولو ډېره هڅه وکړه چې ګوره فکر وکه، دا ډېره لويه پرېکړه ده. دا چې هلک يوازې د نجلۍ امتحان اخيست، د همدې لپاره په خپله خبره کلک ودرېد چې زه ماشوم نه يم چې داسې لويه پرېکړه کولای نه شم.

که ته له ما سره رښتينې مينه کوې؛ نو سبا له خپل بکس سره پوهنتون ته راشه، له هغه ځايه به بل چېرته لاړ شو؛ که نه نور هيڅکله بيا له ما سره اړيکه ونه نيسې. زموږ اړيکه تر همدې ځايه وه. د همدې په ويلو هلک موبايل بند کړ. نجلۍ ورته ډېر زنګونه وکړل، پيغامونه يې ولېږل، مګر هلک د خپلې پرېکړې له اورولو وروسته هيڅ ځواب ورنکړ. نجلۍ ټوله شپه په وينه تېره کړه.

که ناسې په ژوند کې کله لږه مینه هم کړې وي، نو د دې نجلۍ حالت درک کولای شئ. د محبوب له لاسه ورکولو ډر، له مینو ټولې خوبۍ اخلي. له سبا کېدو وړاندې نجلۍ خپل ځان له کوره د تېښتې لپاره قانع کړ. تاسې پوهېږئ چې کله انسان ځانته قناعت ورکړي؛ نو له الله پرته يې، د نړۍ بل هيڅ طاقت اراده نه شي ماتولی.

سهار کالج ته له نګ وړاندې، نجلۍ د خپلې کورنۍ لپاره ليک ولیکه، د خوړو په مېز يې کېښود او له خپل بکس سره د کالج په ځای پوهنتون ته راغله. هلک چې نجلۍ په پوهنتون کې وليدله؛ نو د ملګرو په مخ کې په نخا شو او ويې ويل: ما ويل چې دا به راځي دا له ما سره دومره مينه لري. زما هره خبره مني. له نه وروسته به د ټولو هلکانو خولې بندې شي.

کله چې نجلۍ پوه شوه چې هلک بوازې د دې مينه ازمويله؛ نو په ژړا سر شوه. حق يې هم و. څکه د هغې له تګ وروسته به يې په کور کوم قيامت رابنکته شوی و. که تاسې زمور په ټولنه کې اوسېږئ؛ نو تاسې به خامخا پوهېږئ چې له کوره د نجلۍ تښتېدل، د نورې کورنۍ له پاره د کوم عذاب باعث ګرځي. خپلوان او ګاونډيان د داسې خلکو خومره عزت کوي، د هغوی په اړه څه - څه وايي. ټولنه څنګه د دې نجلۍ کورنۍ په ذهني ناروغانو بدلوي. تر دې چې خلک د دې کورنۍ له نورو نجونو سره د خپلوی کولو څخه هم ډډه کوي. دوی فکر کوي چې بوه لور يې خرابه شوه؛ نو نورې به يې هم خامخا خرابې وي. هغه نجلۍ د پوهنتون په کانتين کې په چغو سر وه. ټول په ګډه پوهوله چې هيڅ هم نه دي شوي، هر څه به سم شي. هغې نجلۍ ويل چې زه به اوس کور ته څنګه ځم. د بېرته ورتګ همت به له کومه کړم؟

که تاسې کله په ژوند کې کومه کوچنۍ تېروتنه هم کړې وي، نو د دې نجلۍ حالت درک کولای شئ چې له تېروتنې وروسته له نورو سره د مخامخ کېدو لپاره بوه ځانګړې قوت ته اړتيا وي او تر کله چې هغه طاقت نه وي، انسان له نورو سره مخ کېدای نه شي.

دا چې ما په پوهنتون کې اروابوهنه لوسته او د ستونزو حلولو په اړه ډېر مشهور وم؛ که څه هم دوی زه له خبرې بېژندم. خو کله مو سره خبرې نه وې کړې. په هغه ورځ دوی دواړه له نورو ملګرو سره زما خواته راغلل. غرمه مهال و او

نجلۍ سهار له کوره وتې وه. ما دوی ته مشوره ورکړه چې نجلۍ یواځې کور ته مه لېږئ، کومه ستره او پوه ښځه ورسره ولېږئ چې حالات کنټرول کړي. ځکه چې نجلۍ په یواځې ځان خبره نه شي جوړولی.

کله چې هغوب له ډېر لټون وروسته هم داسې ښځه ونه مونده، نو ما د پوهنتون یوې پروفیسورې سره ټوله کیسه شریکه کړه. دا چې پروفیسوره هم یوه مور وه؛ نو دا خبره یې ومنله، مګر په دې شرط چې مور به هم ورسره ځو. پلان مو داسې جوړ کړ چې مور به د استادې په موټر کې کېنو، تر څو که کومه ستونزه وي چې کنټرول یې کړو او استاده او هغه نجلۍ به کور ته ننوځي. استاده ډېره بانزاکته او مهربانه ښځه وه. په ټوله لاره یې هغه نجلۍ ته د لاسه ورکوله.

کله چې موږ د هغه نجلۍ کور ته ورسېدو؛ نو د ماښام شپږ بجې وې. استادې د نجلۍ له کوره څو کورونه وړاندې موټر ودراوه او ویې ویل چې له ټولو اول به زه کوره ورشم، بیا نجلۍ راولېږئ. کله چې استادې د کور د دروازې زنګ ووهلو؛ نو د نجلۍ مور راووته. له څو خبرو وروسته استاده او د نجلۍ مور موټر ته راغلل او کېناستل.

د نجلۍ د مور سر مات او ترل شوی و او خوله یې پړسېدلې وه. لومړی یې د لور په لیدو ښه ډېر وژړل او بیا یې وویل: نن چې زموږ کور کې څه وشول، داسې څه ما په خپلو ډېرو بدو خوبونو کې هم نه وو لیدلي. د دې پلار ډېر ښه انسان دی، هغه تل زما او د بچیانو خیال ساتلی دی او هیڅ کمی یې نه دی پرېښی. زموږ تر منځ هیڅکله جنګ نه دی شوی او ډېره خوشاله کورنۍ مو ده.

نن د دې له تګ وروسته او زما له ویښېدو وړاندې چې پلار یې د دې لیک ولوست؛ نو دومره غوسه شو چې هغه کس چې تر اوسه یې ماته اف قدرې هم نه و کړی؛ زما په وهلو یې پیل وکړ او زما سر یې له دېوال سره وواهه. ویل یې چې تا خپل اولاد ته همدا تربیه ورکړې وه. بچیان چې هره تبروتنه وکړي؛ نو لومړی یې مور ته ګوته نیول کېږي. نن په کور کې ډېر بد حال و. مشر زوی مې له ډېرې غوسې لېونی شوی و. ما له خپلو لونو سره له زامنو هم ډېره مینه

کړې ده. په کومو لاسونو چې به ما ورسره مینه کوله، نن مې هم لاسونه د دې مرګ لپاره پورته کړل چې کاش له دې کار کولو وړاندې مړه شوې وه.
په موټر کې له ټولو خبرو کولو وروسته، د هغې مور وویل چې زه مور یم، له دې لویه تېروتنه یې هم بښلی شم؛ مګر پلار او ورور به یې ټوټه - ټوټه کړي. تاسې دا څو ورځې له ځان سره وساتئ، کله چې یې کور کې د پلار او ورور غوسه سړه شوه؛ نو زه به یې کور ته راولم. زه دا خپلوانو کره هم لېږلی نه شم، ځکه نن سبا څوک د چا پرده ساتي. که خبره خپره شوه او بدنامي مو وشوه، نو کېدای شي بیا یې هیڅکله ونه منو.
مور چې له هغه ځایه رالاړه؛ نو استادې وویل چې دا اوس چېرته یوسو؛ ځکه نه یې هغه هلک کور ته وړلی شي او نه هم استاده. بیا مو دا پرېکړه وکړه چې تر څو یې کورنۍ مني، تر هغه وخته به یې د نجونو خصوصي لیلیه کې وساتو.
له هغې ورځ وروسته استادې ماته وویل چې زویه د هغې نجلۍ زنګ راغلی و، ویل یې چې د لیلیې نجونو مشوره راکړه چې د نورو په منلو دلته مه پاتې کېږه، په زوره خپل کور ته لاړ شه. هیڅوک دې مخه نه شي نیولی، اخبر ته یې لور یې. د دې په ویلو استادې وویل چې زه نن ماښام د هغې پوهولو لپاره ورځم، که نه د لیلیې نجونې به یې ذهن خراب کړي. ته نه پوهېږې چې د لیلیې نجونې په ناسمو مشورو ورکولو کې څومره وړتیا لري.
کله چې مور ماښام د هغې نجلۍ لیلیې ته لاړو؛ نو پوه شو چې د نجونو په مشوره هغه بېرته کور ته تللې ده. له هغه ځایه نېغ د هغې کور ته ورغلو. کله چې ورسېدو نو هلته ډېر خلک راټول شوي وو. پوښتنه مو وکړه؛ نو راته وویل شول چې کله هغه نجلۍ کور ته تللې وه، نو کورنۍ یې ورته د دروازې له پرانېستو انکار کړی و. په دې سره په احساساتو کې راغلې او هملته یې د سړک په سر زهر وخښل او د امبولانس له راتګ وړاندې یې ساه ورکړه. د کورنۍ په وینا چې زهر یې له ځان سره راوړي وو.
ژوندۍ نجلۍ یې کور ته نه پرېښوده، مګر مړه نجلۍ یې خپله پورته او کور ته یوړه. په زهرو مړ شوی تر ډېره نه ساتل کېږي؛ نو ځکه یې سمدستي جنازه تیاره شوه. ما فکر وکړ چې تیار راغلی یم؛ نو جنازه به یې هم وکړم. سره له دې چې هلته هیچا زه نه پېژندم، بیا هم د جنازې په کولو کې کومه ستونزه نه

وه. د همدې لپاره ما په شعورې توګه هلته جنازې ته راغلې ټول نارينه وګڼل چې کېدای شي، د نجلی محبوب هم راغلی وي. ځکه د نجلی د مړينې خبر ما خپله ورکړی و؛ مګر له ژوندي سره د مينې دعوه کوونکی هلک هلته نه و. کېدای شي د نيول کېدو له ډاره هلته نه وي راغلی.

## د آيفون والا نجلی

څو ورځې وړاندې يوې نجلی له ما سره اړيکه وکړه او ويې ويل: ما په فيسبوک يو هلک وموند. کله چې ما ورسره خبرې وکړې؛ نو له خبرو مې ډېر خوښ شو. هغه له يوې ښې کورنۍ څخه و. کله چې زه له هغه سره د ليدو لپاره لاړم؛ نو هغه په يوه عامه ځای کې په ډېر ښه ډول راسره مخ شو. څرنګه چې ما درته وويل چې هغه له‌يوې ښې کورنۍ څخه و، د همدې لپاره هغه په موټر کې زما ليدو ته راغلی و. دا چې زه په موټر کې د هغه د ليدو خبره ولې کوم، لږ وروسته به پوه شې.
په هغه ورځ موږ ډېرې خبرې وکړې. د هغه ليدو ماته ډېر خوند راکړ، دومره خوند چې هغه زما د ژوند تر ټولو ښايسته ورځ وه. موږ يوازې يو يا دوه ځل وليدل، مګر په موبايل به مو هره ورځ خبرې کولې. موږ له يو بل سره مينه شروع کړه او په ګډه مو د واده خوبونه ليدل پيل کړل. هغه ماته وويل چې ته د نړۍ لومړنۍ نجلی يې چې زما زړه ته ښکته شوې، که نه تر ننه ما هيڅ نجلی ته د خپل زړه ادرس نه دی ورکړی او تل مې له زړه لرې ساتلي دي.
ما له ډېره مودې راهيسې آيفون اخيستل غوښتل، مګر اخيستی مې نه شو. د همدې لپاره ما د خپلې زوکړې په ورځ خانته د آيفون ډالۍ کولو پرېکړه وکړه. پرېکړه خو مې وکړه، مګر عملي کول يې ډېر ستونزمن وو. د جېب له خرڅه پيسې سپما کول، اسانه نه وي، د همدې لپاره ما په ډېره سختۍ پيسې جمع کول پيل کړل. ما د دې پيسو راټولولو په اړه هغه هلک ته هم ويلي وو. د همدې لپاره به يې هر وخت هڅولم چې ته يې کولای شې، تر کليزې به يې خامخا پوره کړې.
څرنګه چې ټولې پيسې ما خپله پوره کولای نه شوې؛ نو د پلار مې دا هڅه ډېره خوښه شوه، د همدې لپاره يې زما د کليزې په شپه د آيفون اخيستو لپاره پاتې پيسې زما د کليزې د ډالۍ په توګه راکړې. کله چې زه د کليزې په سهار د

هغه لیدو ته لاړم؛ نو هغه زما لپاره کیک راوړی و. زمونږ پلان دا و چې مونږ به په ګډه آیفون واخلو. د آیفون اخیستو لپاره له تګ وړاندې هغه ماته وویل چې خپلې پیسې ماته راکړه چې له تا ورکې نه شي. ما خپلې پیسې هغه ته ورکړې، د پیسو په اخیستو د هغه سترګې له خوښۍ وځلیدې. د هغه ځلیدونکو سترګو په لیدو زه هم ډېره خوشاله شوم چې دا له ما سره دومره مینه لري چې زما د پیسو په پوره کېدو له ما هم ډېر خوښ دی.
د پیسو له اخیستو وروسته هغه ماته په ټوکو کې وویل چې دا زما شي؟ ما په خندا وویل چې فکر یې هم ونه کړې، ډېرې په سختۍ مې راټولې کړې دي، داسې په اسانه یې ځنګه درکړم. د دې په اورېدو هغه هم زما سره وخندل. کله چې مونږ موبایل پلورنځي ته لاړو؛ نو هغه ماته وویل چې ته موبایل وګوره، زما بټوه په موټر کې پاتې ده، زه هغه راوړم. زه یې په پلورنځي کې پرېښودم او هغه بېرته رانغی. کله چې ما ورته زنګونه وکړل، موبایل یې هم بند و.
ما د یوې شېبې لپاره هم دا فکر نه شو کولای چې هغه له پیسو سره وتښتېد. زه تر ډېر ناوخته هلته په تمه وم. کله چې له څو ساعتونو وروسته هم هغه رانغی؛ نو زه کور ته لاړم. ما په ټوله لاره ژړل، د هغه شمېره بنده وه او زه هیڅ نه پوهېدم. ما د یوې شېبې لپاره هم کوم غلط فکر نه شو کولای، ځکه نه یواځې دا چې زمونږ اړیکه ډېره قوي وه، د هغه اړیکه هم له داسې کورنۍ سره وه چې د بنه والي تر ځنګ، له مالي اړخه هم قوي وو.
کور ته په راتګ به مې چاته څه ویل چې د آیفون پیسې چېرته لاړې، د همدې لپاره پټه خوله خپلې خونې ته لاړم او په ژړا ـ ژړا ویده شوم. کله چې راویښه شوم؛ نو کورنۍ ته مې وویل چې پیسې رانه چېرته لوېدلې وې. کورنۍ مې لږه غوسه وکړه او پوهه یې کړم، مګر وروسته ټوله هېره کړه. مګر ما هېرولی نه شوه چې له ما سره څه وشول. ما پرله پسې زنګونه کول، مګر د هغه شمېره بنده وه.
څو ورځې وروسته مې زړه وکړ او له خپل کالج څخه د هغوی کالج ته ورغلم. هلته مې له نورو هلکانو سره ولاړ ولید. کله مې چې له هغه سره د خبرو کولو هڅه وکړم؛ نو زه یې تېله کړم او له خبرو کولو یې انکار وکړ. ما هغه ته ډېرې زارۍ وکړې چې خیر دی ماته ووایه، څه خبره ده؟ که تا پیسو ته اړتیا درلوده؛

نو غوښتې به دې وې، مګر کم تر کمه له ما سره خو به دې داسې نه کول. هغه په ډېره ترخه لهجه راته وويل چې غوښتې خو مې وې درنه، کله دې راکړې. ما هغه ته وويل چې ما فکر وکړ چې ته ټوکې کوې. هغه وويل چې ښه اوس ته له دې ځایه لاړه شه، په موبایل به خبرې وکړو. ما په ټوله لاره فکر کولو چې هغه څنګه له ما سره داسې کولای شي، هغه خپله ماته سل زره ځل ويلي چې له ما سره مینه لري.

کور ته په راتګ چې کله ما د شپې هغه ته زنګ وکړ؛ نو هغه ماته وويل چې زما پیسو ته اړتیا وه، ځکه له پیسو اخېستو وروسته زه له هغه ځایه لاړم. تا ویل کنه چې که په خوله غوښتې وې، نو تا پیسې راکولې؛ نو اوس یې درنه په خوله غواړم چې زه پیسو ته اړتیا لرم، ماته نورې پیسې راکړه، کله به یې راکړې؟ زه د دې په اورېدو په ژړا شوم. زما د ژړا په اورېدو هغه وويل چې ته څومره وړې یې، په پیسو مرې. خلک په مینه کې له سره تېرېږي، ته پیسې نه شې راکولی. کله چې ما وويل چې ما سره پیسې نشته که نه خامخا مې درکولې؛ نو هغه وويل چې که ما سره اړیکه ساتل غواړې؛ نو ماته پیسې راکوه، که نه زه تاته هیڅ اړتیا نه لرم.

صیب... د دې ټولو خبرو وروسته زه له تا څو پوښتنې کوم، که کېږي راته یې ځواب که، تر څو زما درد لږ راکم شي. ایا هغه هلک هیڅکله له ماسره مینه نه وه کړې؟ که یې نه وه کړې؛ نو خلک له مینې پرته څنګه داسې لویې ـ لویې دعوې کولای شي؟ ایا د هغه هلک په وړاندې زما د مینې هیڅ ارزښت نه و؟ ایا هغه ته زما احساساتو هیڅ مانا نه درلوده؟ زه پوهېږم چې هغه یو لالچي کس دی، مګر بیا هم زما زړه ولې ور پورې تړل شوی دی؟ د هغه له دوکې وروسته اوس هم زما زړه ولې ورسره مینه لري؟ ولې راته یادېږي؟ ولې یې نه شم هېرولی؟

ما د دې ټولو خبرو په اورېدو نجلۍ ته ځواب ورکړ چې د لویو ـ لویو دعوو لپاره مینې ته اړتیا نشته، بلکې ژبې ته اړتیا ده. له هغه هلک سره ژبه وه، د همدې لپاره یې لویې ـ لویې دعوې وکړې. مینه د دعوې نوم نه دی، د عمل نوم دی او عمل هم داسې چې د هیچا په زیان نه وي. هر کس خپل لومړیتوبونه لري، د چا لپاره چې پیسې مهمې وي، د هغه لپاره د نورو

احساسات هیڅ مانا نه لري. ستا زړه له یو دوکه باز او لالچي هلک سره څکه تړل شوی دی چې ستا ژوند له لوړېتوبونو خالي دی. د خپل ژوند لوړېتوبونه وټاکه، د دې به تاته دا ګته ورسي چې کله ستا په لوړېتوبونو او معیارونو څوک پوره ونه خېژي؛ نو هغه به دې له زړه ووځي.

# د پلازې والا نجلی

څو ورځې وړاندې یوې نجلی اړیکه وکړه او ویې پوښتل چې زه واده شوې یم او دوه ماشومان لرم. له مېړه سره مې په کومه خبره له خفګان وروسته، له مور و پلار کره راغلم؛ نو خاوند مې زما له بېرته بوتلو انکار وکړ. اوس له څو میاشتو راهیسې زه له خپلو ماشومانو سره د پلار کور کې اوسېږم. څو میاشتې وړاندې د څه شیانو د پېرودلو لپاره تلم؛ نو کرایې ټکسي مې راوغوښته.

د ټکسي چلوونکی یو ځوان هلک و. زه پټه خوله په ټکسي کې ناسته وم او موبایل مې کارولو؛ نو هلک زما د ښو جامو او موبایل په لیدو وویل چې که بده یې نه منې، یوه پوښتنه وکړم؟ ما ځواب ورکړم چې وپوښته، زه ستونزه نه لرم. موټر چلوونکي په ډار پوښتنه وکړه چې ته همېشه په کرایې ټکسي-کې ځې او که خپله هم موټر چلوې؟ ما هغه ته په ځواب کې وویل چې کور کې موټر شته، مګر دې ورځو کې لږه خفه یم؛ نو ځکه موټر چلول نه غواړم.

شاید هغه هلک سره زما د خفګان د پوښتنې همت نه و، د همدې لپاره یې خبرې وغځولې او پوښتنه یې وکړه چې له کوم ځایه ما راوخېژولې، ته همدلته اوسېږې؟ ما ځواب ورکړ؛ هو همدلته اوسېږم، د کومې پلازې له مخې چې تا زه راپورته کړم، هغه زموږ ده او شاته یې زموږ کور دی. ما دا ټول معلومات په لاشعوري ډول شریک کړل. تر هغه وخته زه نه پوهېدم چې له کوم نا اشنا کس سره د دومره معلوماتو له شریکولو، داسې ستونزه هم پیدا کېږي.

د پلازې د خبرې په اورېدو د هلک سترګې وځلېدې، پوښتنه یې وکړه چې دا ټول دوکانونه او پورته اپارتمانونه هم ستاسې دي؟ ما په موسکا ځواب ورکړم چې په پلازه کې هر څه راځي. تر هغه وخته زما په ذهن کې یوازې دا وو چې دا هلک یوازې د ټکسي چلوونکی دی او خدای خبر چې بیا به مې ورسره خبرې وشي او که نه. مارکېټ ته په رسېدو، کله چې زه د هغه هلک له موټره ښکته کېدم؛ نو هغه ماته وویل چې ته زما شخصي شمېره واخله او کله چې

دې هم موټر چلوونکي ته اړتیا وه؛ نو ماته زنګ کوه. ما د هغه شمېره په خپل موبایل کې ثبت کړه. هغه وخت زه نه پوهېدم چې د کوم پردې د شمېرې په ټېټولو دا ستونزه هم کېدای شي. له شمېرې اخېستو څو ورځې وروسته زه چېرته تلم؛ نو د ټکسي په ځای مې هغه هلک ته زنګ وکړ. هغه چېرته بوخت و، مګر ویې ویل چې پنځلس دقیقې وخت راکه. زه ټول کارونه پرېږدم، درځم.

له پنځلس دقیقو وروسته هغه هلک د ټولو کارونو په پرېښودو، زموږ د کور مخې ته راغی. ځای ته له رسېدو سره سم هغه هلک پوښتنه وکړه چې ته څومره وخت کې بېرته اوزګارېږې؟ ما ځواب ورکړ چې ممکن دوه یا درې ساعته وروسته اوزګارېږم. هغه وویل چې زه همدلته یم. هېڅ چېرته نه ځم، کله چې اوزګاره شوې، ماته زنګ وکړه، بېرته به دې ورسوم.

زه د هغه په دې خبره غلې شوم. له هغې ورځې وروسته، که به زه هر ځای ته تلم، هغه ته مې زنګ کاوه، سمدستي به راورسېد. هره ورځ یو ځای تګ راتګ سره هغه تر ډېره حده له ما سره فري شوی و. یوه ورځ یې له ما پوښتنه وکړه چې تا واده کړی، دوه ماشومان دې دي؛ نو ولې له خپل مور و پلار سره اوسېږې؟ له خپل مېړه سره ولې نه اوسېږې؟ دا چې یو څه اړیکه مو جوړه شوې وه؛ نو ومې ویل چې زه له خپل مېړه په خفګان راغلې یم او هغه مې بېرته نه بوځي.

هغه هلک په کرار ـ کرار لومړی زما درد واورېد او بیا یې یوه ورځ وویل چې زه غواړم له تا سره خبرې وکړم. ما ورته وویل چې وادیه څه ویل غواړې؟ په دې سره هغه په ژړا شو او ویې ویل چې زه له تا سره مینه لرم، هغه کس څومره بدمرغه دی چې خپلو ماشومانو ته د پلار مینه نه ورکوي. زه هاخوا یا دېخوا هلک نه یم، زه غواړم له تا سره واده وکړم. زه غواړم له واده وروسته ستا او ستا د ماشومانو اسره شم.

نجلۍ ویل چې په پیل کې د هغه له دې خبرې ووېرېدم. ما ورته وویل چې ته خپل عمر وګوره او زما وګوره. ته له ما پنځه کلونه کشر یې. ستا کورنۍ به ستا واده د دوه ماشومانو له مور سره ولې کوي؟ هغه نور هم ژړا ته زور ورکړ، ویې ویل چې زه به خپله کورنۍ راضي کړم، که ویې نه منله. بیا هم زه له تا سره

واده کوم. بس ته له خپل مېړه طلاق واخله. ماته یوه موقعه راکه. زه به تېول عمر تاته کوم خفگان در نکړم.

ما د هغه خبره واورېده او ومې ویل چې ما د فکر کولو وخت راکه. صیب تاته خو معلومات شته چې د نجونو زړونه څومره کمزوري وي؟ دا د هلکانو د اوښکو په لیدو له درزېدو لوېږي. له ما سره هم داسې وشول، مگر دا چې زه چوپ شوم او سمدستي مې کوم ځواب ورنکړ؛ نو کله چې هم راسره مخ کېدو په ژړا به شو. زما پښو ته به ولوېد چې زه رښتینی یم، په ما باور وکه.

نجلۍ ویل چې صیب له چا سره مشوره کول خو لرې خبره ده، ما دا ستونزه چاته ویلې هم نه شوه. په ډېرو سوچونو مې ذهن کار پرېښود چې ایا دا هلک ما سره رښتیا هم مینه لري که نه؟ فکر مې وکړ چې له تا سره مشوره وکړم. ته ووایه چې زه څه وکړم؟ دا خبره هم درته کول غواړم چې هغه ډېر وخت په خبرو ـ خبرو کې له پوښتنه کوي چې تاسې دوه خویندې او وروڼه یئ؛ نو په دې شتمنۍ کې ستا څومره برخه ده؟ د پلازې له کرایې تاته څومره برخه رسېږي؟ له واده وروسته به مونږ دا کاروبار وکړو. خکه کوم موټر چې هغه چلوي، د بل چا دی. د هغه په څه خبرو ماته لږ شک رالوېږي، مگر دا چې زما زړه هم ورسره یو ځای شوی دی، د دې لپاره زه سمه نه پوهېږم.

ما له دې نجلۍ وپوښتل چې په دې هلک کې تاته کوم څه ښه ښکاري؟

نجلۍ ځواب راکړ: خبرې، هغه خبرې ډېرې ښې کوي. کا وویل چې یو خو د هلکانو خبرو، نجونې تباه کړې. د چا د خبرو خوښول، کومه لویه خبره نه ده. په دې سره هغې نجلۍ وویل چې هغه زما په پښو کې سر ږدي او ژاړي. ایا کوم دروغجن کس د چا په پښو کې سر کېښودی او ژړلی شي؟ ما ځواب ورکړ چې هغه ستا په پښو کې سر نه ږدي، بلکې د پلازې په پښو کې سر ږدي. هغه چې کله هم تا ویني؛ نو ستا دننه ورته پلازه ښکاري، داسې پلازه چې کرایه یې راځي. په یاد ولره چې په دې وخت کې هیڅوک د چا اسره نه جوړېږي، بلکې په نورو کې خپله اسره لټوي.

هغه نجلۍ پوښتنه وکړه: صیب کرامت خو هم کېدای شي کنه؟ ایا په نړۍ کې ښه خلک نشته؟ ما وویل چې هو، کرامت هم کېدای شي، مگر که له تا پلازه وویستل شي، بیا چې کوم څه کېږي، هغې ته کرامت وایو. که هغه یوازې د

دوه ماشومانو د مور اسره جوړېدل غواړي؛ نو دې ته به کرامت وواېو. ته داسې وکړه چې په راتلونکو ورځو کې په خبرو ـ خبرو کې هغه ته ووایه چې که له تاسره واده وکړم؛ نو مور و پلار مې له شتمنۍ بې برخې کوي. بیا وګوره چې څنګه کرامت کېږي.

نجلی په خندا وویل: که بیا بې هم له ما سره مینه وساتله نو؟ ما خواب ورکړ چې بیا زما د اروا‌پوهنې ټول سندونه زما په وړاندې وسوځوه، زه به هېڅ خفه نه شم. څو ورځې وروسته نجلۍ هلک ته وویل چې زه له خپل میړه طلاق اخېستو او ستا سره واده کولو ته چمتو یم؛ نو هغه هلک دومره خوشاله شو، لکه د هغه لپاره چې د اختر ورځ وي.

د واده خبر تر څنګ نجلۍ هلک ته وویل: ما په کور کې د طلاق او دویم واده خبره کړې ده؛ نو کورنۍ مې راته پاک وویل چې که ته خپله خوښه وکړې؛ نو مور به دې له شتمنۍ عاق کړو. هلک د دې په اورېدو ودار شو. سمدستي یې نجلۍ ته وویل: مور و پلار همداسې وایي، له واده وروسته وګوره، هیڅکله به دې عاق نه کړي. دا چې نجلۍ هغه ازمویلو، نو ویې ویل: نه، زما مور و پلار دي؛ نو د دې لپاره زه پوهېږم. هغوی به د طلاق په وخت او له واده وړاندې ما عاق کړي، تر څو که څوک ما سره واده کوي؛ نو یوازې له ما او زما له ماشومانو سره به یې کوي. زه به هم د هغوی په خبره هیڅ اعتراض ونکړم.

هلک د نجلۍ د دې خبرې په اورېدو خفه شو، له لږ ځنډ وروسته یې ځان را جوړ کړ او نجلۍ ته یې وویل: ماته توپیر نه کوي، زه له تا سره واده کول غواړم، له شتمنۍ سره دې نه. ما له تا سره مینه کړې ده، مینه کوم او همېشه به یې کوم. زه له تا سره یم. د دې په ویلو هغه هلک لاړ. نجلۍ له ما سره اړیکه ونیوله او په ژړا یې وویل: صیب هغه هلک رښتینی دی، ما هسې پرې شک وکړ. نه مه خفه کېږه، مګر دلته ستا اروا‌پوهنه ناکامه شوه. اړینه نه ده چې خلک دې له پیسو سره مینه وکړي، ځینې خلک له زړه هم مینه کوي. ما ستا درناوی کاوه او کوم به یې. دا خبره ماته هیڅ توپیر نه کوي چې زما په قضیه کې تاسې د هغه هلک په روحیاتو پوه نه شوئ.

ما په خوښۍ د هغې نجلۍ ټولې خبرې اورېدې. کله چې د هغې خبرې ختمې شوې؛ نو ما ورته ووېل: ناداني نجلۍ! ته په کومه زمانه کې اوسېږې؟ دا د مطلب پرستۍ دور دی، دلته له مطلب پرته هېڅوک هم د چا کېږي نه. ته د هغه هلک په خبرو کې راغلې یې، اوس خو یې ویلې دي، څه خو یې کړي نه دي کنه. لږې ورځې په تمه پاتې شه، هغه هلک چې ستا په لور به څغلېدو، بل لور ته وځغلي. په څو ورځو کې به هغه بوخت شي او داسې به بوخت شي چې ورک به شي.
نجلۍ غلې شوه. یوه میاشت وروسته یې اړیکه ونیوله او ویې ویل چې صیب ما وبښه. ستا اروایوهنې وګټله او زما مینې وبایلله. هغه هلک خو لومړی زه له پامه وغورځولم، بیا یې ویل چې زه بوخت یم او څو ورځې وروسته یې راته ووېل چې مور و پلار یې ورته کوژدن کړې ده، اوس زه د بل چا یم. په ژړا کې هغې نجلۍ پوښتنه وکړه: صیب هغه هلک خو ډېرې لوبې ـ لویې دعوې کړې وې، هغه څنګه بدل شو، هغه خو له ما سره عشق کاوه، عشق څه شو؟
ما هغه پوه کړه چې خان مه غولوه، هغه له تا سره نه، له پلازې سره عشق درلود، کومه چې ورته ستا دننه ښکارېده. ستا سره پلازه نه شته؛ نو د هغه دننه عشق هم نشته. خپله فکر وکړه، یو څوک چې د کرایي موټر په چلولو ژوند کوي، څوک چې د څان په ښه نه وي راغلی، د بل په ښه به څنګه راشي؟ نن هغه هلک ته ووایه چې زما مور و پلار راضي شول، پلازه راکوي راته. ستا هغه هلک به هم بېرته پیدا شي، مګر یوه خبره تل په یاد ولره چې هغه به تر هغه وخته ستا وي، تر څو چې ستا پلازه خرڅېږ‌ه او ونه خوري.

# څواکمنه نجلۍ

زما د خوښې نجلۍ کیسه
دا چې زما لیکنې د ریښتینو پېښو په بنسټ وي، د همدې لپاره په دې کې مونډونکې نجونې کمزورې وي. څکه زموږ په ټولنه کې هلک وي که نجلۍ، د هغوی ذهني ودې او ذهني څواک ته پام نه کېږي، مګر زموږ ټولنه د نجونو په برخه کې ډېره شانه ده. دوی ته کاش چا ویلي چې له ذهني څواک پرته ژوند کول څومره ستونزمن وي. تاسې خو پوهېږئ چې زه هسې کیسې نه لیکم، مګر کله ـ کله مې ډېر زړه کېږي چې یوه کیسه ولیکم، داسې کیسه چې د اتل رول یې نجلۍ ادا کړي؛ داسې اتله نجلۍ چې په ذهني ډول څواکمنه وي، څوک چې د ښه ژوند تېرولو لپاره کومې دروغجنې اړیکې ته اړتیا ونلري. زه غواړم چې د دې نجلۍ په کردار کې د خپلې خوښې ټول رنګونه ځای کړم، هغه رنګونه چې زما په ذهن کې جوړېږي.
مګر له نېکه مرغه له داسې کولو وړاندې چې کله زه د خپله ذهن پلټنه کوم؛ نو د یوې څواکمنې نجلۍ کیسه مومم چې په فکر کولو یې ډېر ارام شم او ډاډه شم چې نجونې هم څواکمنې کېدای شي. هغوی له دوکې خوړلو وروسته، د دوکه کوونکې سره اړیکه هم پرې کولای شي. نن زه له تاسې سره هغه ریښتیني کیسه شریکول غواړم. زموږ د ګروپ یو ملګری چې په نهم ټولګي کې و؛ نو مشره خور یې واده شوه. د لسم ټولګي له ازموینو وروسته په درې میاشتنی رخصتیو کې چې کله هغه د رخصتیو تېرولو لپاره، لومړی ځل د خپلې واده شوې خور کور ته لاړ؛ نو هلته یې د خپلې خور له نندرور سره چې د ده همزولې وه، لیدل وشول. دې هلک له اردو ادب سره ډېره علاقه درلوده، له نېکه مرغه د خور نندرور یې هم ادب پېژندونکې وه. کله چې بیا څو ورځو پورې د ادب په اړه په بېلابېلو موضوعاتو دواړو بحث او خبرې وکړې؛ نو دوی وانګېرل چې موږ سره ډېر زیات هم فکره یو. دا یو ډول فکر د دواړو تر منځ د مینې باعث شو او دواړه د یو بل په مینه کې ښکېل شول. مینه ړانده کېدای شي، مګر د هغو ګرد چاپېر خلک په هیڅ ډول ړانده نه وي. کله چې ټوله کورنۍ د هغوی په مینه پوه شول؛ نو کوم مشر ورنه ووېل چې داسې به مو

نوم بد شي، که د ماشومانو فکر سره يو شان دی او دواړه راضي؛ نو د دواړو لورو خلک به د کوژدې دود ترسره کړي.
کله چې هغه هلک له رخصتيو تېرولو وروسته د خور له کوره بېرته راغی؛ نو کور ته له رسېدو وړاندې يې د مينې کيسې کور ته رسېدلې وې. کورنی يې پوه کړ چې گوره اوس ستا عمر کم دی، خدای پوهېږي چې نن ستا فکر داسې دی، سبا به څنگه وي. وروسته به له ستونزو سره مخ شې. دومره اوږده کوژده ساتل اسانه نه دي، په ځانگړي ډول په داسې نازکه اړيکه کې چې خور هم وي. مگر هلک د هيڅ خبرې اورېدو ته چمتو نه و. ټولو ته يې وويل چې په دې نجلی کې ټول هغه څه دي چې زه يې غواړم. که ژر مې کوژده وشي، نو فکر به مې بل لور ته اوړي او د زړه له تله به د خپل ژوند جوړولو لپاره هڅه وکړم. د هغه کورنی ډېره هڅه وکړه، مگر کله چې هلک په خپل ضد ولاړ پاتې شو؛ نو کورنی يې هم خبره ومنله او د خور له نندرور سره يې کوژدن وشوه.
په مينه له کوژدې کولو وروسته به هغه هلک هر وخت د خپلې محبوبې په اړه موږ ته ويل چې هغه څومره ساده، څومره ښتينې او څومره ښکلې ده. څنگه دوی يو ناول څو - څو ځل لولي او له لوستو وروسته يې په هره برخه بحث کوي. ما وليدل چې هغه به هر وخت هلکانو ته د مينې په اړه لکچرې ورکولې چې مينه څه ته وايي؟ څنگه ترلاسه کېږي؟ دا هر زړه ته نه ښکته کېږي، د ښکته کېدو لپاره ځينې ځانگړي زړونه ټاکي او کوم زړه کې چې د ذرې په اندازه هم هوس وي، دا د هغه زړه دروازه نه ټکوي. د دې له ترلاسه کولو وړاندې بايد زړه پاک شي په آهونو او اوښکو ومينځل شي. د دې مينې له دې زړه راښکونکو خبرو اورېدو وروسته چې به هلکانو خپلو زړونو ته کتل؛ نو سخت به خفه شول، ځکه هغوی دومره پاک نه وو چې هلته مينه راښکته شي.
د هغه د دې خبرو په اورېدو - اورېدو وخت تېرېده او دومره چټک تېر شو چې هغه له فراغت وروسته د ماسټرۍ لپاره د ښار يوه نامتو پوهنتون ته ورسېد. د ماسټرۍ په ټولگي کې يې د يوې ډېرې ښايسته او هوښيارې نجلی سره ليدل وشول. هغې نه يوازې دا چې له اردو ادب سره مينه درلوده، بلکې غږ او لهجه

يې هم بې مثاله وه او بې مثاله خو بايد واى، ځکه هغه د اردو د يوه مشهور اديب نږدې خپلوانو څخه وه.
د خپلې ټولګيوالې سره په خبرو ـ خبرو هغه احساس کړه چې ټولګيواله يې له کوژدنې په سلګونه ځل غوره ده. له دې فکر وروسته هلک له خپلې کوژدنې لرې کېدل پيل کړل. هماغه هلک چې مخکې به د خپلې مينې سره له خبرو کولو پرته د شپې خوب نه ورتلو، ځکه هغه باور درلود چې په مينه کې مين د خپلې معشوقې سره له خبرو کولو پرته سکون نه شي موندلى؛ هماغه اوس له خپلې مينې يعنې کوژدنې څخه د مصروفيت په بهانه تېښتېده او په ارادي ډول يې د هغې خوروال پيل کړل، تر څو هغه ترې تنګه او اړيکه ورسره پرې کړي.
دې هلک خپلې ټولګيوالې ته د کوژدن له خبرې پرته د مينې اظهار وکړ. ټولګيوالې يې هم مينه ومنله او د دواړو د مينې کيسه پيل شوه. موږ د ګروپ ټولو ملګرو دا هلک پوه کړ چې ګوره ته سم کار نه کوې، خپلې کوژدنې ته له دوکې ورکولو سره ـ سره، خپلې ټولګيوالې ته هم دوکه ورکوې. ته بايد خپلې ټولګيوالې ته ووايې چې تا له وړاندې کوژده کړې ده، ځکه که وروسته وپوهېږي چې زړه يې مات نه شي. مګر هغه د دې خبرو منلو لپاره تيار نه و. هغه به هره ورځ له خپلې کوژدنې لرې او ټولګيوالې ته نږدې کېده.
هماغه هلک چې يو وخت يې ژبه د خپلې کوژدنې په ستاينه نه ستړې کېده، اوس يې په هغې کې عيبونه پلټل او موږ ته ويل. يو ځل يې ماته وويل چې زما د کوژدنې لهجه د کليوالو په څېر ده. په هغې کې هغه خبره نه شته، کومه چې زما په ټولګيواله کې ده؛ ځکه خو زما کورنۍ سمه خبره کوله، ما د هغوى د خبرې په نه منلو تېروتنه وکړه. زه د هغه د خبرو په اورېدو حيرانېدمه چې په دې کس څه شوي دي. کومه نوې او ښه نجلۍ يې څه وموندله چې له لومړۍ نجلۍ يې سترګې واړولې. زموږ د مينې په ولې چې دومره لويې ـ لويې خبرې يې کولې، څه وشول. کله چې د دواړو ماسترۍ بشپړ شوه؛ نو ټولګيوالې يې ورته وويل چې زموږ په کور کې زما د واده خبرې کېږي. اوس يې وخت رسېدلى چې ته خپله کورنۍ زموږ کور ته راولېږې. دلته په راتګ هغه ګېر شو، لومړى خو يې ځنډوله، پرېږده چې دنده واخلم، پرېږده چې دا وشي، هغه وشي؛ بيا به کور کې خبرې وکړم. په ځنډولو ـ ځنډولو چې کله له کاله خبره

واوښته: نو هغې نجلۍ په لږ تېنگار وویل چې اوس ستا دنده هم شوې ده، زه خو د واده خبره نه کوم، نه دې کورنۍ د کوژدې لپاره زموږ کور ته راولېږه؛ که نه زه نور په تمه نه پاتې کېږم.

هغه هلک په خپل کور کې له خبرو کولو ډارېده؛ ځکه په کومه خوله به یې خپلې کورنۍ ته ویل چې زه د خپلې خور له نندرور سره واده نه شم کولای. زما کوژده له هغې سره ماته کړئ، زه غواړم بل چېرته کوژده وکړم.

که څه هم هغه له کورنۍ سره خبرې نه شوای کولای، مگر بله لاره یې هم نه درلوده. کله یې چې کور کې خبرې وکړې؛ نو غوغا جوړه شوه. ټول پوه کړ چې ځنگه داسې امکان لري، د خور د کور خیال وساته، دومره کلونه وروسته ځنگه کوژده ماتولی شې؛ مگر هغه په خپله خبره ټینگ ودرېد چې دا کوژده باید ماته شي. د کوژدې ماتولو د اصلي علت ویلو په ځای چې زه بل ځای کوژده کول غواړم، هغه په کور کې د نجلۍ عیبونه قطار کړل چې زه فکر کوم زموږ ژوند سره نه تېرېږي. کله چې دا خبره د هغه د خور خسرگنۍ ته ورسېده؛ نو هلته یې هم غوغا جوړه کړه. د هغه د اوښې په گډون یې د خور ټوله خسرگنۍ یو لوړ ته شوه؛ اوښې یې په ښکاره ورته وویل چې که ته زما د خور احساساتو ته په نه پام، د دومره کلونو کوژده ماتوې؛ نو زه هم ستا خور پرېږدم. اړیکې توکې نه وي چې کله دې زړه وي جوړې یې کړې او چې زړه دې نه وي، ماتې یې کړې. د لور د کور ورانېدو خبره چې راغله؛ نو د هلک ټوله کورنۍ هم د خپلې لور خواته شوه. د هلک کورنۍ ورته ښکاره وویل چې که تا دا کوژده ماته کړه؛ نو موږ به دې له کوره وباسو.

دا چې دې هلک ته تل خپله مینه گرانه وه؛ د دې لپاره یې له کوره د وتلو پروا هم ونکړه. اصل ستونزه دا وه چې هغه ځنگه خپله نوې مینه نوره په تمه پرېږدي. یوه ورځ یې همت وکړ او خپلې نوې مینې ته یې زنگ وکړ او ویې ویل: گوره دومره انتظار دې کړی، لږ نور انتظار هم وکړه، زه خپله کورنۍ راضي کوم، ځنگه چې رضا شول، سمدستي مو کور ته درځو. د هغه د دې خبرې په اورېدو نجلۍ وویل: زه هیڅ نه پوهېږم چې ته ولې داسې کوې. په موږ کې هیڅ کمی نشته، خلک زموږ سره خپلوي کول ویاړ گڼي. زه نه پوهېږم چې اخېر ستا کورنۍ په کومه خبره زموږ کور ته له راتگ انکار کوي. مخکې

تا ویل چې زه باید دنده واخلم، اوس دې دنده هم واخېسته؛ نو ستونزه څه ده؟ هغه هلك په ډار ـ ډار ورته وویل: له تا سره له لیدو وراندې زما د خپلې خور له نندرور سره کوژدن شوې وه، د هغې ماتولو کې لږ څه ستونزه ده، څنگه چې ماته شوه او په کور کې دا خبره لږه سړه شوه؛ نو زه به خپله کورنۍ ستاسې کور ته در ولېږم. نجلۍ تړې وپوښتل: څه؟.... کله دې کوژده وشوه؟... ولې دې له وړاندې ماته نه و ویلي؟ هلك یې د پوهولو لپاره هاخوا دېخوا دلیلونه راوړل؛ نو نجلۍ یې خبرې ور پرې کړې چې خبره بل خوا مه وړه، ما چې کومه پوښتنه وکړه، یوازې د هغې ځواب راکه، کله چې ته له ما سره مخ شوې، له هغې وړاندې ستا له بل چا سره کوژده شوې وه؟ هغه له هو ویلو وروسته د وضاحت هڅه کوله؛ نو نجلۍ ورته وویل:

گوره! ما ته نه پېژندې چې څه ډول انسان یې... ما له تا سره خبرې وکړې، ښه راته ښکاره شوې، تا د مینې اظهار وکړ، ما فکر وکړ چې ته رښتینی یې، ما ومنلې، ما فکر کاوه چې زه تا پېژنم. له دې پوهېدو وروسته زه ستا په مینه کې ښکېل شوم؛ مگر نن تا زه دومره وړاندې راوستم، اوس راته هغه څه وایې چې باید د اړیکې په پیل کې دې راته ویلي وای؛ نو زه له تا هیڅ پوښتنه نه کوم؛ ځکه زه له خانه دا پوښتم چې ایا زه په رښتیا تا پېژنم؟

نه، زه تا نه پېژنم. ما چې کوم انسان پېژنده، ما چې له چا سره مینه درلوده، په ما هغه ما باور درلود. اوس چې باور مات شو؛ نو څنگه وړاندې لاړ شو. تا به فکر کړی وي چې زه کومه کمزورې نجلۍ یم، په خپله مینه کې به مې ښکېله کړې او دومره وړاندې به مې یوسې چې که وغواړم هم بېرته شاته نه شم تللی. کوم ځای کې چې ما ستا په پېژندو کې تېروتنه کړې، هملته ته هم زما په پېژندو کې تېروتی یې. زه یوه ځواکمنه نجلۍ یم. که زه د چا په مینه کې هر څومره ښکېله شم، څنگه چې پوه پشم چې دویم کس له ما سره مخلص نه دی، ماته دوکه راکوي؛ زه له هماغه ځایه د بېرته تاوېدو ځواك لرم. یاد ولره، ما ته نه، تا زه له لاسه ورکړې یم. ته څه یې؟ یوه دوکه؟ زه به په ټول ژوند کې د یوې دوکې په له لاسه ورکولو خفه نه شم. زما له لاسه ورکولو وروسته که ته خوشاله یې که خفه، له دې هر څه ازاد یې. له نن وروسته ما سره اړیکه ونه کړې.

زما خبره خو واوره، زه هماغه یم چې تا ورسره د ټول ژوند یو خای ټېرولو ژمنې کړې وې، د چا په اړه چې تا ویل، ته زما لپاره په ټوله نړۍ کې له مور و پلار وروسته ډېر محترم یې، ځکه چې زه له تا سره مینه لرم... څواکمنې نجلۍ د هغه له دې خبرو اورېدو پرته اړیکه پرې کړه.
بیا ما ولیدل چې دې هلک له هغې نجلۍ سره د اړیکې هره ممکنه هڅه وکړه، مګر هغې څواکمنې نجلۍ شاته ونه کتل. ما دا هلک په ژړا، چغو وهلو او د ځان په خوړولو ولید، موږ ټول ګروپ د خپل ملګري په غم له زړه خفه وو، مګر موږ په دې هم افسوس کاوه چې هغه د یوې مخلصې نجلۍ زړه مات کړی و.
د دې خبرې کلونه تېر شوي دي، هغه هلک له ناچارۍ له خپلې کوژدنې سره واده وکړ. باید یې کړی وای، ځکه د خور نندرور یې وه. که بل څوک وه، ممکن وخته یې پرېښې وای. که څه هم چې اوس د هغه بچي دي او په ښکاره په خپل ژوند کې بوخت دی، مګر هغه څواکمنه نجلۍ اوس هم د هغه د درد ټکی دی. د هغې نجلۍ په اړه غږېدونکي کسان د هغه د ملګرو له فهرسته وځي.

## د نجونو تشناب

ایا هلکان هم عزت لري؟
یو ځل زه په دوبۍ میټرو کې له تشنابه راووتم؛ نو هلته د څلورو بېلابېلو هېوادونو نجونو خپل سینګار جوړولو. کله چې ما هغوی او هغوې زه ولیدم؛ نو موږ ټولو په ګډه په زوره چغې کړې. دلته باید زه دا یادونه وکړم چې زما یوازې چغه د هغو څلورو نجونو له چغو لوړه وه. سره د دې چې زه نارینه وم، ولې مې دومره لوړه چغه وکړه، دا به زه وروسته تاسې ته ووایم. لومړی پاتې خبرې واورئ.
له چغو وروسته، له دې وړاندې چې ما څه ویلي وای، هغو نجونو په توند لهجه له ما وپوښتل چې ته په ښځینه تشناب کې څه کوې؟ د یوې شیبې لپاره خو زما له پښو ځمکه وتښتېده... ما په زړه کې فکر وکړ چې دا ځنګه کېدای شي؛ که زه څومره هم په بېړه کې اوسم، ښځینه تشناب ته د راتللو تېروتنه څنګه کولای شم؟ بیا مې فکر وکړ چې زه انسان یم، له ما هم تېروتنه کېدای

شي ، کېدای شي چې په وارخطایي کې مې فکر شوی نه وي. بیا مې لـه خانـه سره وویل چې نه، داسې نه شي کېدای، زه داسې تېروتنه نه شم کولای، زه پـه لاشعوري توګه هم د نجونو تشناب ته نه شم راتللی.
د اروپاېهنې لوستل ډېرې ګنې لري، يوه ګنه يې دا هم ده چې انسان د دار پـه ځای کې هم نه دارېږي. ما سمدستي ځان راټول کړ او پـه خـومره قـوت چې هغوی له ما پوښتنه کړې وه، په هماغومره قوت ما هم ورته وويل چې لـه مـا د پوښتنې په ځای تاسې ماته ووايئ چې تاسې د نارينه په تشناب کې څه کوئ؟
زما په پوښتنه موږ ټول راووتو، تر څو وګـورو چې دا نارينـه تشناب دی کـه ښځينه. که تاسې کله دوبی ته تللي يئ؛ نو متوجه شوي به يئ چې پـه دوبـی کې په هر ميټرو يعنې د ريل ګاړي سټېشن کـې د پوليسـو مرکـز هـم دی. پـه تشناب کې زموږ د چغو په اورېدو، پوليس هم دروازې ته راغلي وو چې څـه ستونزه ده.
زما قسمت ښه و چې دا ښځينه تشناب نه و، تېروتنه له ما نه، لـه نجونـو شـوې وه. له غوسې ډکې نجونې د خپلې پښېمانتيا د لرې کولو لپاره په خندا شوې او ټولو په ګډه له ما ښښنه وغوښته. پوليسو ته هم چې هلته حيران ولاړ وو، نجونو ټوله کيسه وکړه چې څه ستونزه وه. کله چې پوليسـو د نجونـو لـه خـولې ټولـه کيسه واورېده؛ نو د هغوی غوسـه هـم سـړه شـوه او «شـع مسـخره» يعنې څـه رشخند دی، په ويلو سره په خندا بېرته لاړل.
د هغو په خندا بېرته تګ سره ما ډېر افسوس وکړ. ما په زړه کې وويـل چـې دا رشخند نه و. فرض کړئ کـه لـه مـا دا تېروتنـه شـوې وه، يعنې کـه زه ښـځينه تشناب ته تللی وم؛ نو ايا پوليسو به زه هم زما په تېروتنه پـه خـندا پرېښـې وم؟ هېڅکله هم نه. ځکه هغوی به زما د جنسيت او پاسپورټ پـه بنسـټ قضـاوت کاوه. که ما څومره هم ورته زاري کړې وای، ښښنې مې غوښـتې وای؛ دوی بـه زه هيڅکله نه وم ښښلی.
ځينې خلک فکر کوي چې زه يوازې د ښځو په حق کې ليکل کوم، مګر زه د ځان په اړه داسې فکر نه کوم، ځکه زه يوازې د حق په اړه ليکـل کـوم. کـه دا حق د ښځو وي که د نارينه. زه له جنسيت سره نه، لـه حـق ليکلـو سره علاقـه لرم. زه د اروپا ماډل نه، بلکې د مدينې ماډل منم. چېرته چې ښښنه يا انصاف د

جنسیت په لیدو نه ورکول کېږي. مجرم که نر وي که ښځه، تور وي که سپین. پاسپورټ یې شین رنګ وي یا اسماني، له دې هیڅ توپیر نه کوي.
اوس راځو زما د چغې په لور. د کومې په اړه چې ما ورانديې وېلي وو چې وروسته به درته ووایم. ما ولې له نجونو هم لوړه چغه وکړه؟ نجونو خو د دې لپاره چغې کړې چې زه یو نر یم او هغوی له یو نر څخه د خپل عزت خرابېدو وېره درلوده؛ مګر زما چغه یوازې یوه چغه نه وه، بلکې پوره وېره و او د دې وېر لامل دا و چې یوازې ښځینه عزت نه لري، نارینه یې هم لري. دا چې زه یو عزتمند کس یم او د عزتمند انسان تر ټولو لویه وېره د بدنامۍ وېره وي. هغه نه غواړي چې عزت یې خراب شي. خپله فکر وکړئ، کوم کس چې په ټولنه کې عزتمند وي، هغه به د خان بې عزته کېدل څنګه ولیدلی شي.
فرض کړئ؛ کومه تېروتنه چې نجونو د هلکانو تشناب ته په راتلو کړې وه، که همدا تېروتنه له ما شوې وه، زه په تېروتنه ښځینه تشناب ته تللی وم؛ نو ایا هغو نجونو او پولیسو به زه په خندا بښلی وم؟ ځئ وبه منو چې زه بښل کېدم؛ مګر که همدا خبر رسنیو ته تللی و؛ نو څه به شوي وو؟
دلته د دوبۍ تر ټولو مشهورې ورځپاڼې د خبر چاپولو طریقه له عجیبه تعصبه ډکه وي. د بېلګې په ډول دوی خبر داسې جوړوي چې یو پاکستاني بانک منیجر له یوې فلیپیني نجلۍ سره په موټر کې په ناسم چلند ونیول شو. یو هندي انجینر هلک د یوې روسي نجلۍ کور ته په زور ننوتلو هڅې سره ونیول شو. یو بنګله دېشي کلینډر په پارک کې د یوې سریلانکایي نجلۍ په څورولو ونیول شو.
د خبرونو جوړوونکي د دومره لویې ورځپاڼې د پلورلو لپاره په کې له تعصبه ډکه داسې لوی ـ لوی سرټکي جوړوي چې له خدایه پناه وغواړئ. بیا د افسوس خبره دا ده چې ټول هېواد له فکر کولو پرته د خبرونو په لوستو پاکستاني، هندي یا بنګله دېشي نارینه ته بد وایي. په داسې حال کې چې مجرم خو د هر هېواد کېدای شي. که دوی وغواړي نو خبرونه داسې هم جوړېږي چې یو مجرم د جرم کولو په هڅه کې ونیول شو. مګر په داسې خبر کې خو بیا مساله نه وي او پلورل کېږي هم نه. خبر پرېږدئ یې، د خبرې د

بشپړولو لپاره وړاندې ځو. زه به کومه بله ورځ په تفصیل سره ووایم چې خبر څنګه جوړېږي.
خپله فکر وکړئ چې په ورځپاڼو کې د داسې سرټکو جوړوونکو به زما د پېښې په اړه کوم ډول سرټکي جوړولو. یو پاکستانی ارواپوه ښځینه تشناب ته ننوتی و او نجونو په چغو کولو سره د پېښې پر وخت ونیوه. بس همدا خبر به و او ټول هېواد به په پټو سترګو نه یواځې باور کاوه، بلکې زما، اروایپوهنې او پاکستان په خلاف به یې خبرې جوړول پیل کړي وای. نارینه داسې وي. په خانګړې ډول پاکستاني نارینه. دا اروایپوهان هم داسې وي. خبر جوړوونکي خبرونه جوړوي او هېروي یې، مګر لوستونکي یې تر کلونو پورې یاد ساتي.
په دې له پوهېدو پرته چې د هغوی جوړ کړي خبرونه په ټولنه څه ډول اغېز کوي. کله که کومه عامه نجلۍ خپلې کورنۍ ته له پاکستاني کس سره د واده کولو اظهار کوي؛ نو مور و پلار به یې په اخبار کې زما د چاپ شوي خبر په حواله ویل چې ګوره لورې پاکستاني نارینه داسې وي. یا که کوم هلک خپل مور و پلار ته وایي چې زه غواړم اروایپوهنه ولولم؛ نو د هغه مور و پلار به چا چې له کلونو راهیسې په ورځپاڼه کې چاپ شوی خبر په ذهن کې ساتلی وي؛ د همدې خبر په حواله به ورته وایي چې زویه اروایپوهنه مه لوله، د هغې په لوستو د انسان ذهن خرابېږي او د نجونو تشناب ته ننوځي. بیا به ورته زما پېښه اوروي چې یو ځل په یوه لویه ورځپاڼه کې د یو اروایپوه په اړه څه ډول خبر خپور شوی و. په دې له پوهېدو پرته چې هغه وخت حقیقت څه و.
په هغه ورځ زه پوه شوم چې زما د کلونو عزت دومره خام دی چې زما یوه تېروتنه، یوه بې پامي یا د ورځپاڼې یو خبر یې تباه کولای شي. په بېرته راتګ کې ما فکر کاوه چې ایا ماته دا توپیر کوي چې که زما په اړه کوم ناسم خبر چاپ شي؛ نو خلک به زما په اړه څه فکر کوي؟ ممکن نه. مګر کوم خلک چې له ما سره مینه کوي، د هغوی فکر خو به خامخا راسره وي.
په هغه ورځ ماښام ما خپلې خور ته زنګ وکړ او ترې ومې پوښتل چې فرض کړه،که کومه ورځ سهار پاځېږې او د چای څښلو پر وخت ورځپاڼه لولې او په هغې کې ستا د ورور خلاف د سرټکي په ډول کوم بد خبر چاپ شوی وي؛ نو ته به څه وکړې؟ هغې پوښتنه وکړه چې خیر خو به وي.؟ ما په موسک

خواب ورکړي چې خبر دی، د کوم څه پوښتنه چې کوم، د هغې خواب راکه. خور مې خواب راکړ چې زه به دا خبر داسې ولولم لکه کوم عام خبر چې وي او د نورو خبرونو له ليدو وروسته به د ورځپاڼې پاڼه واړوم.
ما پوښتنه وکړه که په تلويزيون زما خلاف کوم خبر روان وي نو؟ په دې سره خور مې خواب راکړو چې زه به له پوره خبر اورېدو پرته چينل بدل کړم. له دې وړاندې چې ما نور څه پوښتلي وای، خور مې وويل: گوره وروره! ما له تا سره وخت تېر کړی دی، زه تا پېژنم، زه ستا په اړه د پوهېدو لپاره ورځپاڼې يا تلويزيون ته اړتيا نه لرم. که کومه ورخ کومه ورځپاڼه، تلويزيون يا کوم کس سرتا کوم بد زما په وړاندې ووايي؛ نو منل خو يې لرې خبره ده، زه به يې له اورېدو هم انکار وکړم.
ما وويل: ښه وروستی خبره! دا خو په ما ستا باور شو، که رښتيا هم زه په ژوند کې کومه تېروتنه وکړم نو؟ په دې سره مې خور خواب راکړي: نو څه؟ موږ ټول تېروتنې کوو. زه به تا وبښم، زما په وړاندې به ستا په عزت او مينه کې هيڅ کمی رانشي. د خور د خبرو په اورېدو زه دومره خوشاله شوم چې تاسې ته يې ويلی نه شم.
له خور وروسته ما همدا درې پوښتنې په نوبت ـ نوبت له مور، پلار او ورونو خويندو وروسته له ټولو هغو خلکو وکړې چې زما په زړه کې ځای لري. د الفاظو ټاکنه مختلفه وه، مگر نږ دې ټول د خور په څېر خوابونه وو. د ټولو د خوابونو په اورېدو زه له زړه خوشاله شوم چې زه څومره نېکمرغه يم چې زما مالک زه په داسې قيمتي خلکو نازولی يم. کوم چې نه يوازې له ما سره غير مشروطه مينه کوي، بلکې زما د تېروتنو ښنلو طاقت هم لري. هغه شپه چې ما په دې خبره د شکر سجده وکړه؛ نو ټول جاينماز زما په اوښکو لوند شو. باران يوازې په پسرلي کې نه کېږي، زما په سترگو هم د پسرلي موسم رانښکته کېږي.